5920

دامیر کروړ سور ی دولس سوه پنځو سم تلین
۱۵٤ ـ ۱٤۰٤ ه ق

# د ژبښوونې مسائل

لیکوال

محمد صدیق روهی

۱۳۶۱

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

5920

# دژبنوونی مسائلی

لیکوال

څېړندوی محمدصدیق روهی

خپرونکی

دافغانستان دعلومو اکاډیمی

دژبو اوادبیاتو علمی اوتحقیقی مرکز

پښتو ټولنه

د زیری جریده

۱۳۶۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

په (۱۳۴۸) هل * کال کی مـی(دژب ښوونی مسالی ) تر عنوا ن لاندی یوه رساله لیکلی وه او پـــه‌هغه کې میدهماغه وخت پرتعلیمی نصاب په تیره دلوست پرکتا بونو انتقاد کړی و . دا رساله چی تر اوسه پوری د افغانستا ن ددمو کراتیک جمهوریت د علومو داکاډ-یمی په‌کتا بخانه کی خوندی وه دیوه علمی کمیسیون په سپار ښتنه ماته راوسپار له شوه چی د مطلب‌داساسی تکو په پام کی نیولوسره نوموړی رساله داوسنیو علمـــــی‌اړتیاو سره عیاره کړم او له‌سره‌یی ولیکم.

د(ژب ښوونی مسالی ) په سر یزه‌کی درسالی دلیکلو انگیزه‌داسی ښودل شوی وه : ((تر اوســــه‌پوری د ژب ښوونی په‌باب زموږ په هیواد کی ښایسته زیاتی مقالی اورسالی لیکل شوی یا ترجمه شوی دی مگر دغسی لیکنی غالبا دافغا نستان له عینی شرایطو سره اړخ نه لگوی ... د دی‌دپاره چی دژب ښوونی اصول زموږ دمحیط پـــه شرایطو کی تطبیق شی دلته یـــولومړنی کوشش شوی دی‌چی په هیواد کی‌دژب ښوونی پر اوسنیولارو رڼا واچوله شی ، نیمگړ تیاوی

* ـ هل د (هجری لمریز) لنډه‌بڼه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی‌په گوته شی ،او له هغی‌وروسته‌دحل لاری وپلټل شی . د دی لیکنی بنیادی هدف په افغانستان کی د ژب ښوونی مسالو ته یوه لنـــډه کتنه اود هغو مشکلا تواوپرابلمونوڅیړنه ده چی زمونږ ښوو نکی او زده کوونکی ورسره مخامخ دی .که‌څه‌هم دارساله دژب ښوونی دپر ـ نسیپونو په رڼا کی لیکل شوی ده‌لیکن اصلی مطلب د ژب‌ښوو نی د اصو لو څیړ نه او گروپږ نه‌نه ده.سره له دی دژبی د څرنگوا لی پــه باره کی په لنډ ډول څینی عمـــده‌ټکی وړاندی شوی دی چی ښایی د ژب ښوونی د متخصصانو دپاره‌هم داستفادی وړ وی . ))

په دی اثر کی‌هم‌پور تنی روحیه په‌نظر کی نیول شوی ده . سره له دی په دی‌رساله‌کی‌د مضمـــو ن اومحتوا په لحاظ څینی مهم تغییرا ت او تعدیلات مینځ ته راغلی دی :

لومړی دا چی د (د ی)کلمه په(وو) بدله شوی ده ـ یعنی پـــــر تعلیمی نصاب چی کوم انتقادو نـــه‌شوی دی هغه ټول اوس په ماضی پوری اړه لری .د (۱۳۵۷)کال‌دثور پر تمین انقلاب د ښوو نی او روزنی زوړ فیوډالی سیستم چی دیـــــوه‌مفتخور استثمار وونکی اقلیت گټی ی ی‌ساتلی د تل دپاره دتاریخ‌کندی‌ته وغور ځاوه . نور نو ددی‌ا مکان نشته چی د ښوو نی او روز نـــی‌زوړ او تاریخ وهلی سیستم بیر ته په‌پښو ودریږی خو په عین زما ن‌کی باید دغه اصل هم له یاده ونه باسو چی د ټولنیز انقلاب په بریا لیتوب سره پخوانی ارزښتو نـــه ، زړی روبنایی موسسی او مفکور ی‌په اتوماتیك ډول او بی له کـــو م ځنډ او خنډه صحنه نه خوشی کوی‌حتی دا هم باید وویل شی چی د فرهنگ دمو کرا تیك ، سپیڅلی اووده کوونکی ار زښتو نه نه‌یواز ی داچی له‌مینځه نه‌ځی بلکه د هغو دانکشاف او پایښت دپـــــاره لاره آوار یږی . له دی امله ،په ښوونه اوروزنه‌کی دډیالکتیکی‌اړیکو پیژندنه داړولو او څرخولودپاره دمناسبی‌شیبی ټاکنه ، او له ټولنیزی سا ـ یکالوجی څخه سمه او منطقی گټه‌اخیستنه د تعلیمی تگلا ری اوتر ـ بیتی سترا تیژی دپاره خاصــــــ‌ارزښت لری .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه دا چې د ښو هدفو نــــودرلودل هر و خت د ښو امکا ناتوله درلودلو سره متراد ف نه وي.لەدې امله داو لتيو نو دانتخاب مساله‌را ـ مينځ ته کيږي . په دې برخه کې چې‌هر څومره زياته پاملرنه وشي په‌پای کې به يې گټوري نتيجې تـرلاسه شي . په تعليمي‌نصا ب کې ډېر ځله پيښيږي چې د اوليــــت‌ټاکنه زيات غور او سوچ غواړي.

دمثال په‌توگه فرضا دلوست په‌يوه‌کتاب کې ځينې داسې مطا لب راغلي دي چې د فيوډا ليزم ارز ښتونه‌منعکسوي اودفزيك په يوه درسي کتاب کې دنونسمې پيړ ی قوانين چې‌دنن ور ځې په تناسـب له موږه لو يد لي او په سا ينس‌او ټکنا لوجې کې په دردنه خــوري ، راغلي دي ، ښه ، نو اوس بايدله‌ځان سره پريکړه وکړو چې د کوم کتاب نوې کتنه او خپرونه دلومړ يتوب حق لري . البته که امکــــان ولري درسي کتابونه او تعليمـــــې‌نصاب بايد ډېر ژر نوي شي خوله بده‌مرغه دهدفونو او هدفونو تەدرسيدو دامکاناتو ترمينځ هميشه‌يو واټن پروت وي .

انکشاف هميشه تگلا ره غوا ړي‌اود تگلا رې د ټاکنې دپاره دمعيار ـ ونو او او ليتو نو مساله رامينځ‌ته کيږي.

ښايي يو څوك پوښتنه وکړ ي‌چې دا يادونه دژب ښوونې‌له‌مسالو سره څومره اړه لري ؟ رښتيا خبره‌داده چې لاتر اوسه زمونږ دلوست ځينې کتابونه په هماغه پخوانـــې‌حال پاتې دي او په دې رساله کــې ځينې تخنيکي انتقاد ونه د (ماضي‌بعيد) ښه نه‌لري. ياپه بله ژبه ،له همدې رسالې څخه لاتر اوسه پــــه‌ځينو تطبيقي مواردو کې گټــــــــه اخيستل کيدې شي .

دريمه دا چې په دې پامفليټ کې‌راغلي مطالب، دليکونکي په عقيده يوتر بله اوږ گانيك پيوستون لري‌دژب ښوو نې دمسالو د څيړ لو په ترڅ کې بايد د ژبې ماهيت ، دزده‌کړې سايکالوجي ، اود درس‌محتوا (دهغې د حياتي ار ښښت له نظره )په‌علمي توگه تشريح شي . کله‌چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه تدریس کیږی باید ژبه‌وپیژ ندل شی . لیکن مجرده ژبه وجود نه لری – یوازی مشخصی ژبـــی‌شته لکه پښتو، دری ، ازبیـــکی ، روسی ، انگریزی او داسی نوری .له‌دی امله هر وخت چی د ژبی پـر ښوونه باندی خبری کوو بایـــدمشخصه ژبه‌او دهغی مشخصا ت دپاملرنی په مرکز کی پرا ته وی .دزده کړی دسایکا لوجی‌پرنسیپونه عمومی دی لیکن تراوسه پــــوری‌هیچیر ته دزده کـړ ی داسی سا– یکالوجی نشته چی د ټولو دپاره دمنلو وړ وی . سره له‌دی ،په دی برخه‌کی ډیر کار شوی دی‌اودعلمی‌تجربو په اساس ځینی ارزښتنا ك پرنسیپونه لاسس ته را غلی دی چی‌په‌خپله موقع به تشریح شی .

د درسس محتوا باید سر بیره‌پر تخنیکی اړخونو د ټولنیزو ارز – ښتونو له‌نظره وڅیړل شی.دزده کړی سایکالو جی موږ ته دارانبیی چی څنگه یو مطلب په آسانه طر یقه ، په ارزانه توگه ، په لږوخت ، او موثر ډول زده کیدی شی او په‌دی‌پروسه کی څه ډول میکانیزم په کار لویږی . لیکن دا یوازی تخنیکی‌اړخ دی .

د درسی کتاب لیکونکی باید په‌دی هم وپوهیږی چی څه ډول‌مطا – لب په زده کولو ار ځیږی. دلته‌د درسی موادو حیاتی ارزښت تــــر څیړنی لاندی نیول کیږی .

په دی اساسس ، د رسالی‌ډیزاین‌داسی جوړ شوی دی چی لومړی د ژبی په‌باره کی ، بیا د زده کړی ،دارواپوهنی په‌برخه کی اوورپسی دتدریسس د هدفونو او میتود په‌باب‌معلومات ورکاندی کیږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لو سړی بر خه

## ژبه

**دژبې پیژندنه :**

د ژبې پر موضوع باندې د بېلا بېلو پوهنو له لارې او مختلفـــو جهاتو څخه بحث کېدی شي .

سمیو تیك ، بشر پیژندنه (انتروپالوژي) ، ټولنپو هنه (سوسیو — لوژي) ، فیزیو لوژي (د غړو ددندوپوهنه ) ،او ژبپو هنه د ژبـــې د موضوع بیل بیل اړخونه مطا لعه‌کوي . په دې وروستیو وختو کې‌د سیما نتیك فلسفي (چې عمومـــې‌سیمانتیك یې هم بولي ) د ژبې‌پـه باره کې ژورې څیړنې پیل‌کړې‌دي.اوس به‌په لنډه توګه ژبه‌د مختلفو پوهنو او فلسفي له‌نظره وڅیړو :

دبشر پیژندنې (انترو پالوژ ي)له‌نظره ژبه‌د ثقافت د انتقال عراده ده او له‌کلتور سره څورا نژ د ې‌اړیکې لري . د څینو بشر پیژند — ونکو په پوهه ، ژبه او ثقافت‌دیوې‌سکې د وه مخونه دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر ملیت خپلی کلتوری ځانگړ تیاوی د ژبی په‌وسیله ځرگند وی‌او له‌همدی امله له یوی‌ژبی څخه‌وبلی‌ژبی ته دادبی آثارو اړونه (ترجمه) یو سخت اوستونزه ور کار دی. په‌یو زیات شمیر مواردو کی د یوه ملیت متلونه ، ټوکی ټکالی ،طنزونه‌او کنایی ، ادبی ښکلا وی او نزا ـ کتونه په لفظی صنایعو کی انعکاس‌مومی چی په بله ژبه کی بیا هـغه خوند او رنگ نه لری. سر بیره‌پردی ، په ژبه کی‌د یوه قوم ټولنیزه سایکا لوجی (احساسات، هیجانات‌خویونه ، مفکوری ، انگیز ی ، ارـ مانونه ، ارزښتونه ، او نـــور ی‌ځانگړ تیاوی )هم په یوه یابله بڼـه ځان ځرگند وی . دمثال په‌توگه ،کله چی د (هوپی) قبیلی یومشـــر خپل زوی له‌ناوړه کار څخه منـع‌کوی نو ور ته وایی : (داد هوپـــی لارنه ده!) په‌داسی مواردو کـــــی‌جرمنی مشر وایی : ((زویه ، پـــر لیکه سم ځه!)) او پښتون سپین ږیری داسی وایی : ((گوره زویه، چی شمله می ټیټه نه‌کـــړی )) اوداسی نور .

دټولنپو هنی له نظره ، ژبه یوه‌ټولنیزه پدیده ده چی د گډ کار او تولید په‌ترڅ کی د ټولنیزواړ تیاوودپوره کولو په منظور مینځ ته راغلی ده . دټولنپوه په عقیده ،ژبه‌دټولنی‌محصول ده او د ژبی موجود یت له ټولنی څخه‌دباندی نشی تصـــورکیدی . البته په اوسنی عصر کی ، دبشر حقوق او انسانی عوا طـــف‌هیچاته د دی اجازه نه ور کوی چی مثلا یوماشوم دی د تجربی په‌غرض‌له‌ټولنی څخه بیل کړی شی . اماپه لرغونی تاریخ‌کی مونږ‌داسی‌مثالونه‌پیدا کولی‌شو چی ځینی‌ماشومان‌دی له‌خپلی ټولنی څخه په تجر ید اوانزوا محکوم شوی وی .دمصر د فرعو نانو له‌وخت نه رانیولـــی دسکا ټلیـنډ د (شپږم) جیمز تـــر وخته پوری داسی وا قعی ډیـــری‌لیدل شوی دی . په اوسنی عصـــر کی دوی مهمی پیښی چی د ژ بی‌پرمساله باندی هم رڼا اچوی دیا ـ دولو وړ دی .

لومړی پیښه: په‌کـــال (۱۹۲۰)کی‌د هند په کومه سیمه کی یـــوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنځي‌د کور په شاو خوا کی کالی‌مینځل او دوی وړی لوښی یی‌آزادی پراینښی وی چی په ځنگله کی لوبی‌وکړی . په دی وخت کی یو لیوه راغلی دی او دواړه نجونی یی خپل‌غار ته وړی دی . ډیره موده ورو ـ سته دواړه نجونی دلیوه‌په‌غار کی‌وموندل شوی . یوه نجلی دوه کلنه او بله اته کلنه وه . کوچنی نجلی‌چی (امیلا) نومیده پس له څومیاـ شتو مړه شوه او دو همه نجلـــی(کمیلا) تر ۱۹۲۹ پوری ژوندی وه د (کمیلا) دژوند جریان چی دتو لنپوهانو له خواپه دقیق ډول ثبـت شوی دی داځر گندوی چی‌د نو موړی نجلی په‌سلوك کی هیڅ ډول انسانی خصو صیت او وصف نـه‌لیدل کیده . (کمیلا) به‌په‌څلوربولی تله .د لیوه په‌شان آواز ونه‌به‌یی‌له‌خولی ایستل مگر خبری یی نشوی کولی او نه د بل چا په خبروپو هیده . نوموړی نجلی چی تـــر روزنی لاندی ونیول شوه داجتماعی‌ژوند له نوبو شرایطو سره یی‌پوره توافق ونکړ . دی فقط یو څو ډیر ی‌ساده جملی زده کړی . دکالیـــو اغوستلو اود خوړلو د عادت په‌زده‌کولو یی چندانی مو فقیت په برخه نشو .

دلته دا پوښتنه مینځ ته را ځی.ددی ماشوم د دماغ په جوړ ښت‌کی چی کومه نیمگړ تیا هم نه وه ولی‌یی سمی خبری نشوی کولی ، او ولی‌یی دانسان په شان سلوك نـه‌کاوه ؟ داسی ښکار ی چی گویا د انسانی شعور دلر لو دپاره یوازی‌دسالم دماغ در لودل کفایت نه‌کوی بلکه انسان باید په ټولنه کی ژوندوکړی څودنورو انسانانو په شا ن فکرو کړی اود دوی په‌شان خبری‌وکړی. اجتماعی شعور اوژبه لـــه ټولنی څخه دباندی وجودنه لری.

دا پیښه د ودی دسایکا لو جی‌یوه بله مهمه مساله هم توضیـــح کوی او هغه داچی د زده کړی‌دپاره‌دسن څرنگوالی هم باید په نظرکی ونیول شی . دځینو کارو د زده کولو دپاره یو ټاکلی مونگــــــك (سن) زیات اهمیت لری او که‌دهغه‌کار زده کړه ناوخته شروع شـــی مثبته نتیجه نه ور کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دی پیښنی څخه بله مهمــــــه نتیجه لاس ته راځی او هغه داچی ژبه غریزه نه ده بلکه له ټولنی څخه زده کیږی .

دوهمه پیښه : دا وا قعه دامریکی په متحدو ایالتو نو کی پیښه شوی ده . یوه امریکایی نجلی چی پــــه اصطلاح ، په نامشروع ډول دنیاته راغلی وه د شپږو میاشتو په عمر داجتماعی دودونو او قیودو په جرم په یوه کوټه کی بندی شوه او هلتــه یی تر پنځو کلو پوری له انســانی نړی نه لیری دانزوا په توگه ژوند کاوه . د دی دپاره چی له لوږی ا و تندی څخه مړه نشی یو څه به دخو راك او څښاك په نامه ور کول کیده. داله نورو انسانانو نه جلا ساتــل شوی وه او له هیچا سره یی تماس نه در لود. په ۱۹۳۸ کــــی د دی((مجرم)) ماشوم د موجودیت له راز پرده پور ته شوه . ټولنپو هانو اوارواپوهانو د خپلو علمی څیړنو پـــه منظور ددغه ماشوم ژوند ته پاملرنه وکړه . پوهانو پر نومو ړی نجلی باندی د (انه Ana ) نـــــوم کیښود . (انه ) خبری نشوی کولی دخارویو په شان به په څلور بو لـــو گرځیده ، اود خپلو همنو عانــــو (یعنی نورو انسا نانو ) په مقابــل کی یی هیڅ ډول عاطفی او احسا ـ ساتی عکس العمل نه ښوده .

(انه) چی تر (۱۹٤۲) کال پوری ژوندی وه په دی بریالی شو ه چی ژبه او انسانی سلوك زده کړی .

له دغو پور تنیو مثالونو څخه داواقعیت په ښه توگه څرگند یږی چی ژبه یوه ټولنیزه پدیــــــده ده او داجتماعی مناسبا تو په ترڅ کی زده کیږی . همدا رنگه ددغو پیښو پــه رڼاکی دټولنیز شعور د پیدایښت ، منبع ، او ودی په هکله یو شمیـــــر پوښتنو ته هم ځوا بونه تهیه شول اودا ثابته شوه چی انسانی شعو رله اجتماعی گډ ژوند څخه دباند ی تشکل نشی کولی . البته پخــــواعمومی ذهنیت داسی وچی دانسان شعـــــــور یــــــوازی یـــــــوه فزیو لوژ یکی مو ضـــــــوع ده چی د عمر له زیا تښت سره مستقیم اړیکی لری او په ټولنیزو مناسباتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوری اړه نه‌لری . دمثال په‌توگه ، په‌لرغونو اساطیرو کی یو شمیـــر
. ماشومان چی دمرغانو یالیوانو لـه‌خواروزل شوی د ی‌هغوی دپـــوره
عقل او فراست خاوندان وو ، لـه‌ټولنی څخه د هغوی لیری والی د
دوی د ټولنیز شعور د انکشا ف‌په‌مورد کی هیڅ ډول اغیزه نه درلوده
اماتر خو واقعیتونو ثابته کړه چی‌دغه ډول ذهنیت له حقایقو ســـره
سمون نه‌خوری اود افسانه جوړ وونکو د خیال زیږ نده دی. په‌نورـ
مال حالت کی یعنی کله چی ماشوم‌په ټولنه کی لوییږی د ده شعـــور
(دژبی د زده کړی په گډون ) لـــه‌فزیکی ودی سره مستقیم اړ یکـی
لری. یا په ساده ژبه څومره چـی‌ماشوم لوییږی هماغومره یی پوهه
زیاتیږی . لیکن کله‌ماشوم له ټولنی‌څخه لیری وروزل شی او یواز ی
خوراك او څښاك ورکړ شی‌اجتما عی شعور یی انکشاف نه کـــوی .
څرنگه چی ژبه د فکر دانتقال‌عراده‌ده نو ژبه هم نشنی استعما لولی .

**ژبه او فلسفه :**

ژبه خو په اصل کی له معنـــــالرونکو آوازونو څخه جوړه شو ی
ده . دا چی معنا څه شی ده ، او څنگه یوانسان کولی شی خپــــل
مقصد په الفاظو کی راو نغا ړی‌اومقابل شخص ته‌یی ور انتقال کړ ی
یوه فلسفی موضوع ده . مونږ تـــراوسه په دقیق‌ډول نه‌پوهیږو چـی
ماغزه یو فکر څنگه عکاسی کوی اومعناله یوه شخص نه‌بل ته‌په څــــه
ترتیب او میکا نیزم سره انتقـــال‌کوی . منطق چی د فلسفی څانگه‌ده
هماغه د(نطق) له ریښی سره اړ ه‌لری، د عر بی ژبی د (لغت) لفظ هم
دیو نانی له(لوگوس ) څخه اخیستل‌شوی دی . (لوگوس ) او لوژی د
(لوژیك ـ منطق) په‌ریښه پـــوری‌تړلی دی .

که څه هم د منطق او نطق تر مینځ له پخوا وختو څخه یوه‌منطقی
رابطه موجوده وه خو په شلمه‌پیړی‌کی یوشمیر فیلسو فانو دژبی پـر
تحلیل ډیر زور واچاوه . نن ور ځ‌داکثرو بورژوا فیلسو فانو په نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه د فلسفي اساسي موضوع‌ده‌او یوزیات شمیر فلسفي مکتبو نه د ژبې د تحلیل پر محور را څرخیږي‌د دی کار عمده علت دادی چې د ساینس او تکنالو جي دبې سار ي برمختګ په‌نتیجه کې یو شمیـــر بوزژ وا ایډیالو جیستانو ته داسي‌ذهنیت پیدا شو چې ګویانور نو د فلسفي نقش او ار زښت پای ته‌رسیدلی دی .که کومه موضوع د ساینس له خوا حل نشي فلسفه‌یې هم نشي حل کولی . د(نیوپاز- یتیویزم) له‌نظره ، فلسفه بایدخپله‌عنعنوی وظیفه پریږدی او دځان د پاره بله نوی وظیفه وټاکي . د دې‌فلسفي پلویان وایي چې‌فلسفه بـه هیڅکله اساسي پوښتنو ته د ځاوړ او قنا عت بخښنو نکي ځــواب ورنشي کړی ځکه هیڅوك دا خبره‌اثبات ته نشي رسولی.چې جها ن قدیم دی که حادث ، محدوددی که نامحدود ، په نهایت کې انکشا ف کوی اوکه د فساد خواته درومـــی،شعور مخکی دی که ماده، اوداسی نور . د دوی په عقیده ،انسان‌نشي‌کولی د علم او تجربی له مخې دغو پوښتنو ته ځواب ور کړی او لازمه‌نه‌ده چې مونږ پر نه‌حل کیدونکو مسایلو باندی توقف‌وکړو . (نیو پازیتیو یستیان) توصیه کوی چـــې فلسفه باید هغه نظریي او پــــر نسبیونه په ژوره توګه تحلیل کړی چې ساینس پوهان یې‌ورته‌وړاندی‌کوی او په دې تحلیل کې ژبه تر هرڅه لومړی او اساسي رول‌لوبوی‌د.فلسفي دنقش په نفی کولو سره (نیوپاز یتیویستیان) هڅه کوی چې‌کار ګره طبقه او زیار ایستو نکی خلك له تیوریکي وسلي څخه بـــې‌برخې کړی . د دوی د فلسفي پــــه ویاله کې چې کومې او به رو ا نی‌دی په‌نـ‌هایت کې دامپر یالیزم‌ژر- نده څرخوي .

**سیمیو تیك** ( semiotic ) :سیمیو تیك د نښو دسیستم مقا - یسوی څیړنی ته ویل کیږی . په‌سیمیو تیك کې له ساده نښـــــو جوړونی ( signalisation ) څخـــه‌نیولی تر طبیعي او علمي ژبو پوری ټول سیستمونه مطالعه کیږی . د سیمیو تیك علم په درو برخوویشل شوی دی : (۱) نحو (سنتکس )چې د نښو د سیستم داخلي جوړ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنست (بی له دی چی وظیفه یی په نظر کی ونیوله شی ) تر څیړ نی لاندی نیسی ، (۲) سیما نتیکس‌چی د معنا د څر ګند ولو دوسیلی‌په توګه دنښو پرسیستم باندی بحث‌کوی او (۳) پـرا ګما تیکس چـی د نښو د سیستم ( sign system )اود هغو داستعما لوونکو ترمینـځ اړیکی په نظر کی نیسی . نحوداسی‌علم دی چی په‌یوه ټاکلی ژبه کی له کلمو څخه د جملو او عبار تونو د جوړولو بیلګی (نمونی ) مطالعـــه کوی . سیما نتیك هغی پوهنی تـه‌ویل کیږی چی د کلمو او نــورو ژبنیو شکلونو پر معنا او معنو ی‌تغییرو نو باندی بحث کوی . پدی وروستیو وختو کی سیما نتیك د (عمومی سیما نتیك) ترعنوان‌لاندی دیوه فلسفی مکتب بڼه غوره‌کړی‌ده د(عمومی سیما نتیك) موسســــ (کور زیبسکی ) وایی چی سیما نتیك نه‌په ټوله معنا فلسفه ده ،نه سایکالو جی ، او نه منطق . دا یوه‌نوی موضوع ده چی د خلکوترمینځ اړیکی مطالعه کوی او دانسان د عصبی سیستم داغیز ناکی او مو ـ ثری استفا دی دپاره اسا نتیاوی برابروی . (عمومی سیما نتیك)چی اوسمن یی دامریکی په متحدو ایا لتونو کی زیات عمومیت او نفـوذ پیدا کړی دی په حقیقت‌کی د ذهنی‌ایډیا لیزم یوه څانګه ده چـــی د انسان او عینی واقعیت ترمینـــځ‌رابطه په غیر علمی توګه شرح‌کوی (عمومی سیما نتیك) ادعا کوی چی‌شیان په ټوله معنا نه‌پیژندل‌کیږی او ژبه نشی کولی چی مفا هیم په‌سمه توګه افاده کړی . د دی‌نظر یی پلویان وایی چی د جګړو او نړی والو بحرا نونو د مینځ ته را تلو اصلی علت دادی چی اولسو نه اوطبقی دیوبل په‌ژبه نه سره‌پوهیږی. که صحیح تفا هم مینځ ته راشی‌نوستو نزی او لانجی به حل شی . د (عمومی سیما نتیك) پلویان ژبی‌ته خاص اهمیت ورکوی او زیـــار باسی چی طبقاتی تضادو نه د(سوءتفاهم) مرحلی ته رابنکته کړی .

یعنی د دوی په عقیده د طبقاتی‌تضادونو علت دادی چی استثمار ـ ګرونکی پانګه وال او کار ګره طبقه‌دیو او بل په مطلب نه سره پو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیری . په داسی حال کی چی داخبره بالکل بی اساسه او غیرعلمی ده .

دعلمی نړی لیدله نظره دا خبره‌اثبات ته رسیدلی ده ترڅو پوری چی د تولید پروسا یلو خصو صی‌مالکیت اود فرد له خوا د فـــــرد استثمار پای ته نه‌وی رسیدلـــی‌انتا گونیستی تضـــــــاد و نـــه نشی حل کیدی . د (عمومی سیما نتیك) پلویان فکر کوی چی د ژبی ښخه موثره استفاده اود هغی‌ما هرانه استعمال د ټولو ستونزو د حل کلی ده په داسی حال کی چی‌ژبه په دی برخه کی یواز ی یـــو فرعی نقشس لری . دپکتیا د خوست‌خلك په دغه خا ص مورد کی یوښه متل لری او وایی : ((په جار جارمی ښمر نشی خو می گیده مـــړه نشی)) یعنی په جار او قر بان‌ویلوسره وږی گیډه نه مړیږی او پرابلم نه‌حل کیږی .

د ((منطقی پاز یتهویزم)) پلویان‌او همدا رنگه د «نیوپاز یتهو یـــزم» زیات شمیر نور پیروان ادعا کوی‌چی د ساینس په خلاف ، فلسفه‌د ترکیب (سنتز) په بر خه‌کی مرسته‌نشی کولی اود هغی وظیفه یواز ی تحلیلی ده . دا تحلیل په عمده‌توگه‌ژبنی تحلیل دی او سیما نتیکی‌بڼه لری . د دوی په نظر ، فلسفه نوی‌معلومات نشی وړاندی کولـــی او له‌ترکیب ښخه (چی د علمی تجربی‌زیږنده دی ) کار نشی اخیستلی . په دی ترتیب گوړو چی په معاصره‌بورژ وا نړی کی دساینس فلسفه پر ژبه او ژبنی تحلیل باندی تکیه‌کوی .

د تحلیلی فلسفی پلویان چـــی‌زیاتره یی د امریکی په متحدوایا ـــ لتونو ، برتانیه ، سکا نډینـــاوی‌هیوادو ، فنلینډ ، استرالیا ، اتر ـــ یشس اود لویدیځی اروپا په نورو هیوادو کی پر میتودو لوژ یـــکی ښیړنو بوخت دی د فلسفی مسا یلو په تحلیل کی د ژبی‌نقش‌اسا ـــ سی بولی . دوی د معر فتـــــــی(اپیستیمو لوژیکی ) مسایلـــو د ښیړلو پر ځای دژبی د تحلیل‌وسیلی‌او مشخصی بڼی پلټی . په تحلیلی فلسفه کی د ننه دوه ډوله تمایلات‌لیدل کیږی : (۱) ښینی زیار باسی چی د یوه ټاکلی منطقی جوړ ښت‌له‌موازینو سره سم مصنو عی ((بیلگه یی model )) ژبی جوړ ی‌کړی اود فور مول په‌بڼه یی راولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(په دې ډله کې منطقي امپريسيستان نوي پراگما تيستان ، او مستقل اناليستان هم شامل دي . ) (۲) ځيني نور د اوسنيو طبيعي ژبو تاريخ مطالعه کوي او ژبني فلسفه پرمخ بيايي .

د دې پور تنيو يادو نو ځينو مقصد دادی چې ژبه د فلسفې ، سايکالوجي ، انترو پالوجي ، فيزيو لوجي ، سوسيالوجي ، ژبپوهنې ، پيدا گوژی ، او نورو علومو له خوا دمختلفو هدفونو دپاره مطالعه کيږي . ادبيات هم له ژبې ځنې زياته استفاده کوي .

څرنگه چې ژبه له ادب سره ډيره نږدې رابطه لري او ځيني کسان پر دغو دواړو موضوعگانو باندې د مترادفو کلمو په توگه بحث کوي نو ځکه دلته لازمه گڼله کيږي چې د ژبې او ادب تر مينځ رابطه څه ناڅه وڅيړله شي .

**ژبه او ادب :**

ځيني پوهان ادبيات ((ژبني هنر)) بولي . د دې خبرې يو معنا داده چې ژبه دادب ميډيم او د څرگندولو ذريعه ده . هماغسې چې موسيقي د آهنگو نو ، نقاشي د رنگونو ، او نڅا د حرکتونو په ذريعه ځان څرگند وي ادب د ژبې په واسطه تبلور پيدا کوي . اما د دې خبرې بله معنا داده چې د ژبې الفاظ د آهنگو نو ، رنگونو ، حر - کتونو ، او د پلاستيك هنر د موادو په نسبت زيات فعال دي او کله کله د ((وسيلې )) له سرحد نه په هاخوا اوړي او د هدف بڼه غوره کوي . د ژبې ټول الفاظ بېطر فه (نيو ټرال) او بې اثره نه دي . ځيني الفا ظ جادويي دي ، يو پس منظر يا پرداسس لري ، دانسان پر احساسا تو لوبې کوي ، له هغه ځنې نذرانه او حتی قر باني غواړي . کيدی شي چې په ځينو مواردو کې دې رنگونه او حر کتو نه هم سمبو - لياك بڼه غوره کړي ليکن په هيڅ صورت د لفظ مقام او مرتبې ته نه رسيږي .

دلته زمونږ اصلي موضوع دلو مړي خبرې پر محور را څرخيږي يعنې دا چې ادب ژبه نه ده خو له ژبې ځنې ديوې وسيلې په توگه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار اخلی . هماغسی چی یو لا یق‌ار کتیکت (معمار ) دیوی ښکلی‌او پر تمینی ماڼی د ودانولو د پاره له‌ښښتو ، تیږو او نورو موادو څخه کار اخلی شاعر ، ډرا ماتیست ، اوادیب هم د ژبی له الفاظو او کلماتو څخه د ښکلی ادبی اثر د تخلیق دپاره استفاده کوی . طبعا معمـــار زیار باسی چی دماڼی دښکلا دپاره‌ډیر ښکلی ، ظریف ، او قیمتـــی مواد استعمال کړی . ادیب هم د خپل اثر دښکو للـو د پـاره زړه‌ـ وړونکی او تسخیر وو نکی‌الفا ظانتخابوی . الفا ظ باید دمضمو ن سره متنا سب وی . په ادبی ژبه کی‌الفاظو ته داسی تاب ور کول کیږی چی دژوند او تحرك سپر غی تری‌پورته شی . له یوی خوا ادبی کلمی دیوه مرموز شپول (هاله)په واسطه‌احاطه شوی وی او له بلی خوا په داسی قرینه کی استعما لیږی چـی‌که ممکنه وی بایدځو اړخیزی معناـ وی او ابعاد پیداکړی . یو چا بــه‌ویل : «دځمکنی توت هغه دا نه چی په شیریخ (آیسس کریم) کـــــی‌استعما لیږی له هغی دانی سره په خپل خوند کی ډیر توپیر لری چی‌په جلا توگه خوړل کیږی » په هغو ادبی آثارو کی چی اوسس کلا سیك‌یعنی لومړی در جه او نه زړیدو ــ نکی آثار بلل کیږی ژبه ډیر عمده‌نقش لری . په دغو آثارو کی یو زیات شمیر یی پر فولکـــلو ر اوافسانو باندی بنا شوی دی خو د ژبی په قدرت یی خپل عمر اوږ دکړی دی . سره له دی ، دا خبره باید داسی تفسیر نشی چی گو یاشکل له مضمون نه مخکی دی . دا څرگنده ده چی مضمون د شکـــل‌نهاکو نکی دی او فور مالیزم هیـــڅ کله پر ریالیزم باندی تفوق او برلاسی نشی در لودی خو په عیـــن زمان کی باید شکل ( په عمده توگه‌دیوه ادبی اثر ژبی ) ته لږه بهـــا ور نکړه شی . ادبی ژبه له عادی‌او دورځنی محا و ری له ژبی سره پوره او جوت توپیر لری . دادبی‌ژبی مرتبه دافهام او تفهیم نه لوړه ده . ور ځنی عادی ژبه فقط د یواو بل‌د پوهولو او را پوهولو دپـــاره پکار یږی خوادبی ژبه د یوه فنکاردذهن زیږ نده ده اود یوی متـــاع حیثیت پیدا کوی .

سره له دی ، بنایی دا خبره به‌عقل ته ډیره نژدی وی که ووایوچی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعادي ژبي او ادبي ژبي ترمينـــځ توپير دنوعيت په لحاظ نه دی بلکه د درجي په لحاظ دی . دمثال په‌توګه ، مونږ کولی شو چی‌یوه‌ساده جمله په مختلفو عبارتونو افاده‌کړوچی البته پر اوریدو نکو بانــــدی تولی جملی یو راز اغیزه نه لری .دالاندی جملی و ګوری ع .

(۱) احمد مړ شو . (۲) احمدله‌فانی نړی نه سترګی پټی کړی .

(۳) احمد په حق ورسید .

(٤) احمد وفات شو . (٥) احمدپه‌ابدی خوب ویده شو . (٦) احمد له دنیا نه رخصت شو .

(۷) احمد په ابدی سفر ولاړ بیانه‌راځی . (۸) احمد له دنیا نه کډه وکړه . (۹) احمد له‌دنیا نه تیرشو.(۱۰) احمد له دارا لفنانــه دارالبقا ته ولاړ .... او داسی نور .

دا هم باید ووایو که‌یوه جمـــله‌هر څو مره رنګینه او په زړه پوری وی باید دحال له مقتضا سره سمه‌وویله شی او که بالعکس بی ځایه راوړخته ، او په نامنا سبه غـــــاړه(لحن) وویله شی نه یوازی دا چـــی خپل ار زښت له لاسه ور کوی‌بلکه‌دملنډو بڼه هم غوره کولی‌شــــی . ادبی ژبه ، لکه مخکی مو چی‌وویل‌له کلتور اوفرهنګ سره ډیرې نژدی اړیکی لری په داسی حال کی چی‌فور مالیزه شوی ژبی یاپه بـــــل عبارت علمی ژبی تر ممکنی اندازی‌پوری د یوه ټاکلی فرهنګ له‌اغیزی څخه خلاصی او لیری دی .

**دژبی دپیدایښت په‌باب فرضیې:** دکلتوری بشر پیژندو نکو له څیړنو او ګرویږنو څخه څرګند ه شوی ده‌چی هره ټولنه ځانته یوه ژبه لری . هره ټولنه که څه همد تمدن په ډیره‌ابتدایی مرحله کی وی دیو او بـــل دپوهولو دپاره له ژبی څخه استفاده‌کوی . حتی ځینی انترو پالو جستان په دی برخه کی یوه افراطی نظریـــه‌وړاندی کوی او وایی چی دافادی د قوت او کیفیت له مخی دنړی هیڅ‌ژبه پرهغه بله ژبه تفوق نه‌لری.هره ژبه د دی جوګه ده چی دویونکـــــی‌مقصود په ښه توګه افاده کړی‌اوله دی امله دنړی‌ټولی ژبی‌سره‌برابری‌او انډولی دی . خواکثر ژبپو هان‌او ټولنپو هان له دی نظر سره مخالف‌دی . ددوی په‌عقیده ، احتمال لر ی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې یو ملیون کاله مخکې به انسانانو ژبه درلوده خو که له دې تاریخ نــه لامخکې ولاړ شو تاریخي اسناد او پاتې شونې د ژبې دموجودیــــت د اثبات په برخه کې له مونږ سره مرسته نشي کولی .

دژبې دپیدا ینبست په باب عمو مادوه ډوله نظریې لیدل کیږي . لومړی نظریه په دې ظاهري وا قعیت اوقشري پدیده باندې ولاړه ده چې ټولـــې بشري ټولنې ژبې لري او ژبه دبشرله پیدا ینبست سره یو ځای مینــــځ ته راغلې ده . ځینې وایي چې ژبـــه غریزه ده خو دا نظریه هیڅ علمي بنسټ نه لري . غریزه فطري (ذاتي) او جها نشموله (عمومي ) وي ، په داسې حال کې چې ژبه له ټولنـــې څخه زده کیږي . هر ماشوم د خپلې مربوطې ټولنې ژبه زده کوي . کـــه ژبه غریزه وای نو باید ټولو انسا ــ نانو یوه ژبه در لودی او بې له استاذاو ښوو نکې څخه یې په فطري توگه خبرې کولی شوی . د دوو هند ی نجونو (امیلا) او (کمیلا) داستــا ن دغې نظریې ته خاتمه ورکړه . پـــه همدې کټیگورۍ کې ځینې پو ها ن په دې عقیده دي چې ژبه یوه آسماني عطیه ده او لومړی انسان ته ورو ــ ښودل شوه . خود دغو پوهانو پـــه مینځ کې څوفرقې پیدا شوې . ځینو به وېل چې ژبه انسانانو نه ده جوړه کړې بلکې له پخوا نه موجوده وه چې د لومړي انسان دپیدا ینبست انتظاریې بوسست اوده ته ور زده کړې شوه . نور وایي چې ابوا لبشر پخپله دټولوشیانو دپاره ــ چې د ده په مخکـــې تیریدل ــ نومونه او الفاظ وضع کړل یوې فرقې عقیده در لوده چې دغــــه ژبه نیمگړې وه او وروسته بشپړه شوه په داسې حال کې چې د یوې بلې فرقې په عقیده دژبې ټول بنسټونه او جوړ ښتونه په لومړي سر کـــې بشپړ شوي وو . دغو نظریو ورو ستنه یو څه تغییر وکړ . په اوه لسمه میلادي پیړۍ کې د (Polygenesis) نظریه ډیره عامه شوه . دا نظریـــه وایي چې ژبې په مختلفو سیمو کې، په بیلو بیلو وختو ، او مختلفو نژاد ــ ونو کې جلا جلا مینځ ته راغلې دي . سره له دې چې د دې نظر پیروانو هغه فرضیه رد کړه چې ویل به یې لو مړی ژبه (Lingua Adamica) عبراني وه خو په عمومي ډول دوی د ژبـــې مبداء مافوق الطبیعي گڼله .

له اتلسمې پیړۍ راهیسې د علومو د انکشاف سره موازي دو هم ټیـــپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظریه مینځ ته راغله . د دی نظریـــی عمده پرنسیپ دادی چی ژبه دافرادو یاکولکتیف اختراع ده . د دی نظریی تر ټولو خامه بنه داسی وه چی ژبه دلرغونو قهرما نانو اختراع ده مګرداچی ولی ؟ ، چیرته ؟ او څنګه ؟ تر اوسه نه ده معلومه . ور پسی دآواز ونو دتقلید ( Onomatopoeia ) نظریه د روشنفکرانو په محفلونو کی باب شوه . د دی نظریی له مخی ژبه د حیوانانو د آواز ونو اود طبیـــــعی آوازونو د تقلید په نتیجه کی مینـــځ ته راغلی ده . دمثال په توګه ، هغـــه وخت چی انسانانو به په ګډه ښکار کاوه او یاد ځنګله میوی به یی ټولولی دیوه ځیرو ونکی حیوان (لکه زمری، پړانګ او نورو) په لیدلو سره به یی دهماغه حیوان په شان آواز ونه لـــه خولی ایستل او په دی وسیله به یی نور ملګری له خطرڅخه خبرول.ددغو آوازونو د تکرار او اختصار په نتیجه کی قرار دادی ژبه رامینځ ته شوه. ورو ورو د (دال ) او (مدلول) ترمینځ ضروری رابطه وشکیده اودقراردادی سګنا لونو شمیر زیات شو . د دی نظریی یوه بله بنه داده چی وایی ژبه دطبیعی آواز ونو د تقلید په نتیجـــه کی مینځ ته راغلی ده. دمثال په توګه په پښتو کی لااوس هم په لسګونو کلمی شته چی د طبیعی آواز ونـــو څخه د تقلید په نتیجه کی وضـــــع شوی دی لکه: چرچرك ، (د دروازی) ټك ټك ، (دسپی) غپ غپ ، (دتوپو) ډزهار ، (داوبو ) شرهار ، (دپښو) ترپا ، کټ کټ (خندل)، بړ بـــــړ (غړیدل)، اخ و ټو خ ، ششنیـــدل (دپزی) سوو ټول ، او داسی نور .دی نظریی ته په انګریزی ژبه کی د (bow—wow) تیوری وا یی خوداکثر وژبپوهانو په عقیـــده ، دا فرضیه سمه نه ده ځکه چی په هرهٔ ژبه کی د داسی آواز ونو شمیـــــر محدود اود ګوتو په شمار دی . خود دی نظر پلویان وایی چی بنایی د ژبی جوړښت په دی ترتیب پیـــــل شوی وی . داحتمی نه ده چـــــی همدغه پروسه دی پر ټولو مواردو باندی تطبیق شی .

همدی فرضیی ته ور ته یوه بله تیوری شته چی دخولی ژستو نـــه (Mouthgestures) په نامـــــه یادیږی . د دی نظریی پلویان وا یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې انسان غواړي‌دمتهو ، لاسونوگوتو او نورو غړو په خو ځولوسره ځینې شیان او حالات تمثیل کړي په‌دې وخت کې خو له همد شونـډو، غاښونو ، او ژبې‌په وسیله دنوموړوحرکتونو پیښې کوي او ځینې ژبنې آوازونه را باسي . دمثال په توګه،په‌انګریزي ژبه کې هغه کلمې چې د غټ ، لوی ، پراخ او آرت مفهـــوم څرګند وی په اوږده واول راځــي لکه : high large, wide broad او نور . همدا رنګه په انګریزي کې‌یو شمیر تیره او ځوکې لرونکې نومونه‌د (Spi) په آواز سره پیـل کیږي لکه Spire, spine spike spin Spindle

او له‌دې ځخه ښکاري چې د (Spi) آواز دنرې او ځوکې لرونکې شـــې مفهوم افاده کوي .

د ژبې دمبداءپه‌برخه کې یوشمیر نورې فرضیې هم شته چې د ټولـــو یادونه ضروري نه‌بریښي . اوس به‌دیوې شمیې دپاره دژبې د منشاء پر موضوع باندې د علمي نړې لیدلـــه‌نظره بحث وکړو . مترقي‌جهانبیني دا خبره اثبات ته رسولې ده چې ژبه‌یوه ټولنیزه پدیده ده او د بشر ی ژوند د تکامل په مسیر کې دګډکاراو تولید په‌پروسه کې مینځ تـــه راغلې ده . د دې نظریې په اساس داوسنیو انسانانو ډیرو لرغو نـــو نیکونو له نورو حیواناتو ځخه دبدن دجوړ ښت په لحاظ توپیر درلود او هغه‌د ا وچې دانسان د نیکه مخکیني پښې له وروستنیو دوو پښو ځخـه لنډې وې او په ولاړې به دریدلي‌شو دې استعداد انسان ته د دې امکانات ور به برخه کړل چې ځینې آلـــې‌استعمال کړي . د آلاتو او افزارو استعمال په خپل وار سره دانسا نذهني استعداد ته انکشاف ور کړ او عقل یې تکامل وموند . په لومړي‌سر کې به د انسان نیکونوافزارلکه‌کاڼي او لرګي کله‌کله او په تصادفي توګه‌استعما لول خو څرنګه چې د افزارو له استعما لولو نه‌به یې همیشـــه‌مثبتي او ګټوري نتیجې تر لاســـه کولې د هغو استعمال دعادت سطحې‌ته پورته شو . د افزارو پرله‌پسې استعمال دانسان د عصبي سیستم‌له بشپړولو سره مرسته وکړه . په پای کې انسانان د ګډ کاراومتقابلوا ړیکو په‌ترڅ کې داسې پړاو تـــه ورسیدل چې هرو مرو یې باید یوبل‌ته‌څه ویلي وای . یاپه بل عبارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه دطبیعي اړتیا او ټولنیزو شرا یطو زیږنده ده . ژبه دسمبو لونو د یوه سیستم په توگه دمعلوما تو دذخیره کولو ، انتقا لولو، او په جریان کی اچولو وسیله وگر ځیده . کوم الفاظ او کلمات چی د شیانو او پیښو دښودلو دپاره وضع شوي وو دوخت په تیر یدو سره داصلي شیانو او پیښو په ځای کښېنا ستل او خلکو به د هغو په مقابل کی کټ مټ لکه داصلي شیانو او پیښو غو نــدي عکس العملونه څرگند ول . دمثال په توگه : کله چی به یوه تن چیغــی کړی : ((زمری ! )) اوریدو نکی به ددغه غږ په اوریدلو سره دغســی عکس العمل ښوده لکه په خپلـو سترگو چی یی زمری لیدلی وی .

دا هم باید وویل شي چی د کلمولهلاری د وا قعیت منعکسول یواز ی انساني خاصه ده . نو ر حیوانات ترڅو پوری چی پخپله له وا قعیت سره مخامخ نشی او د هغو نښی نښنا نی مستقیما احساس نه کړی نشــی کولی د وینا او غږونو په واسطه د واقعیت یا انگیزی په مقابل کی لــه ځانه عکس العمل وښیی . البته ، په ځینو استثنایي حالاتو کی به روزل شوی حیوانان لکه سپی، چرگی ،او ښاروی دمشروط انعکاس له لا ر ی دآوازونو په مقابل کی عکس العمل یاغبر گون ورو ښیی لکه د پاولوف سپی به چی د زنگ له اوریدلو سره له خپلې خولی څخه ناړی تویولی . لیکن په عمومي ډول دغسی موارد د یوی کلیي ځای نه نیسی . ژبــه د انسان یوه ممتازه خاصه ده او لــه عمدی امله پخوا نیو منطق پوهانــو حق درلود چی انسان یی د ((نا طق حیوان)) په توگه تعریف کړی دی . د «ناطق حیوان» څخه د هغو مــرادزیاتره منطقی حیوان و ځکه چی نطق او منطق په لغوی لحاظ یو له بله کوم توپیر نه لری .دلغت پوهانو پــه عقیده (منطق) میمی مصدر دی چی د نطق په معنا راځي .دمحمد هوتك په نظر ، د (کرمنا) تاج هماغه د نطــق تاج دی چی لوی ښښتن انسان تــه ور په برخه کړی دی او په دی وسیله یی له نورو حیواناتو څخه امتیــاز ورکړی دی .

ژبه په حقیقت کی د فکر د مو جودیت اود هغه د څرگند یدنی بهه ده. یاپه بلهژبه، ژبه هماغه دانسان شعور دی چی به کلماتو کی نغښتل شوی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دژبې ماهیت:** ژبه د فزیکي طبیعت یو رمزي سیستم دی چې د بشري فعالیت په جریان کې دپو هولو او خبرولودنده تر سره کوي کیدی شي چې ژبه طبیعي او همدارنګه مصنوعي وي .

طبیعي ژبه هغه ژبه‌ده چې پـه‌ور ځنیو معمولي چارو کې تری کار اخیستل کیږي اود خلکو تر مینـځ‌دیوبل دپوهولو دپاره دیوې وسیلې په توګه استعما لیږي . مصنوعي‌ژبه دځینو خاصو اړتیاو زیږ نده ده او معمولا د علمي او تخنیکـــي‌مقاصدو دپاره پکا ریږي لکه دریا ضي سمبولو نه ، دبیلابیلو سګنا لونو سیستمو نه ، د فزیکي فرضیو ژبه او نور .دمثال په‌توګه،په‌دی لاندې فـ مول کې د اتو مـــي فزیك یوه ډیره مهمه نظریه نغښتل شوی ده :

$$E=MC^2$$

ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده چې‌داجتماعي تولید دانکشاف په مسیر کې مینځ ته راغلې او دبشري فعالیت د تنظیمولو یوه اغیز ناکـــه وسیله ده . که څه هم ژبه دټو لنیز تولید په پروسه‌کې‌د یـــوی اړتیاپه توګه ایجاد شوی ده او دتولیدی قوتونو له پر مختیا سره‌یې یوځای پراختیا موندلې ده خو هغې‌ته‌نه زیر بناویل کیدی شي او نه روبنا. ژبه د فکرد موجودیت اودهغه‌د څرګند ولو بڼه‌ده . خو پـه عین وخت‌کې‌باید داهم وویل‌شي‌چې‌ژبه دشعور په تشکل او جوړ ښت کې هم ستر نقش لري. شعور له‌ژبې نه‌د باندې وجود نه لري او نه یې‌در لودلې شي. ژبه‌د بشـــر ی‌پوهې د ذخیرې اود فرهنګ‌دسا ـ تنې او انتقال ډیره مهمه او عمـده‌وسیله ده . ژبه انسان ته‌د مجرد **تفکر زمینه برابروي** او له تعمیـم generalisation سره مرسته کوي . که څه‌هم ژبه دفکردانتقال عراده ده خو ددې معنادانه ده چې ژبه‌او فکر دی دواړه سره‌یوشی وګڼل شي . ژبه له فکر نه یوه نسبي خپلوا کې هم لـري اوځانته جلا قوانین تعقیبوي چې د فکر له هغو سره جوت توپیرلري .

ژبه د خلاقه قوې په توګـــه :هماغسې چې انساني تفکر یـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

میخانیکی عمل نه دی او په خپل‌وار بیرته محیط باندی عمل کوی ژ به هم صرف میخانیکی نه ده بلکه دیوه ابداعی او تخلیقی صفت‌خاونده ده .

هغه کسان چی ژبه پوازی دوا قعیتونو هینداره گنهی د خرافاتو دا ثبات دپاره هم دلایل ترا شلی‌شی د مثال په ډول ، دوی وا یی که «عنقا» وجود نه در لودای نودغه‌نوم څنگه پخپل سر پیدا شو ؟
دوی غواړی چی د «عنقا» له‌نوم‌نه‌د هغی موجود یت استنباط کړی. که دغه دلیل درست وی نود لر غونی یونان اساطیر هم باید پـــه پټو سترگو قبول کړو . مثلا په‌دی‌اساس سنتور centaur
چی نیم آس او نیم انســـان و ، سفینکس (یاد مصریانو ابوالهول) چی سریی دانسان او تنه یی‌دزمری‌وه باید په رښتیا وجود ولری اویا یی وجود درلودلی وی .

دا مثالونه مود دی دپاره راو ړل‌چی څینی تش په نامه فیلسو فان زیار باسی وا قعیتونه پرا لفا ظو او نومونو ختم کړی په داسی حال کی چی ذهنی خیالونه او ایډ یا لیستی تصو رو نه خامخا د هغوی دآفاقی او عینی موجودیت دلیل‌نشی‌کیدی . تاسو به‌لیدلی‌وی چی څینی عوام غولوونکی یولړ بی معنا او مهمل الفاظ له‌خولی وباسی اووایی چی داپلانی ژبه‌ده او یادغه الفاظ‌څینی خاصی معناوی افاده کوی . البته هر څوك کولی شی مهمـــل‌الفاظ جوړ کړی او ناخبره خلـــك وغولوی . مونږ کولی شوله محیطی‌موادو څخه په خپلو ذهنونو کې‌د تجرید او تعمیم په مرسته عجیبــه‌شانته خیالی نقشو نه جوړ کړ و (لکه ایتهالوی دانتی چی په ربانـــی‌کمیدی کی داکار کړی دی ) بی‌له دی چی دغه نقشی دی بهرنی وجودولری (دگولیور سفر یی یوبل ښه مثال دی . ) دانسان شعور پاسیف‌او ماشینی نه‌دی بلکه اکتیف او فعال دی مگر د دی فعالیـــــت اوخلاقیت حدود او شرایط له پخوانه ټاکل شوی دی او په خالیگاه کـــی‌تشکل نشی کولی . زمونږد ذهن دتجرید او تعمیم ملکات له زمان اومکان څخه بیخی نشی بی نیـــازه کیدی . هغه سویډنی شاعر څــــه‌ښه ویلی دی :

(c) ketabton.com: The Digital Library

**زمان او مکان**

**یو نا محدوده زندان دی**

په دې ډول ، ننني علمی نظریات له یوی خوا میخانیکی ماتریا لیز م اوله بلی خواد ایله یالیزم مختلف غیر علمی شکلو نه تردید وی .ژبه یوازی مادی شیان نه بلکه ذ هــنی حالتونه هم شرح کوی . د ذهنــی حالاتو تعریف او توصیف ډیر گران کاردی په تیره بیا هغه چی له خوند رنگ او کیف سره اړه لری .

له همدی امله کله چی ژبه د کم له معقولی څخه د کیف ومقولی ته تیریږی اود محسو ساتول ه میډیم نه دمعقو لاتو ساحی ته ور ننـوـ زی دابهام په غبار کی پیچل کیږی او په ښکاره ډول ځان ونورو تــه نشی څرگند ولی .

دژبی سمبو لیك خاصیت انسان ته د دی امکان ور کوی چی خپلی اړتیاوی د واسطی په استعــما ل سره پوره کړی . دانسان دامتیاز مهم رمز همدغه د(واسطی)استعمال دی . دا بیله خبره ده چی ځینـــی واسطی ښی او ځینی بدی دی خو پخپله د واسطی موجودیت د تفوق او برتری نښه ده .

ژبه نه یوازی واسطه ده بلکه دوسایطو له ایجاد او اختراع سره هم پوره مرسته کوی . را ځی داخبره لږه وسکنه یو(وڅیړو). دمثال په توگه ، کله چی د کونډی نازولی پیشو مستی ووینی کوښښ کوی مستقیما مستو ته ځان ورور سوی اوویی ختی . دا نشی کولی چی د کورله میرمنی څخه غوښتنه وکړی لیکن دکونډی نازو لی لور له مور څخه غوښتنه کولی شی چی مستی ور ته راوړی او حتی کولی شی خپلی مور ته ووایی چی تر بستری پوری یی ور ته راوړی . د پیشو فارمول داسی دی :

انگیزه عکس العمل دنجلی فارمول داسی دی :

انگیزه غوښتنه (ژبه) عکس العمل یعنی په لومړی صورت کی انگیزی ته باید مستقیما ځواب ورکړ شــی یا په بله ژبه ، پیشو باید پخپلـــه خپله غوښتنه ترسره کړی خو په دوهم صورت کی نجلی له واسطی (یعنی ژبی) څخه کار اخلــی اوخپل کار د بل په مرسته سر تــه رسوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ژبه دژبپو هانو په نظر کی:

دژبی یو ساده شانته تعریــسف داسی دی : ((هغه ټولی کلمی او جملی چی خلك یی د یو بل د پو هولو دپاره استعما لوی ، ژبه بلل کیږی . )) دغه تعریف د ژبپوهانو،ژب څیړونکی، اوژب ښوو نــکــی دپاره د قناعت وړ نه دی . د دی تعریف ستره نیمگړ تیا داده چی دلته یو مجهول دبل مجهول پـــــه واسطه تعریف شوی دی . د(وبستږ) انگلیسی قا موس وایی چی ژبه((داوریدو وړ څرگنده انسانی ویناده چی دژبی او مر بوطو غړیزو غړوپه واسطه صادر یږی )) دا تعر یف په انبسانی فعالیت او آواز پـــوری منحصر شوی دی : یعنی حیوانا ن ژبه نه لری او په لاسونو ، پښو اونورو غړو باندی اشار، هم ژبـــه نشی گڼل کیدی . یوبل تعریـــف وایی : (( هره وسیله صوتی وی. که بل، څه چی فکرونه او احساسات څـند ولی او نقلولی شی ژبـــه بلل کیږی . )) په دی وروستـــــی تعریف کی دتندی ترېو والی، موت سکا، په لاس او سر اشاره کو لهم دژبی په قلمرو کی داخلیږی .

همدا رنگه د دی تعــــــر یـــف له مخی دماشوم ژړا چی د غذا دغوښتلو دپاره وی او د سپی غپاچی د دروازی د خلاصولو په هیله یی پر چا اوروی ژبه بللی شو . لیکن اوسنی ژبپو هان دغه تعریف نه منی او دوی اکثر په دی عقیده دی چی له انسان نه پرته نورحیوا- نات ژبه نه لری . په دی کی شك نشته چی مچی د مخصو صی نڅا په ذریعه کولی شی خپلو همنو عانو ته دگلانو ځای او دهغو لوری لودن وروښیی او حتی د فاصلی په باب یی هم معلومات ورکړی خو سره له دی ژبپو هان دی ته نه دی تیارچی دمچیو نڅاژبه وبولی . په لومړنیو فلمونو کی د (پانتو میم) په ذریعه دسینما ماهرو لوبغاړو څینی دا ــ ستانونه تمثیلولی شول خو بیا هم نوموړی فلمونه گونگ وبلل شو ل اوسنی ژبپو هان په دی نظریه دی چی د ژبی یومهم خصو صیت دا دی چی باید ژبنی فعالیتو نه د آو ازپه بڼه له انسانی غړیز سیستم یـــا جهاز (ژبی ، شونډی او حنجری )څخه راووزی . ددوی په عــقیده، د ژبی څینی مهم خصو صیات دا دی :

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ ژبه رمزی (سمبو لیك ) دهچی په عمومی ډول له خپل مدلو ل سره کوم منطقي او ضروري اړیکی نه‌لری اود وخت په تیریدو سـره نوموړی رمز ونه (سمبولونه ) هم‌تغییر کوی .

۲ـ ژبه سیستما تیك ده او په‌همدی دلیل دښودلو او زده کولو وړ ده . ژبی په‌عمومی ډول ځا نته‌ځاکلی قواعد لری که څه هم چی د یوی ژبی‌قاعده د بلی ژبی‌له‌ځغی سره په ټوله معنایو شانته نه ده .

۳ـ ژبه بشری ده اود حیوانا تو له ((ژبی )) سره جوت توپیـــــر لری .

٤ـ ژبه یوه ټولنیزه پدیده دهچی دهغی په واسطه د ټولنی ترمینځ یوډول اجتماعی مناسبات مینځ ته‌راځی .

٥ـ ژبه غریزه نه ده بلکی‌لــه‌ټوانی څخه زده کیږی . که ژبـــه غریزه وای نو په‌ټوله بشری ټولنه‌کی به فقط یوه ژبه وای او زده‌کړی ته‌به‌یی هم ضرورت نه‌پاتی کیده .

٦ـ ژبه دفکر دانتقال وسیله ده‌خو په عین زمان کی یوه نسبـــی خپلواکی هم لری .

لنډیز : ژبه د آواز ونو یـــــورمزی سیستم دی چی د ټولنی له خوادیو بل د پوهولو دپاره وضـــع‌شوی اودانسان په مخصو ص صوتی جهاز پوری اړه لری .

**ژب ښوو نه او ژ بپو هنه :**

تر ډیره وخته پوری داکثروخلکوداخیال وچی دساینسس پوه وظیفه دانه ده چی د ارزښت مساله له‌علم‌سره گډه کړی بلکی ویل به‌یی چی دا د ارزښت پیژندنی axiology او مخصو صا داخلاقیاتو اوسیاست کار دی چی دساینسس گټور اوزیا نمن اړخونه سره جلا کړی . ددوی په عقیده ، ساینسس پـــوها ن اوټکنا لوجیستان فقط د علم اوتخنیك له‌پرمخ بیولو سره علاقه لری او داپه دوی پوری هیڅ اړه نه‌لری چی دهغوی له کشفیاتو او اختر اعاتوڅخه څه ډول استفاده کیږی . د مثال په‌توگه ، دوی اتومی بمو نه‌جوړوی مگر په هیرو شیما او نا ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

گاساکی باندی د دغو بمونو پــــه استعما لولو کی خپل ځانونه مقصر نه‌بولی .

لیکن اوسنی منطق دا خبره نه‌منی او وایی که علم بی طرفه دی عالم باید بی غرضه او بی طر فه‌نه‌وی . ساینس یوه تهٔبنایی چی د خپلو خیړنو په ترڅ کی له خپـــل‌وجدان سره هم سلا او مشــــوره وکړی او بشری سوله او نیکمرغی‌په‌نظر کی وساتی .

دا پورتنی مقدماتی خبری د ژب‌ښوونی او ژبپوهنی په مورد کی هم صدق کوی . په دی معنا چی‌ژبپوهنه زیاتره تشریحی بڼه لری خو ژب ښوونه باید تجویزی او توصیوی بڼه غوره کړی . ژبپوهنه دارزښت مساله یوی خوا ته کوی‌او یوازی د ژبی اوسنی او موجوده بڼه تر خیړنی لاندی نیسی . آیا دژبی ښوونکی باید د ((بــازار او کوڅی)) ژبه کټ‌مټ‌استعمال‌کړی؟ آیا د ژبی‌ښوونکی‌یوازی((استعمال)) دمعیار په‌توگه قبلوی او که‌دمختلفو«استعما لونو» ترمینځ دانتخاب‌حق هم لری :

دژب ښوو نکی کار د ژبپوهاندله‌کار سره توپیر لری . ژب‌ښو ــ ونکی بایــد د ژبــی چــاڼ شوی‌او تصفیه شوی برخی زده کوو نکوته وروښیی . دلته مونږ دیــــو ډول‌اشتباه مخه نیسو او هغه دا چی د ژبی تصفیه شوی شکلو نه عرو ــمرو دامعنانه لری چی گویا نـــور مروج او مستعمل شکلونه غلط اوناسم دی . په داسی حال کی چی مثلا مونږ د (حقله) پر ځای (باب ، باره ، برخه )استعما لولی شو او دغو وروستیو «الفاظو ته د «حقله»په‌نسبت ترجیح هم ور کوو دانه وایو چی (حقله) صحیح نه ده او غلطه‌ده . دا فیصله ځینی لیکوال پــــه لغوی منطق باندی کوی او وایی چی د (په حقله) ترکیب ناسم دی مگر په ژبه کی مخصو صا په دی‌وروستیو وختو کی ــ د لغوی‌منطق په‌ځای (استعمال ) ته زیا ت وزن‌ورکول کیږی . همدا چی یوه کلمه یا ترکیب په ټولنه کی عــمو میــت‌پیدا کړی او د خلکو په‌خولو کـــی جاری شی بیانو پرهغه باندی د غلط حکم کول پخپله یو غلط حکـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی څکه چی ژبه د ټولنی له خوا جوړیږی او تغییر ور کول کیږی .
لیکن د ژبی ښوو نکی کولی شی‌چی د سخیفو او مبتذلو عبار تو نو
له راوړلو څخه ډډه وکړی .

داد درسی کتاب د مولف او د ژبی دښوونکی وظیفه ده چـــی د
فصحیو کلمو او بلیغی ویناخصو صیات وپیژنی او زده کوونکو ته یی
ورونښیی په داسی حـــال کي چـــی ژبوهاند د محلی لهجو له ثبتولــو
سره علاقه‌لری د ژبی ښوو نکـــی‌باید معیاری ژبی‌ته‌پاملرنه وکړی‌او
دتدریس دپاره یی د معیار په‌توگه‌ومنی پخوا له دی چی دژب ښوو-
نی مسالی په‌مفصله توگه وڅیړ و یو څو خبری به دزده کړی دسا ـ
یکالوجی په‌باره کی هم وکړو څکه‌چی د تدریس او ښوونی موضو ع
دزده کړی له سا یکا لو جی‌سره‌نه‌شلیدونکی اړیکی لری .

* *

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهمه برخه:
## دزده کړی اروا پوهنه

د زبی ښوونه او تدریس پخپله یو علم دی اوله دی امله ښوونکی ته پکار دی چی دزده کړی دسایکالوجی (اروا پوهنی) له اصو لو او پرنسیپونو سره آشنا شی او له هغو څخه دښوونی او روزنی پـه چارو کی گټه واخلی . پخوا له دی چی ښوونکی په تدریس پیل کوی باید دغه لاندی پوښتنی یی لـپـه ځان سره حل کړی وی : (۱)دغه شی درس ور کوی ؟ (۲) څنگـه درس ور کوی ؟ (۳) چاته درس ور کوی ؟ (٤) څومره موفق دی ؟

دلومړی پوښتنی حل د ښوو نی او روزنی په فلسفه پوری اړه لری دښوونی او روزنی فلسفه د زده ـ کوونکو دپاره هدفونه او ارزښتونه ټاکی او تعلیمی نصاب له هغو سره عیار وی . په هره تاریخی دوره کی فیلسو فانو د خپل وخت داجتماعی اقتصادی جوړ ښت له غوښتنـــی سره سم په تعلیمی هــدفــونو اوارزښتونو باندی په سیستما تیك ډول سره کار کړی دی اود هغو په رڼاکی یی تعلیمی نصابونه اوپرو ـ گرامونه طرح کړی دی .ددغوفیلسو ـ فانو په ډله کی ځینی داسی کسا ن هم وو چی د خپل وخت ارزښتونو ته یی په انتقادی نظر کتل او کو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښښس یې کاوه چې مترقي افکـــارخپاره کړي خو په عمومي ډو ل د ښوونې او روزنې فیلسو فان د حاکمې طبقې په‌خدمت کې وو او د محافظه کار ی خوا ته یې تمایـــل‌درلود . د دې دپاره چې له خپلې اصلي موضوع څخه لیرې نشـــودومره به ووایو چې د مریي ساتنې په‌اجتماعي ـ اقتصادي فورما سیون‌کې مینځې او مریونه له زده کړ ی څخه محروم شوي وو ځکه چـــې بادارانو (برده دارانو )به هغو ی د«ناطق ابـــزار» په نـــوم یا دول‌او‌دانساننانو په نوع کې یې نه‌شمیرل دیونان نامتو فیلسوف (ارستو) به‌ویل چې مریونه په فطـــري ډو ل مریونه پیدا شوي دي . نن ورځ‌داخبره ډیره عجیبه ښکار ی اوهغه هم‌دیوه ستر مفکر له خوا ، خـــومتاسفانه چې دا د هغه‌وخت عمومي ذهنیت و . (ارستو) به ویل چـــې‌مریونه دفزیکي چارو د اجرا کولو دپاره پیدا شوي دي هغوی تـــه‌فقط باید دومره څه‌ورو ښوو ل‌شي چې بدني کارونه په‌ښه توگه‌سرته‌ورسوي خو هغوی له دې نه‌زیا ت دزده کړې استعداد نه لري .

څرنگه چې په لرغوني یونان اوروم کې فزیکي کارونو ته په‌سپکه سترگه کتل کیدل او ویل به‌یې‌چې‌فزیکي کارو نه‌دمادي اړتیاوو‌سره‌اړه لري نو آزاد خلك باید آزادي‌پو هنې (لیبرال فنون) زده کړي . په نتیجه کې داسې افکار مینځ تـــه‌راغلل چې : تر ټولو ښه علم هغه دې چې مادي گټه‌یې لږ‌ه وي لکـــه‌متافزیك ، منطق او دفلسفې ځینې نورې څانگې . آزاد انسان بایـــدفزیکي کارونه کړي ځکه چې دا د غلامانو وظیفه ده . دهمدې ذهنیت په‌نتیجه کې مجرد و عقلي پوهنو ته زیاته پاملرنه وشوه او تجربي ته‌په‌سپك نظر کتل کیده . (فرا نسس‌ـ بیکن) په‌یوه مشهوره قصه کـــې‌لیکي چې څنگه پخوا نیو علـــماوود آس د غاښونو د معلو مولو د پاره‌شپه او ورځ کتابونه مطالعه کو ل او له دې څخه یې کرکه کوله چې‌دآس خوله خلاصه کړي او غا ـ ښونه یې وشمیري .

دفیوډا لیزم په تاریخي دوره‌کې‌هم علم دکلیسا او فیوډ ا لانو پـــه انحصار کې و . که له‌منځنې یا بې‌برخې طبقې څخه به یو څوك‌د علم

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاوند شونو هغه به یاد حکومت دپاره میر زایی کوله او یابه درو ــ
حاییونو په قشر کی شاملیده . دعلومو دانکشاف په لحاظ ، فیوډا ــ
لیزم تیاره دوره وه او بیځایـــــه تعصبو نوموقع نه ور کوله چی دفکر
دآزادی مشال ولگیږی . په عمومی ډول ، تعلیمی نصاب له حیا تـــی
اړتیاوو څخه لیری شوی و اوحتی دنیوی معاملو په باره کی خبری یی
بدعت باله . بدیع او غریب افکاراودعنعنی له چوکاټ نه دباندی خبری
او نوښتونه بهله سختو سزا ګانوسره مخامخ کیدل . چادو مره قدری
هم نشوی ویلی چی ((منځکـــــه ګرځی .))

په دغه زمانه کی د علم دانکشاف دپاره مبارزه له قربانیو ، سپکاویو
رټنو او غندنوسره ملګری وه .

د کپیټا لیزم په لومړی مر حله کی چی لا امپر یالیستی انحصارات
مینځ ته نه وورا غلی د صنعت له ترقی سره علم هم انکشاف وکړاو
دتجارت آزادی د فکر او بیـــان دآزادی دپاره هم لاره خلا صه کړه .

په دی دوره کی علوم او فنون د سرمایی په خدمت کی ولویدل اود
زده کړی د پرو ګرا مونو اساسی هدف دداسی لارو چارو لټونه وه چی د
پانګی له زیاتولو سره مرسته وکړی په لویدیځه صنعتی نړی کـــی د
پرا ګما تیزم فلسفه وغوړ یده چی عمده اصل یی دا دی : ((د حقایقو
په موندلو باندی وخت مه ضایـــع کوی ء مهمه خبره داده چی له مو ــ
جوده وضعی څخه د خپل ځان پـــه ګټه کار واخلیء . حقیقت هغه شی
دی چــــی په عــــــمل کی ستاسی په درد وخوری . )) البته نن ورځ
په پانګوالی کی د ښوو نی اوروزنی دفلسفو شمیر ډیر زیات دی چی نه
یی دلته تفصیل ځائیږی اونه لندیز خو عمده اصل یی د داسی انسا ن
روزنه ده چی دپانګوا لی دنظام له پاینښت سره مرسته وکړی .

دوهمه پوښتنه او وز پسی نوری پوښتنی د زده کړی له سایکا ــ
لوجی او پیدا ګوژیکی موضو عا توسره اړه لری .

لومړی به وګورو چی سایکالوجی (اروا پوهنه) څه شی ته وایی او
بیا به د زده کړی سایکا لوجی په یوڅه تفصیل سره شرح کړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسایکا لوجی (پسیکو لــوژی)لغت له دوو یونانی کلمو څخه جوړ شوی دی .(پسیکو Psycho) یا(پسیکی Psyche ) روح یانفس ته ویل کیږی او (لو گیــه Logia )د پوهنی په معناده په دی اساس ، پسیکو لوگیـــه(چی په عربی یی علم الروح ، پــه دری کی یی روحیات یا روانشناسي په روسی کی یی پسیخو لوگیه ، په انگریزی کی یی سایکا لوجی ، په فرانسوی کی یی پسیکو لوژی بولی) داروا پوهنی په معنا راځی . ځینی پښتانه لیکوال په دی گوما ن چی (اروا) بهٔ د عربی ژبـــی د (ارواح) ممغن شکل وی د اروا پوهنی پـــه ځای (ساه پوهنی ) ته ترجیح ور کوی په داسی حال کی چی (اروا) ددری ژبی د (روان) په شان آریایی ریښه لری .

دنو نسمی پیړی تر ورو ستیو وختو پوری اروا پوهنی د فلسفی دیوی څانگی په حیث دروح یـــا نفس د څرنگوالی په باره کی بحث کاوه . داسی ښکاری چی حتی په لرغونو ټولنو کی هم دروح مفکوره موجوده وه خو په هغه وخت کی روح (دسیوری ، وینی ، او ســـاه په شان ) یومادی شی تصور کیده. دزمانی په تیر یدو سره روح یـــو غیر مادی څیز وگڼل شو . سره له دی روح یوه معضله وه چی چانشوی کولی دهغه اصلی ماهیت وپیژ نی څرنگه چی د روح موضوع مستقیما دانسان له ژوند او مړینی سره اړه در لوده اولری یی نو ځکه د حکماو روحانیونو ، او پوهانو له خوا پدی برخه کی زیات بحثونه شوی دی . دمریی توب په نظام کی دا عقیــده عامه شوه چی روح له بـــدن نـــه مستقل دی او د دواړو ترمینـــځ اتحاد یوازی یوه موقتی پدیده ده . دیونان ستر فیلسوف (اپلا تون) دروح په باره کی یوه داسی نظر یه وړاندی کړه چی د زده کړی پـــه سایکا لوجی کی یی زیات نفوذ وکړ ده روح یوه ابدی ایده یا (مثـــل) وگڼله او ویی ویل چی دانسان روح په ابتدا کی په هرشی پوهیده اوانسان کولی شی د ریاضت او تامل له لاری بیرته خپل هیر کړی معلو مات را په یاد کړی . په دی اساس زده کړه تداعی ده او په دی برخه کی له تجربی څخه د تامل برخه زیا ته ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترنو نسمي پيړۍ پورې سايکا لوجي د فلسفې يوه څانګه ګڼل کيده په (۱۸۷۹) ع کې آلماني پــــوه (ويلهلم وونت ) دلا ييز يګ پــه پوهنتون کې د اروا پوهنې موسسه ؤ پرانيستله اود شعور د تحليل او مطالعې دپاره يې له تجر بــــې ميتود څخه کار واخيست .

په شلمه پيړۍ کې د سايکالوجي مختلف مکتبو نه (لکه بيهيويريزم ګشتالت اروا پوهنه ، فرو يدېزم او نور ) مينځ ته راغلل چې اکثريې ايډيا ليستي يا ميخا نيکي وو . دامريکې په متحدو ايا لتونــوکې د (بيهيو يريزم) يعنې د سلــوك داصالت تمايل ډير قوي شو . که څه هم د سلوك داصالت پلويان ادعاکوي چې د دوی فرضيې پر علمي موازينو برابرې دي او ټولې نظريې يې د تجربې ميتود په اساس را ــ ايستلې دي خو د دوی اروا پوهنه ميخانيکې بڼه لري . په شو روی اتحاد کې د مار کسيستي لينينيستي دمعرفت د تيوری په رڼا کې اروا ــ پوهنه ديوه علم په توګه مينځ تــــه راغله. د دې اروا پوهنې طبيعـــي علمي بنسټ د (سچينوف) دانکا سانو تيوری ده چې (پاولوف )هغې ته زيات انکشاف ور کړ .

دسلوك داصالت پلويان وا يــي چې اروا پوهنه دسلوك علم دی . د سلوك داصالت (بــيهــيو يريـــزم Behaviourism ) فلسفي بنسټ پرا ګما تيزم دی . په (۱۹۱۳) ع کې (واټسن) امريکايـــــي پوه د (اډوارډ تارن ډايك) له تجربو څخه په استفادې سره د (بيهيو يريزم) بنسټ کښيښود .

د دې مکتب پلويان اروايي پديدې په ميخانيکي توګه دارګا نيزم پــه عکس العمل (reaction) پورې منحصر وي . (بيهيويريزم ) دسلوك او شعور تر مينځ تو پير نه کوي . دوی وايي څرنګه چې شعور هم دروح په شان دپيژندلو وړنه دی او تر تجربې لاندې نه راځي نو هغه څه چې مونږ يې کولای شو دا ده چـــې دژوندی ار ګا نيــز م سلوك (رفتار يا کړه وړه) وڅيړو . د دغه اروا پوهنې مکتب پلويان زياتره په حيواناتو ، مر غيو او ا نـــسا نــا نــو کــــې د(محرك يا منبه) او ځوا ب(عکس ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library

العمل) مختلف شکلو نه مطا لعـه‌کوی . هغوو نکی (انگیـــزه) او خراب (عکس العمـــل) د دی اروا پوهنی عمده پرنسیپ دی .

دمثال په توگه ، ماهی په قفس‌کی ایښوول کیږی . پیشو زیار ــ باسی چی د ماهی غوښه وخوری‌لیکن دقفس دروازه تړلی ده او پیشو نشی کولی چی هغه پرانیزی‌له ډیرو هلو ځلو نه وروسته‌پیشو په تصادفی توگه هغه تار کښو ی‌چی د قفس د دروازی له خلاصولو سره مرسته کوی . دروازه پرا نیستل کیږی او پیشو د ماهـــی غوښه خوری .دغه تجربه بیابیـــا تکرار یږی . پیشو له یو یا دوو ــ وارو ځخه وروسته په دی‌پوهیږ ی‌چی په اصطلاح ((چل یی په تسمه کی دی )) ، هر وار چی تار راکښ‌شی د قفس دروازه خلا صیږی د دی په عکس ، که وغوا ړو چی‌پیشو دغه زده کړه له یاده وباسی نو داسی ځل کوو چی دا ځل‌دتارپه کښو لو سره دقفس دروازه‌نـه خلا صیږی بلکه د دی په خلا ف،پیشو د بریښنا له ټکان سره مخا ــ مخ کیږی . که وروستی تجربه څوواره تکرار شی پیشو جرأت نشی کولی چی تار راکښ کړی او په‌نتیجه کی خپل زده کړی خو ی هیروی . له دی ځخه داهم معلو میږی چی دپښتو دامتل : ((زده ــ کړی خوی په مرگ هیریږی )) په‌علمی لحاظ د تامل وړ دی .

د (بیهیویریزم ) له نظر ه، زده‌کړه دارگا نیزم دمشـــــــــر وط (Conditioned) عکس العمل زیږنده ده . دغه اصل پرانسان هم تطبیقیږی.

د شلمی پیړی په دیر شیزو کی‌د(واټسن) دتیوری پر ځای‌د (نو ی بیهیو یریزم ) تما یل مسلط شو.

د دی تمایل مخکښان (کلار ک‌هر ، اډوارډ ټولمن ، او اډو یـــن گوتری ) وو . نوموړی امریکا یی‌پوهان د شوروی پوه (پاو لوف) د نظریی تر اغیزی لاندی ر اغلل اود (او پریشنیزم )او منطقی پاز ــ ټیویزم د فلسفی پر ځـــای یی د(پاولوف) د دکتور ین ماتریالیستی اصول ومنل . که ځه‌هـــم دوی دمشروطو ا نعکا ساتو له تجربوځخه زیاته استفاده وکړه خو په سلوک‌کی‌یی دسترو مغزو نقش اواهمیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لەنظره وغور څاوه . وروسته ځینو نورو پوهانو پر (بیهیویریزم) باندې زیات کاروکړ ، تعدیلات یې پکښې راوستل خو د دغه مکتب ایډیا ـ لیستی او میخا نیکی ماهیت ته یې تغییر ورنه کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دزده کړې نظریې

د دې دپاره چې دژبې ښوونکې په خپله وظیفه کې په ښه توګه پر مختګ وکړې اود خپلو زده کوو نکو دمعلوماتو او مهار تونو سویه لوړه کړې باید د زده کړې دنظریو په باره کې تریوی اندازې پورې جامع او اساسي معلومات تر لاسه کړې. پر معلو ماتواومهار تونو سربیره ، له ښوو نکي څخه داتو قع هم کیږي چې د زده کوونکو په کرکتر سلوك ، او فکري قضاوت کې هم مثبت بدلون راولي . زده کړه باید میخانیکې بڼه ونه لري بلکې بایدآګاهانه ، انتقادي ، او خلاقه وي څود هغې په مرسته زده کوو نکي وکولی شي په نویو متحولو شرا یطوکې سمه او اصولي لاره انتخاب کړي . د زده کـــړ ي دااروا پوهنــــي عمده پو ښتنـــــــــه داده چې انسان څنګه کولی شي په آسانه او ارزانه طریقه او لږ وخت کې د معلوماتو، مهار تونو اوسلوك سطحې ته ار تقاء ور کړي ؟

د زده کړې له مسالې سره یواز ې ښوو نکي ، میندې او پلرونه ، او لار ښوو نکې کدر ونه علاقه نه لري بلکې اروا پوهان ، فیزیولو جستان دبیو شیمي ، او بیو فزیك پوهان ،د صنایعو اداره کوو نکي او نور کسان هم ورسره مینه او علاقه لري څود دې تولوله جملې نه د زده کړې په باره کې تخصصي څیړنه دارواپوه دنده ده . د دې کار لومړې دلیل دادې چې له څنډنو وختو څخـــــه اروا پوهانو دزده کړې په با ره کې څیړنې کړې دي او پــــه دې څانګه کې تاریخي سابقه لري بل دلیل یې دادې چې داروا پوهنې دتیورۍ په برخه کې (زده کړه یـــا آموزش ) همیشه د څیړنې دمر کزې هستې په توګه تبارز کوې اود هغې له څیړلو نه پرته یوشمیر نـــــوراروایې مسایل او پرا بلمونه نشې حل کیدې . که اروا پوهنه دسلو كعلم وبولو نو سلوك هرو مروتغییر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوی او د اروا پوهانو په عقیده د سلوك تغییر تهزده کړهوایی .که اروا پو هنه دار وا یـــــی حالاتو، کیفیتونو او شرا یطو مطا لعه وبو- لونو په دی صورت کی هم د زده. کړی موضوع رامینځ تهکیږی .
زده کړه څه شیته ویل کیږی ؟ اروا پوهـان دی پـوښتنی تـهپـه مختلفو طریقو ځواب ور کوی .

اما پخوا تردی چی د زده کړیپهباب ((دافرادو جامع او داغیا رو مانع)) تعریف وړاندی کړو وبه گورو چی څه ډول فعالیتو نه دزده کړی په قلمرو کی را ځی .بنایيپهدی ځبره بهټول اتفاق ولری چی د نویو لغتونو پهباره کی پوهه تـــرلاسه کول ، ذیوه نظم یاترا نی پـه یادول ، اود موټر بیول ټولد زده کړی په کټیگور ی کی راځی.لیکن مونږ،یوازی معلومات او مهار تونهنه زده کوو بلکی د تلقی ډول او انگیرنی هم زده کوو . دمثال پــــهتو گه تعصب (نژادی ،ژبنی،مذهبی طبقاتی ، جنسی ، اونور)میـنهاولمانځنه ، ارزښتو نه ، او ایډیالونه همد اجتماعی مناسباتو پهترڅ کیتشکل کوی او له نورونهپهمستقیمه یا غیر مستقیمه توگه زده کیږی .برسیره پر دی ، انسان ځینـــــی حرکتو نه او ژستونه (لکه پهچا پسی شونډی بو ځول ، تندی ترـ یوول ، د تجاهل د څرگند ولودپارهدخولی جوړول او اوږی پور تــه غورځول غ دچرت وهلو په وخت کی همهم کول، پههیجانی حالت کیلاسونه غور ځول اونور) همله ټولنی څخهزده کوی . البته دزده کړی پـــه کټیگوری کی یوازی مثبت ، گټوراو جوړ وونکی مهار تونه او عادـ تونه نه بلکی منفی ، زیانرسوونکياو ورا نوونکی فعالیتو نه اوخویونه هم راځی .

دارو اپوهانو په عقیده هغه فعا لیتونه چی له انعکاسا تو ، غرا یزو او دعمر له زیاتوالی څخه را مینځ تهکیږی زده کړه نه بلل کیږی . د مثال پهتوگه ،درناد زیاتوا لی یا لږوالی پ ه مقابل کی دسترگو د کسی تنگیدل یا پراخیدل ، داو ر لمبیتهدپتنگا نو ور دانگل اود ټروپیز م ( tropis m ) نور حا لا ت،په غریزی توگه دمرغیو ځالـــــی جوړول ، او داسی نور دزده کړ یپهمقوله کی نهشاملیږی . دغریزیپه

(c) ketabton.com: The Digital Library

باره کی تر دی وروستیو وختـــوپوری ډیر زیات بحثونه شوی دی چې‌د هغو له جملې څخه‌د(تینبرگن)او(تورپ) څیړنې په‌زړه پورې‌دي. اوسني اروپاپوهان په دې عقیده دي‌چې غر یزه دوه مهم خاصیتو نـــه لري :

لومړی دا چې غریزې فعالیتو نه‌له نورو څخه نه زده کیږي یا په‌بله ژبه اکتسابي نه‌بلکې فطري اوذاتي‌دي . دوهمه دا چې غریزي‌فعالیتونه عمومي ( universal ) دي او دیوې نوعې په ټولو افرادو کی بی له استثنا عمو میت لري . د دې موضوع دتوضیـــح دپاره به دوه مثالونه راوړو. پخوا اکثرو خلکوعقیده در لوده چې له مور او پــلار سره دماشوم مینه فطري ده خـــوورووسته تجربو وښووده چې ماشوم پوازې له هغه چاسره مینه لري چې‌دی یې په‌مینه روزلـــــی وی . د افریقا په څینو قبیلو کی ماشوم دماماله خواروزل کیږي‌او تجر بـــی ښودلې ده‌چې دغسې ماشو مان د پلار په‌نسبت له ماما سره زیا تــه مینه لري .

د جنسي غریزې په‌باره کی چې‌تراوسه کومې تجربې شوی دی له هغو څخه داسې نتیجه لاس ته‌را غلې‌ده چې په وړو حیواناتو کـــی جنسي غریزه شته . دغه حیوانا ت‌دجوړه کیدلو په ترڅ کی په‌غریزي توگه خپل کار کوی مگر د لویـــوحیواناتو (لکه گوریلا او شامپا‌ـ نزي ) او انسان په‌باره کی دغــه‌حکم صدق نه کوی . نو مو ړ ی حیوانان او انسان د جنسي یــــوځای کیدلو او مجا معت دپاره زد ه کړې ته اړتیا لري .

څینې فعالیتو نه چې د عمر په زیاتوا لې پورې اړه پیدا کوی‌دزده کړې په مقوله کی نه راځي . دمثال‌په‌توگه ، مرغی د بڼکو ترایستلواو د وزرونو د عضلاتو تر پیاوړ ی کیدلو پورې الوتنه نشي کولی .کله چې دخپل عمر ټاکلی حدته ور سیږي په الوتلو پیل کوی . همدا‌ـ رنگه څینې حیوانات په لومړ ی‌سرکې په‌اوبو کی لامبو نشي وهلی‌خو چې عمریې ټاکلی پړاو ته ورسیږي‌بیاکولای شي چې لامبووهي.په‌دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته مثالونو کې د مرغیوالوتنه‌اودسمندری حیواناتو لامبو د عمر لــه پوخوالي سره اړه لري . سره لــه‌دې ، په‌دې برخه کې د خالصــــو مثالونو پیدا کول مشکل غونــــدې‌بریښي .دانسان بچي تریوه ټاکلي وخته پورې د خبرو کولو قدر ت‌نه‌لري خو کله چې د خبرو کولوقدرت پیدا کړي باید له نورو څخه یې‌زده‌کړي. په داسې حالاتو کې دپو ــ خوالي او زده کړې د حدودوتفکیك‌یو مشکل کار دی .

ستونزه او اعتیاد هم د زده‌کړې‌تعریف له لانجو سره مخامخ کوي مونږ ټول پوهیږو چې تمریـــــن اوتکرار له زده کړې سره پوره مر ــ سته کوي . په‌انګریزي کې متــل‌دی چې (Practice makes perfect) یعنې تمرین سړی کمال ته‌رسوي خو کله کله تمرین له خپلې‌انداز ې‌نه‌زیات شي اود زده کړې انحنـــاء بیرته بنکته رالو یږي . آیا تکر اردزده کړې پرضد کار کوي؟پوهیږې چـې خبره داسې‌نه ده خو ظاهــر اًدغسې بریښي‌لکه چې زیات تکرار دزده کړې مخه نیسي . نو زده ــکوونکي باید استرا حت وکړي. خو که داسترا حت وقفه هم زیاته و ی‌هیره مینځ ته راځي . دغـــــه ډول مسایل چې : ستونزه‌څه وخت‌پیل‌کیږي اود تمرین په مینځ کې څوــ مره استراحت ګټه لري ډیره دقیقه‌محاسبه غواړي . البته ځینې‌اروا ــ پوهان د ذهني ستونزي او همدا رنګه د فزیکي ستونزي د معلو مولو دپاره دقیق آلات استعما لــــوي اوهمدا رنګه د زده کړې د هر مهارت دپاره یــې دااستراحت و خت هــم‌ټاکلي دي خو بیاهم دانسان‌دشعور مسایل په میخانیکي توګه نه حــل‌کیږي.داعتیاد موضوع هــم په زده کړه کې اغیزه لري ، ځینې کسان‌په ځینو مواردو کې ډیر ژر معتـــاد کیږي او ځینې نور زیات مقاومت‌کوي په ښار ونو کې ډیر خلـــك او سیږي ځنې یې هر وخـــــــت‌له غالمغال او شور وځوږ نه‌شکا ــ یت کوي خو ځینې نور عادت‌ورسره‌پیدا کوي او نور مال حالت یې ګنې دزده کړې په تجربو کې‌اعتیاد دیوه‌عامل په‌توګه اغیزه کوي . دعادت پیدا کولو پوښتنه هغه وخت راو لاړیږي چې په یوه علمي تجر به‌کې دکنټرول عوامل له اوړ یدو نــکــوڅخه بیلیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمثال په‌توگه ، که د (الف) او(ب) په‌نامه دوی ډلی زده‌کوو نکی چی ټول مشخصات یی سره یــوشانته وی په یوه ربړ وونکی او ناـ مناسبه فضا کی تر روزنی لاند ی‌ونیسو هغه ډله چی له نویو حالاتو سره ژر توافق کولی شی داعتیادله‌امله دهغی بلی په نسبت ډیره زده کړه کولی شی .

اوس د دی وخت رارسیدلی‌دی‌چی دزده کړی یو مشهور تعر یف وړاندی کړو . د (بیهیو یریزم ) دمکتب پلویان وایی چی : «دار گاـ نیزم په سلوك کی هر ډول تغییرته زده کړه‌ویل کیږی . » داتعریف که‌څه هم ډیر مشهور او متداو لدی خوله نیمگړتیاوو څخه خالی نه دی . لومړی‌دا چی (بیهیویریستان)د سلوك او شعور ترمینځ توپیر نه کوی . دوی وایی چی شعور لـــکه‌دروح په‌شان یوه کړکیچنه مسا له ده‌او اروا پوهنه باید گرد سره د شعور او روح له څیړنی څخه لاس واخلی او په ځای یی سلوك (رفتاریاکړه وړه) چی د شعوربنکارندوی دی تر څیړنی او ازموینی لاند ی ونیسی . په دی توگه ، دشعور په نفی کولو سره ددوی تیور ی‌میخا نیکی بڼه پیدا کوی . (بیهیو یرـ یستانو) خپلی تجربـــــی پر وړوحیواناتو (لکه موږك ، پیشو ،کوـ تره او نورو) باندی تطبیق کـړی‌هغه یی دانسان‌تر قلمروه پور ی پسی تعمیم کړی په داسی حا ل‌کی‌چی دانسان شعور پاسیف او ماشینی نه دی . د(انگیزی عــکس العمل) یا (S-R) فورمو ل پر انسان باندی د حیواناتو په‌شان‌پوره نه تطبیقیږی .

انسان نه یوازی هغه وخت چی‌له پرابلم سره مخا مخ شی د حل لاره پیدا کوی بلکی ځینی انسانان‌له‌مخکی نه‌د مجرد تفکر په مرسته‌د راتلو نکی په‌باره‌کی پیشگویی‌کولی‌شی . ځینی کسان د تخلیق کشف او ابتکار استعداد ونه لــری .دځینو داستد لال ، تفسیر ، تجرید او تعمیم قابلیت دنورو په‌نسبـــت‌زیات وی . د (نیوټن) پر سر چــی منه‌راولو یده نو ډیر شیان یی تری‌زده کړل اود جاذبی قوانین یی‌تری

(c) ketabton.com: The Digital Library

را وایستل . (ارشمید سس) پهاوبوکی دجام پهننه ایستلو سره خپـل مشهور قانون را وایست .(جیمز واټ) د دی پیښی په لیدلو سرهچی «بخار په قوت سره د دیګ سر پورته لیری وغورځاوه » د بخـار ماشین اختراع کړ . په همدې ترتیب په سلګونو مختر عانو لـــه ساده لیدنو کتنو څخه ډیری ستری‌مفکوری را وایستی چی د ساینس پهنړی کی ډیر زیات ارز ښت‌لر ی‌پهدی اساس ویلی شو چی زده ـ کړه تر زده کړی پوری فرق لری .خلاقه‌او ابتکاری زده کړه له عادی او میخا نیکی زده کړی سره چی‌په‌حیواناتو کی لیدل کیږی جـــوت توپیر لری .

دوهمه دا چی(بیهیو یریستانو)له‌روح یاشعوز څخه د سلوك پـــه بیلولو سره هغه ته فقط د حرکتو نودیوه سیستم پهنظر وکتل .د دوی پهنظر ، د ګیډی سلوك ، د کو لموسلوك اودانسان سلوك یوله بلـــه توپیر نه درلود . په دی کی شك‌نشته چی حرکت دسلوك یوه‌بر خه دهخودا به هم سمه نهوی چی سلوك‌یوازی د حرکتونو مجمو عه وګڼله شی.په ځینو سلو کونو کی اصلاحرکت نه لیدل کیږی .

دریمه دا چی (بیهیو یریزم) لکه‌مخکی مو چی وویل اکثری تجر بی پر حیواناتو تطبیق کړی. دو یونشو کولی چی‌د انسانی شعـــور کیفی ځانګړ تیاوی تشخیصس کړی‌ا ودا واقعیت پهپام کی ونیسی چی انسان یوازی بیولو ژیکی‌موجودنه‌دی‌بلکی ټولنیز موجود هم دی .

د زده کړی یو بل تعریف‌داسی‌دی : «زده کړه یوه داسی پرو سه ده چی دهغی پهوسیله له یـــو ی‌وضعی یا پرابلم سره دمخامخ کیدو پهصورت کی فعالیت پیل کیږی اویا فعالیت تغییر کوی په دی شر ط چی په فعالیت کی تغییر د ذا تـی‌تمایلاتو (غرا یزو) ، پوخوالی یـاد اورګانیزم دموقتی حالاتولکه (ستو نزه ، نشه ، او نورو) زیږ نده نه وی . »

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دتارن ډايك د زده کړې نظريه :**

اډوارډلي تارن ډايك ( EdwardLee thorndike) دامريکې د متحدو ايالتونو نامتو اروا پوه او قاموس‌ليکونکې دى .

د ده د زده کړې نظريه ، له‌ځينو‌مخالفتونو سره سره ، تر نيمې پيړۍ پورې په متحدو ايا لتونوکې‌مسلطه وه او حتى لا تر اوسه پورې يې د ښوونې او روز نې پـه‌سايکا لوجې کې خپل ار زښت نه دى با يللى . تارن ډايك (۱۸۷٤ـ۱۹٤۹) په خپلو تجربى ميتود ونو سره له يوى خوا د (بيهيويريـزم behaviourism ) د مينځ تـه راتلو دپاره لاره هواره کړه او له‌بلى خوايى د ښوو نې او روزنې د سايکا لوجى بنسټ کښيښود.سر بيره پر دې ، تارن ډايك داحصا ــ ئيوى قاموس په‌ليکلو سره‌ددرسى‌کتابونو د تهيه کولو په‌برخه کى ستر خدمت ترسره کړ .

پخوا له دې چې د تارن ډايك دزده کړې نظريه شرح کړو بايـد وويل شي چې د ده کار ځينې‌سترى‌نيمگړ تياوى هم لري . لومړ ى دا چې تارن ډايك انسان ته‌ديوه‌سوچه‌بيولوژ يکې او ر گانيزم په سترگه گوري اودى ته‌کې ته پاملرنه نه‌کوي‌چې دانسان سلوك او کړه وړه‌زيا ــ تره د ټولنى او ټولنيزو شرايطــوپر بنسټ ټاکل کيږي . ده ونشو کړى او يايى نه غوښتل چې ،پرفرد باندى د ټولنيزو عواملو په‌تيره توليدى مناسبا تو اغيزه په حسا ب‌کى ونيسى . دو همه دا چې تار ن ډايك انسانى شعور په ساده توگه‌دحيوانى شعور ادامه گڼى او فکر کوى چې گويا دانسان او حيوا ن‌ترمينځ د کيفيت او نوعيت په‌لحاظ کوم توپير نشته بلکى د هغوى ترمينځ فرق په درجه او کميت کى دى. په دى اساس ، دى‌انسانـى‌سلـو ك لــه حيـو ا نى سلـوك سره ور ته او مشابه گڼى او کومى‌تجربى يى چې پر موږ کانو ، کو ــ ترو، او بيزو گانو تطبيق کړى دى‌دانسانى سلوك تر قلمرو پور ى تعميموى . دريمه دا چې تارن‌ډا يك انسانى شعور پاسيف او ما ــ شينى گڼى د مجرد فکر توانايى اودانسان دابتکار او تخليق استعداد ته‌لږه بيه ټاکى او يادا چې هيــڅ‌قيمت نه ور کوى تارن ډايك نشى

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولی دا واقعیت درك کړی چــــی‌ممکنه ده انسان دیوی انگیز ی په مقابل کی همیشه یو ډول عکس‌ العمل ونه ښیی بلکی د هغــــه د شعور سطح، انگیزنی ، او اخــلاقی ارزښتو نه هغه مقاومت ته راوبولی اویا دانگیزی په مقا بــل کی لــه توقع نه مخالف عکس العمل څرگند کړی . حیوان له‌سزا څـــخه تښتی خوښایی څینی انسانان د خپلو ایډیالو نو او اخلا قی ارز ښتونو څخه د دفاع په خاطر دسزا منلو ته تیار وی . دانسان په‌خلاف ،له حیوان سره د حیثیت اوپرستیژ مساله نه طرح کیږی او عکس‌العمل یی میخانیکی او انفعالی بڼه لری . له‌دی امله ، د مجاز اتو او مکا فاتو هغه سیستم چی په حیوانی زده کړه کی تطبیقیږی په هماغه شکل‌دزده کوونکو په ټولگی کی نشــــــی تطبیقیدی څکه چی دانسان سلو ك ډیر پیچلی او مغلق دی . د مثا ل په‌توگه ، دفابریکی خاوند څینو کارگرانو ته داعتصاب دماتولو دپاره بڼی ورکوی خو د دی احتمال زیات‌دی چی نومو ړی کا رگران دی د خپلو سپیڅلو ارز ښتونو اود کارگری جنبش دبریا لیتوب په‌خاطر درشوت له اخیستلو څخه‌ډډه وکړی‌اود خپلو صفونو له ملاتړ څخه دی لاس وانخلی .

دتارن ډایك د زده کړی د ټولــو پرنسیپونو شرح ځانته جلا څیړ نه غواړی څکه چی ده له‌پنځه ســــوو کتابونو او علمی مقالو څخه زیا ت آثار لیکلی دی او په دی رساله کی‌دهغو د تفصیل گنجایش نشته . دلته به‌یواز ی د ده دنظریی‌اساسی ټکی راوړل شی .

له‌تارن ډایك نه مخکی په‌اروا پوهنه کی نظری یا ذهنی (سو ــ بژکتیف) میتود ډیر معمول و .

ده د لومړی ځل دپاره پــــه‌اروا‌پوهنه کی د تجربی اهمیت تثبیت کړ او دایی عملا وښوده چی کید ی‌شی په اروا پوهنه کی (او بژکتیف) میتود په کار ولویږی . تارن ډا یك‌په خپله ساحه کی حتی د میخا ــ نیکیت تر مرحلی پوری پرمخ ولاړ .ده به ویل : ((هر شی چی وجـود لری اندازه کیدی هم شی . ))د ده‌پلو یانو د همدی مفکوری څخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیروی په نتیجه کی نه یــواز ی دذکاو تونو اندازه کولو ته ملاو تړله بلکی د اخلاقو او استعداد ونو پهمیچه کولو یی هم پیل وکړ .دتارن ډایك دتجربو په اثر داسی ذهنیتاو تمایل مینځ ته راغی چی کیدی شی کیفی حالات په کانکر یتهوکمیاصطلا حاتو تبدیل کړو او بیاوروـ سته یی داحصا ئیوی میتود ونسوتابع وگر ځوو . دی عمل تهپهتجرـ بوی میتود کی (په کمیــــت اړول quantification )ویل کیږی . تارن ډایك داروا پوهنی په سا حهکی په خپلو علمی تجربو ســـره د علمی میتود دپرنسیپونو په انکشافکید لیدنی وړ برخه اخیستی ده .

دتارن ډایك د زده کړی نظر یهد رابطی داصالت Connectionism پهنامه یادیږی .

له (۱۹۳۰) م . کال نهراوروستهتارن ډایك پر خپلو قوانینو باندی نوی کتنه وکړه او یو څه تعدیلاتیی پکی راوستل . د ده دنظر یی دعمده ټکو له شرح کولونه وروستهبهددغو تعدیلاتو پهبارهکی همخبری وشی .

(نیناتا لیزینه Nina Talyzina ) دشوروی اتحاد نامتو اروا پوهه په خپل اثر (دزده کړی اروا پوهنـــه-The Psychology of Learning د(۱۹۸۱)چاپکی دتارنډایكنظر یهپهلنډو عبار اتو کی راو ړی ده .دا لیکی : ((دتارن ډایك په نظر دزدهکړی جریان دیوه ټاکلی حالت او ټاکلی عکس العمل ترمینځ درابطیدتاسیسو لو او همدا رنگه د دغـو اړیکیو دټینگولوله پروسی څخـــهعبارت دی . )) (مخ ۲۵۸) . پهدی لنډ عبارت کی دتارن ډایك دنظریيجوهر ښودل شوی دی . د دیدپاره چی مطلب په عام فهمه ژبه بیا نکړو باید وویل شی چیدتارن ډایك دزده کړی پرنسیپ پرا نگیــــزه(یاحالت) اود هغی پهمقابل کـــی عکس العمل (ځواب) باندی بنــاشوی دی . دانگیـــزی او عــکسـ العمل ترمینځ رابطه د S—Rدفورمول په ذریعه افاده کیږی .

ژوندی اور گانیزم چی له یو ی انگیزی (Stimulus) سرهمخاـ مخ شی نو هرو مرو د دغی انگیزی(محرك یامنبه) په مقابل کی یـــو ډول عکس العمل (Response) څرگند وی . دمثال پهتوگه ، کهد

(c) ketabton.com: The Digital Library

چنگښبنـــــی پښبی ته ستن وروړوچنگښبه خپله پښه ور ټولوی .تارن ډایك وایی چې په حیواناتو (اوحتی انسانانو ) کی سره ور ته انگیزی سره ور ته عکسس العملونه‌راپاروی‌که انگیزی ته‌په پښتو کی (پاریزه) یعنی پاروو نکی ووایو او عکسس العمل هم (ځواب) وبولونو زمـونږ فورمول د (پـ-ځ) بڼه غوره کوی.یعنـی هر وخت پـه (پ) پسی(ځ) راځی . زده کړه د (پ - ځ)داړیکودپرله پسی ټینگو لو په نتیجه کی مینځ ته راځی . تر څو پوری چی‌د(پ) او (ځ) ترمینځ اړیکی ټینگیږی حیوان اشتباه کوی ، ازما یښـت‌کوی ، بیا اشتباه کوی او په پای کی یوه رابطه پیدا کوی . دتکرارپه‌واسطه دغـه رابطه پسی پـیاوړی کیږی‌چی دغه حالت ته زده‌کړه‌وایو.

دتارن ډایك دزده کړی نظریه‌ړردرو اساسی قوانینو ولاړه ده چی له‌هغو څخه بیانور فرعی قوا نیـن‌را ایستل شوی دی . دغـه در ی قوانین د چمتو والی ، تمریـــــن (تکرار ) ، او اغیزی (effect) په نامه یادیږی . (کیدی شی چی‌داغیزی په ځای د ثمری یا نتیجـی کلمه هم استعمال کړو . )دچمتو والی مقصد دادی چی‌ژوندی اورگاـ نیزم باید په داسی اروایی حالت‌کی وا قع وی‌چی د عمل دپاره لـه ځانه چمتو والی و ښیی . دتـارن‌ډایك په عقیده د دی دپاره چی د (پاریزی) او «ځـواب» تر مـینځ اړیکی ټینگک شی حیوان یا انسا ن باید په داسی ذهنی موقف کــــی‌واقع شوی وی چی په پای کی یی (اغیزه) تحقق ومومی . دمثال پـه‌توگه ، که زده کوو نکی په ډیـــر غمجن یابی اندازی خوشحاله‌حالت‌کی دښوو نکی درس ته ناست‌وی نو زیات احتمال دادی چی دښوو نکی درس به‌په ښه توگه زده نکړی شی .

که‌یو موږ ماشوم د ډوډی پــــه‌ذریعه کار کولو ته وهڅوو احتمال لری چی ډوډی یوا نخلي او دکارله‌اجرا کولو څخه هم غاړه وغړ وی. له دی امله ، چمتو والی دزده کړی‌دپاره اساسی شرط دی .

البته یوبل ډول چمتو وا لی هم‌شته چی په وده (یعنی دعمر پــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوخوالي) پوری اړه لري . تر ټــو چې ماشوم یو ټاکلی منګ (عمر) ته ونه رسیږي ځیني کارونه نشي ترسره کولی . د ښوو نځیو پــه لومړیو ټولګیو کې ماشومــان (دچمتو والي دوره) تیروی څــو د تارن ډایك مقصد دغه ډول چمتو والی نه دی چې له ودی سره ار ـ تباط لري بلکې د هغه مقصد ذهني چمتو والی دی .

دتمرین یا تکرار قانون دی وا قعیت ته اشاره کوی چې هر څــو مره د (پ ـ ځ) عملیه تــکرار شــي هماغو مره د (پ) او (ځ) ترمینځ اړ ـ یکی ټینګیږي . تکرار د زده کړي دپاره اساسی شرط دی .

لیکن تکرار یوازی هغه وخــت موثر ثابتیږي چې نتیجه یا اغــیزه ولري . بیځایه تکرار چې کو مــه نتیجه ور باندی مرتبه نه وی دزده کړی سره مرسته نه کوی .

دتارن ډایك تر ټولو مهم قانو ن داغیزی یا نتیجې قانون دی . د دی قانون په اساس کــله چــې د (پ ـ ځ) اړیکی یوه ګټوره او رضایت ـ بخښونکی نتیجه و لري نو د (پ) او (ځ) تر مینځ رابطه ډیره ټینګیږي . داغیزی قانون په حقیقت کی دمکا فاتو په واسطه د زده کړی دپرمختیا قانون دی . ددی په خلاف ، مجازات یا ناکامی د (پ ـ ځ) تر مینــځ اړ ـ یکی کمز ور ی کوی اود زیات تکرار په نتیجه کی د (پ) او (ځ) ترمینځ اړیکی بالکل شکیږي او له مینځه ځی . په تارن ډایك باندی انتقــاد شوی دی چې اغیزه یو ذهنــــی (سوبژ کتیف) حالت بیانو ی اوله دی امله د ده تجربی میتود په ټوله معنا آفاقی (او بژکتیف) نه دی . لیکن داروا پوهانو په عقیده تار ن ډایك خپل اصطلا حات په دقت سره تعریف کړی دی اود (سو بژکتیو یسم) څخه یې ځان ساتلی دی.

ځکه د ده په نظر نتیجه (یا رضایت بخښنو نکی حا لت) ددی معنا لــری چې په راتلو نکی وار کی به حیوان هماغسی عکس العمل بیا وښیی .

پرده باندی بیا انتقاد شوی دی چې مونږ د راتلو نکی عکس العمل په بار ه کی له مخکی نه قطعـــــی پیشګویی نشو کولی ، تارن ډایك وایی چې زه قطعی حکم نه کوم بلکه د (غالب احتمال) اصطلاح استعما ـ لوم چې په احصا ئیوی قانون کی یوه مجازه کلمه ده . په دی ترتیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

تارن ډایك د زده کړې په اروا پوهنه کې د ډېنا میك قوانینو پر ځای له احصا ئیوي قوانینو څخه استفاده کوي.
تارن ډایك له پور تنیو قوانینو څخه ځینې فرعي قوانین هم ایستلي دي چې د هغو له راوړلو څخه تیر یږو.

یوازې دومره یادو نه پکار ده چې تارن ډایك له (۱۹۳۰) کال نه وروسته پر خپله نظریه باندې نــوي کتنه وکړه او د اروا پوهنې پـــه بین المللي کانګرس کې (نیوهاون ۱۹۲۹) کې یې وویل چې «ما ځینـــې اشتباه ګانې کړې دي . » پـــــه (۱۹۳۲) او (۱۹۳۵) کې یې نـــور کتابونه ولیکل او په هغو کې یې خپلو تیر و تنو ته ګوته و نیوه . ده څرګنده کړه چې د تکرار قانو ن باید په ناوړه توګه استعمال نشي او زیاته یې کړه چې بې نتیجې تکرار د زده کړې د پیاوړ تیا سبب نـــه ګرځي . په همدې ترتیب ده دا غیزې په قانون کې هم ځینې تعدیـــلا ت وارد کړل.

## د پاو لوف د زده کړې نظریه

ایوان پترو ویچ پاو لوف (۱۸٤۹–۱۹۳٦) د شوروي اتحاد نامتـــــو طبیعي پوه او د نوبل د جایـــــز ې وړ و نکی د اروا پوهنې او فیزیولوژي په ساحه کې په مستقیمه توګه اود فلسفي د پېژندنې د تیـــور ی (اپیستیمالو جي ) په برخه کې یې په غیر مستقیم ډول ډېر ستر او د یادونې وړ خدمتو نه کړي دي .

د پاو لوف د مشروط انعکاس نظریه او په عمومـــــي ډول د ده دکتورین په طبیعي پوهنو کې د ماتېر یالیستي اروا پوهنې او د انعکاس د ډیالکتیکي ماتېر یالیستي تیور ی (لکه دژبې او فکر ترمینځ اړ یکې حسي ازانګه او منطقي معر فت ، او داسې نورو) بنسټ وګر ځید . امریکایي اروا پوهان (ارنســــت ــ هیلګارډ) او (ګورډون بوویر ) په خپل اثر (دزده کړې نظریې Theories of Learning کې لیکي چـــې د پاولوف د زده کړې نظریې نه یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شوروی اتحاد بلکې د نړۍ په نورو هیوادو کې او له هغې جملې نه‌د امریکې د متحدو ایالتو نو په علمي محافلو کې له تاوده هر کلي سره مخامخ شوی دی . امریکا یې‌اروا پوهانو (لکه گوتري ، سنکینر او هل )دده له دکتور ین څخه‌زیاته‌استفاده کړې ده . دوی زیاتوی‌چې دپاو لوف علمي نفوذ لاتر اوسه په‌اروا پو هنه کې مسلطدی‌او ((مونږ نیکمرغه یوچې د مشروطانعکاس په‌باب د ده نظریې اکثری پــــه انگریزی ژبې تر جمه شوی اوزمونږلاسس ته رارسیدلی دی .))

ایوان پاو لوف تر (۱۹۲۵)پورې‌په عسکری طبی اکاډمی کې دپرو ـ فیسر په توگه وظیفه اجرا کوله ،اوډ(۱۹۰۷) کال‌راهیسې دعلوموداکاډ ـ یمی غړی و . ده دمشروط انعکاســـد میتود په ذر یعه په ا نسا نا نـو او حیوا نا تـو کې د آفا قــــــــــــې‌تجربوی میتود په تطبیقولو سـره لوړ عصبي فعالیتو نه و څیړل.

دمشروطو انعکاسو نو څیړ نې‌پاولوف ته د دماغ دفعالیت دمیکا ـ نیزم او اساسي قوانینو دکشفو لوزمینه برابره کړه . په لومړۍ سر کې پاو لوف دهاضمې فیزیو لوژی‌تر څیړنې لاندې نیولـــې وه او د خپلو مطالعاتو په‌ترځ کې د مشروـطو انعکاسو نو له مفکور ې سر ه آشنا شواو هغې ته یې انکشا فـورکړ.

دا هم باید وویل شي چې لـــه‌پاو لوف نه مخکې دروسیې نامتـو فیز یا لو جست او ماټر یا لیست‌اروا پوه (ایوان میخا ئلوویــــــچ سیچینوف) د مغزو دانعکاسونو په‌باب څیړنې کړې وې او له‌همدې امله (سیچینوف ) ته د روسیې د فیزیو لوژی د پلار اودماټریالیستي اروا پوهنې د موسسس لقب ور کړشوی دی . (دزیاتو معلوما تو دپاره وگوری ، د فلسفې قاموس ، دپرو گرس خپرو نه ، مسکو ، ۱۹٦۷ ، مخ ۴۰۳) .

په دې کې شك نشته چــــې دیونانی (ارستو) نه‌نیولې تــــــر (سیچینوف) پورې د نړۍ دپـــروپوهانو د پیوستون (تداعی) له‌لارې دزده کړې په‌باره کې نظریې څر ـگندې کړې دی څو پاو لـــوف د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشروطي آزانګې «انعکاس» پــه برخه کې د علمي څیړنو په مرسته یوه مهمه نظریه فورمو لبندي کړه،(ارسطو) عقیده در لوده چې یـــو مطلب د نژدیوالي (مقار نت)، ور ته‌والي (مشابهت) او تضاد په‌واسطه په‌ذهن کې په بنه توګه ځای‌نیسي‌اود همدغو عواملو په مرسته پـــه آساني سره تداعي کیږي هم . ته

اوس به وګورو چې مشرو طه ازانګه (Conditioned refex) څه ته وایي اود زده کړې دپاره څـــه‌اهمیت لري مشروط انعکاس (چې ځینې‌یې شرطي ازانګه هم بولي )هغه انعکاس (یا ځواب) ته ویل کیږي چې له‌اصلي محرك«انګیزي»نه‌پرته دکوم بل محرك په واسطـــه مینځ ته راشي . په دې اساس ،اصلي پاریزه (محرك یا انګیزه) نا مشروطه پاریزه بلله کیږي .دمثال‌په‌توګه ، یو تیخور ماشوم په‌لومړي سرکي د تي په لید لو سره کـوم‌عکس‌العمل نه ښیي بلکې یــوازې هغه وخت چې تي یې لــه شونـډو سره ولګیږي عکس العمــــــل څرګندوي .

خو څرنګه چې ماشوم ډیر ځله‌دتي له رودلو نه مخکې تي‌په‌سترګو وینې په‌نتیجه کې د تي منظره د دې‌سبب ګرځي چې ماشوم خپلـــې شونډې وځبیښي (یاپه بله ژبـــه‌عکس العمل څرګند کړي ) . په همدې ترتیب ، انسانان ډیر زیات‌شمیر شیان د مشروط انعکاس له لارې زده کوي اود ځینو اروا‌پوهانو‌په عقیده په هر ډول زده کړه‌کې‌په یوه یابله بڼه د مشروط انعکاس پښه دا خله ده . یوه ماشوم چـې ستن (پیچکاري) نه وي وهـلـې .لومړي سر کي له ستنې نه‌نه‌ویر – یږي خو وروسته له هغې چې ستن‌ووهې دستنې له لیدلو څخه ویریږي او حتی د ډاکټر له لیدلو څخه هم‌ترهه کوي . یو چاچې له‌خپلـــو دوستانو سره په مینه‌او اخلاص‌ژوند کړی وي او له هغو څخـــه جـفا ووینې په نتیجه کې د نـویودوستانو له پیدا کولو سره هـــم علاقه نه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دپاو لوف تجربې :**

پاو لوف مخکې له دې چې سپي‌ته غذا ورکړي زنګ به‌یې واهه او ور پسې به‌یې سپي ته غذاوراچوله‌کله‌چې نه (۹) ځله دغه عمل تکرار شود سپي له‌خولې نه‌د ناړواتلس‌ځاځکې توې شول . د پنځلس‌واره تکرار نه وروسته د سپي له خو لې‌نه‌دیرشس ځاځکې توې شول . بل وار ته یوازې زنګ ووهل شو اوغذا ورسره نه وه خو سره له دې دزنګ په اوریدو سره دسپي لـه‌خولې نه پنځه شپیته ځاځکـــــې وڅڅیدل .

دپاو لوف په عقیده نه یواز ی دزنګ آواز بلکې د غذا دلوښي لیدنه هم ښایي دشرطي انعکاس د پیداکیدو سبب شي . دا خبره هم د یادونې وړ ده چې د پاو لوف پـه‌نظر انعکاس کیدی شي چې‌مثبت یا منفي ، پاروو نکي یامخنیوونکي‌وي . انعکاسو نه دانسان له عصبي سیستم سره اړه لري . مشرو طانعکاس دنامشروط انعکاس پـــه خلاف ، موقتي وي او تریوه وخته‌پورې داصلي محرك (غیر مشرو ط انعکاس) په غیاب کې ور ځنــــې‌کار اخیستل کیدی شي . برسیره پردې دپار یزې او انعکاس تـــرمینځ زماني فاصله هم دپاملر نې‌وړ ده . زده کړه په هغه وخت کـــــې‌اغیز ناکه وي چې د مشرو طـي پاریزې او انعکاس ترمینځ زما نې‌فاصله په‌دقت سره سنجو لشو ې وي .

دپاو لوف دزده کړې نظریه چې‌لومړې پر حیوا ناتو باندې تطبیـــق شوې وه وروسته دانسانانو پــــه‌مورد کې هم تطبیق شوه. له‌پاولوف نه‌ورسته نورو څیړو نکو په تیر ه‌بکتریف په دې برخه کې زیاتـــــې څیړنې او تجربې ترسره کړې .

**دپاو لوف د نظريي تطبيقي‌اړخ:**

لکه مخکې مو چې وویل انسا ندیر زیات شمیر شیان د شـرطـي انعکاس له لارې زده کوي .دپاو لوف په عقیده شرطي کول (یـــا مشروطول) د هر ډول زده کړ ې‌لومړ نې بنسټ ګڼل کیږي . شرطي انعکاسو نه فطري او غریز ي‌نه‌دي‌بلکه تحصیلي او اکتسابي دي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

له همدې امله د واقعي زده کړې په‌مفهوم استعما لیږي . دپاو لو ف دزده کړې له نظريې څخه دښووني‌او روزنې دمسایلو په حلولو کې ښایسته زیاتې استفادې شوي دي‌چې ځینې مثالو نه به‌یې دلته راوړو.

لومړی دا چې د مشروطولو د پاره باید له مشروطې پاریزې څخه نا مشروطه پاریزه د مخه وي‌او به دې توګه زده کړه ډیر ژر تحقق مومي . البته تجربې ښود لې‌ده چې د ترتیب په معکوس لو (یعنې د مشروطې پاریزې پـــه مخکې کولو ) سره هم زده‌کړه واقع کیږي خو داکار ډیر وخت نیسي‌اوزیات تکرار ته اړ تیالري .دمثا ل په‌توګه ، که لومړی ماشوم تــــه‌انعام ورکړو او بیا لغات وربانـدې زده کړو په دې صورت کې هم زده کړه واقع کیږي خو بهتـــر صورت یې دادی چې لومړی ماشوم‌لغتونه زده کړي او د دغه عمل نه وروسته انعام ورکړو .دانعام‌ور کولو او دلغتو نو دزده کولو تـر- مینځ باید ډیر وخت تیر نشي‌څوزده کوونکی احساس وکړي چـــې انعام دده له‌ناکلي عمل سره اړ ه‌لري .

دوهمه دا چې دمشروط انعکاس‌د تقویې دپاره تکرار ډیر اهمیـــت لري. په لو مـړي سر کې عصبي سیستم د مشروطې پاریـــز ی واره تکرار نه وروسته عکس العمل نه ښیي . خو له څـــو نتیجه کې انعکاس تقویه کیږ ی.له دې امله تکرار او تمرین دزده ـ کړې یو مهم عامل دی .

دریمه دا چې تشویق
motivation
هم په زده کړه کې ډیر ستر نقش‌لري . تشویق په هغه صور ت کې اغیز ناك وي چې له احتیاج ســـره‌تړلی وي او کومه ګټه ور څخـــه متصوره وي .

دمثال په‌توګه ، اکثر خلك‌اوس‌هغه ژبې زده کوي چې په علومو ، تکنالوجي ، تجارت او بین المللی تفاهم کې ور ځنی زیاته‌ګټه‌اخیستله

کیږی . ښوونکی پخوا لـه‌دی چې دیوی موضوع په تشریح پیل وکړی
باید زده کوو نکی په ذهنی لحاظ د درس زده کولو ته تشویـــق
کړی.

څلورمه دا چې د زده کوو نکواستعدادونه‌هم یو تربله‌توپیرلری. په
دی اساس ، دمشروطو لو په‌وخت‌کی‌د عمومی حالاتو په ترڅ کی باید
خصوصی حالاتو ته هم پاملرنـــه‌وشی .

پنځمه دا چې په زده کړه کـــی‌هـــمیشه تعمیم او انتقـــال دا خـــل
وی . د تعمیم څخه مقصد دادی که یوزده کوونکی په وړه ساحه کی
یوه مفکوره کسب کړی هغه بیا په‌لویه ساحه کی هم تطبیقوی. انتقال
هم تعمیم ته ورته دی خو په‌انتقال‌کی د ور ته والی پر مفکوره باندی
زیات ټنگر اچول کیږی . د ځینـــو‌ټاکلو مهار تونو زده کړه دنـــورو
مهار تونو له‌زده کولو سره مرسته‌کوی . د مثال په توگه ، که څوک‌یوه
ژبه ښه زده کړی کیدی شی یو هبله‌ژبه چې په‌خپل جوړ ښت کی
له هماغه ژبی سره ور ته والی لری‌په‌اسانه وخت کی زده کړی . البته‌دا
هم ممکنه ده چې د ځینو مـــهـــار تونو زده کړه دیوه بل‌مهار ت‌دزده
کړی مخنیوی وکړی . ویل کیږ ی‌چې دټایپ زده کړه د پیانو دزده‌ــ
کولو مخه نیسی .

**دگیشتالت اروا‌پوهنه:** پخوا له‌دی چې په ژب ښوو نه کی‌دگیشتا‌ــ
لت اروا پوهنی پرنسیپو نه وڅیړ ل‌شی د دی اروا پوهنی پس منظـــر
هدفونه او ار زښتو نه به‌په لنـــډه‌توگه معرفی شی .

گیشتا لت په Gestalt اصل کی جرمنی کلمه ده چې دشیانو
درا غونډولو او کښیښو دلو طریقی‌ته ویل کیږی . په قاموسونو کـــی
گیشتا لت د بیلگی (نمونی ) اوشکل‌په معنا هم راغلی ده .

د گیشتا لت اروا پوهنه دنولسمی‌پیړی په وروستیو وختو کی‌په‌جرمنی
کی مینځ ته راغله اود (۱۹۱۳) کال‌نه وروسته یی په‌ټوله نړی کـــی
شهرت وموند . د گیشتا لت اروا پوهنی مو سسس (مـا کس ورتیمر)
دی خود ده په څنگ کی د (ولفگا نگ کوهلر) او (کورت کافکا)نومونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

همد یادو نی وړ دی .ور تیمر کوهلراو کافکا خپلی څیړنی په آلمان کی پیل کړی ، په امریکا یی اروا پوهنه یی انتقادو نه وکړل ، او بیا یی دخپلو نظریو د دفاع دپاره دامریکی متحدوایالتو نو ته سفر ونه وکړل او همامغه یی استو گنه غوره کړه .

دګیشتالت اروا پوهنی په فلسفه، ښکلا پیژندنه ، بیولوژی ، کیمیا ، او اقتصاد کی هم نفوذ وکړ خو موږ دلته یوازی پرهغو موضو عګانو غږیږو چی د زده کړی د پرا بلمونوله حلولو سره مرسته کوی . دګیشتا لت اروا پو هنه دامریکی بیهیویریزم ، دتارن ډا یك د زده کړی دنظریی ، او تداعی دنظریو پر ضددیوه عکس العمل په توګه رامینځ ته شوه . امریکایی اروا پوهنی زیا تره میخانیکی او موزا ئیك بڼه درلوده . د مثال په توګه ، په امریکایی اروا پوهنه کی د اشتباه او ازمایښت، ګټی او مکافات ، لهجزءنه کل ته تعمیم ، تدریجی بدلون، میخانیکی زده کړی ، او پاسیف شعور پرنسیپونه منل شوی وو .دګیشتالت اروا پوهنی له خوا د پور تنیو پرنسیپونو پر ضد داعترا ض غږ پورته شو او ویی ویل چی اجزا که هر څومره په دقت سره تحلیل هم شی د کل د پیژندنی دپاره بسنه نه کوی. د مثال په ډول ، او به له آکسیجن او هایدرو جن څخه ترکیب شوی دی خو که موږ دآکسیجن او هاید روجن خواص په جلا جلا توګه وپیژنو د دی معنا دانه ده چی ګویا موږ داوبو خواص هم پیژند لی دی .

دګیشتا لت اروا پوهنه له کل نه جزء ته ځی او شیان جلا جلا او ټوټه ټوټه نه ګوری بلکی دیوه کل په چوکاټ کی یی له نوروشیانواو حالاتو سره دار تباط په ترځ کی مطا لعه کوی.

کله چی یو شخص موازی کر ښی ګوری داسی نه کوی چی لومړی یوه کرښه او ور پسی بله کرښه وګو ری بلکی دواړه په هماغه وخت کی وینی او د ((موازی توب)) مفکوره یی په ذهن کی انځور یږی . د ګیشتالت اروا پوهنی عمده مقولی دادی : کل، جوړ ښت ، رابطه ، حالت (یا موقعیت) ، او بصیرت (چی په خپل مفهوم کی له شهود یا ناڅاپی پوهی سره نږدیوالی لری. )

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبیهیو یریزم په اروا پوهنه کې یوه پیشو د غذا دلاسس ته راوړلود پاره داشتباه او ازما یښت له لارې پرمخ ځي . پیشو اشتباه کوي بیا په تصادفي توګه غذا ته لاره پیداکوي . دغه عمل څو ځله تکرار یږي په پای کې پیشو زده کوي چې څنګه(مثلا دتار په کشولو سره ) خپل ځان غذا ته ور ورسوي . د ګیشتتا لت اروا پوهنه زده کړه د بصیرت او ناڅاپي پوهې محصول بولـي .کوهلر د خپلې تجربې دپاره چمپا ــ نزې انتخاب کړه . ده په یوه کوټه کې کیله ځوړ نده کړه اویوصندوق یې هم چیرته په کونج کې کیښود.چمپا نزې کیلې ته وکتل څو پو ه شوه چې کیلې ته نشي وررسیدلې. یونا ځاپه د صندوق‌څخه‌داستفاــ دې په فکر کې لویږي . صندو قورا اخلي او په هغه ځای کې یې ږدي چې کیله ځوړ نده ده . دصنــــدوق‌سرته په ختلو سره کیلې ته تو پ ورا چوي او را اخلي یې .

همدا رنګه په‌یوه بله تجربه کې‌کیله دیوه نل په مینځ کې ایښود ل شوې ده او په کوټه کې یو کوټك‌هم شته . چمپانـــــزې له او ږده ((چړت)) نه وروسته کوټك را اخلي‌کیله تیله کوي او له نل‌نه‌یې‌راباسي بل ځلي دوه لنډ کوټکو نه په کوټه‌کې ایښودل کیږي چې هیڅ یو‌یې کیلې ته‌نه ور رسیږي .

چمپانزې دیوه کوټك په‌پای کې‌بل کوټك ږدي او په تیله کولوسره کیله له‌نل نه راباسي .

کوهلر داسې نتیجه اخلي چې دوساېلو د موجودیت په صورت کې لوړ حیوانات او انسان خپل شعورپه‌کار اچولي شي. درابطې موجو ــ دیت او د چا پیر یال جوړ بنتیــزمشخصات له زده کړې سره پو ره مرسته کوي . د ګیشتتا لت اروا پوهنه د تکرار او تمرین په ځا ی پرپوهه او بصیرت باندې ټینګا ر کوي او عقیده لرې کومه زده کړ ه چې د ژوزې پوهې او بصیرت لــــه‌لارې لاس ته‌راځي له‌هغې زه‌کړې‌نه ډیره اغیزمنه ده چې تشي دتکراراوتمرین په واسطه حاصلیږي . دتکر ــ ار له لارې زده کړه ړنده زده کړه‌ده‌او ګتوره نتیجه نه ور کوي . په‌دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي شک نشته چي په ځينو وختـونو کي د ګيشتالت اروا پوهني نظر په سمه ده خو په مقابل کي ځيني مهار تونه د تکرار او تمرين له لاري زده کيږي . مثلا په بدني روزنه کي او همدا رنګه د ژبي په زده کړه کي تمرين ډيره ګټه لري . ليکن په بدني روزنه اود ژبي په زده کړه کي هم داسي موارد شته چي عقل سليم ته بايد بلنه ور کړه وشي .

دفتهبال په لوبه کي او په سـوك وهلو کي بنيايي د تمرين تر څنګه پوهي او بصيرت ته هم اړ تياولرو.

دژبي په زده کړه کي د ګرامري قواعدو استعمال ار زښت لري . په عمومي ډول ويلي شو چي تمرين او بصيرت دواړه مهم او ډير ځله يو د بل متمم دي .

د زده کړي په برخه کي د حالت يا موقعيت مساله هم ډير اهميت لري . د دي مطلب د روښا نتيادپاره به څو مثالونه راوړو . که تاسو څپله ګوته دستر ګو په مخکي ونيسي لو مړي يوه ستر ګه پټه کړي او بيا يي وغړوي او بيا له څنډه ور پسي بله ستر ګه پټه کړي څه به وو ينـــي؟ غالبا تاسو ته به داسي احساســـس پيدا شي چي د دوهمي ستر ګي د پټولو په وخت کي مو ګو ته يوي خواته حرکت کوي .

ليکن وا قعيت دادي چي ستاسو په موقعيت يا وضع کي بدلون را ـ غلي دي . دا ستاسو دکتلو مو قعيت دی چي تغيير يي کړي دی . يو بل مثال : مونږ هميشه وايو چي (لمر راوخوت) آيا داخبره سمه ده ؟ د شپي چي په آسمان کي اوريځي په چټکي سره حرکت کوي آيا داسي نه بريښي چي تر سپوږ مي لاندي اوريځي ولاړي دي او پخپله سپو ـ ږمي په تيزي سره روانه ده ؟

د دي ټولو مثالونو مقصد دادی چي زده کوو نکي د زده کړي پـــه وخت کي يو ټاکلی حالت يا مو قعيت لري . دا حالت کيدی شـــي ذهني ، مکاني يازماني وي (چي دادواړه پر ذهن باندی اغيزی کوي) نود دي دپاره چي زده کوو نکـــي مطلوبه نتيجه لاس ته راوړي بايد چي په مناسب حا لت کي واقع شي د (جان لاك) مشهوره تجربه داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه چې يو لاسس يې (مثلا ښې لاس) يې دتودو ااوبو په لوښي کې‌اوکيڼ لاسس يې د سړو اوبو په لوښي کې‌د څو دقيقو دپاره ايښی وو. بيايې دواړه لاسونه په تومنهو اوبو کـــې‌کيښو دل گوری چې ښې لاس يې د سوړ والی او کيڼ لاس يـې‌د تودوالی احساس کوی . او بـه‌خو د دواړو لاسونو دپاره عين شی دی‌خود لاسونو پسې منظر يوتر بلـه توپير لری . دا وضع په ټولنيــــزژوند کی هم شته . دوه تنه ماموران خـپـل آ مـر ته و ر ځی . يوه ښه کار کړی دی او هغه بل يد. آمر صاحب يوه ته هم څه نــه‌وايی . کوم مامور چې ښه کار کړی دی له آمر څخه خپه کيږی او هغه‌بل‌تری خوشحا ليږی ځکه چې يوه‌د تحسين توقع در لوده او هغه بل دتوبيخ.

ښايی محترم لوستو نکی وپو ښتی چې دا ټولی خبری بالا خره د ژب ښوونی له مسالو سره څه اړه‌لری ؟ داپوښتنه پر ځای ده .اوس به مونږ د گيشتا لت اروا پوهنـــــی‌تطبيقی اړخ په نظر کی ونيسو .لو-مړی به‌له کل نه جزء ته تگ شرح کړو:

د گيشتا لت اروا پوهنی له روا جيدو نه مخکی دلوست کتابو نه له الفبا يعنی دتوريو (حروفو) څخـــــه‌پيل کيدل ، ور پسې به کلمی راتلی او په‌پای کی به جملی پيل کيدی .ليکن اوس دلوست اکثر کتابو نه دتوريو څخه نه شروع کيږی اوحتی‌دلوست په اکثرو درسی کتابونوکی دالفبا توری په آخر کی را ځی .دلته د گيشتا لت اروا پوهنی دوه پرنسيپونه په نظر کی نيول شوی‌دی : لومړی له کل نه جزء ته تگ او دو هم د پو هی يا بصيرت پـرنسيپ . د لومړی پر نسيپ مقصد دادی چې اجزا (توری ) دکل(جملو) په‌ترڅ کی زده کيږی د دوهم پر - نسيپ مقصد دادی چې زده کوونکی‌بايد داسی عبارت ولولی چې معنا ولری او زده کوونکی ته بصير تـور کړی. زده کوونکی دتورو په‌معنا او مفهوم نه پوهيږی . د جملی دزده‌کولو په ترڅ کی زده کوونکی ورو- ورو له آوازونو او توريو سره هم‌آشنا کيږی . بله دا چې آواز ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او کلمې په اصل کې د پوهو لواوراپوهولو دپاره دي او پوهول او راـ پوهول د جملو په واسطه تر سره کیږي نه د کلمو او یا فقط آوازونو په وسیله .

درابطې څخه مراد دادي چې ترټولو ښه زده کړه هغه ده چې له زده کوونکو سره د روابطو په درك کولو کې مرسته وکړي . پخپله علم د روابطو مجموعه ده خو په دې‌شرط‌چې دغه روابط د شیانو او پدیدوتر مینځ ماهوي ، ضروري ، تکرار یدونکې ، او نسبتا دوام لرونکې اړیکې وي چې په اصطلاح کې قوا نین او پرنسیپونه بلل کیږي . له چې یو ماشوم باران ګوري په دې‌نه پوهیږي چې اور ښت له اور ـ یځې ، حرارت ، بړاس اودسمندرله اوبو سره څه ارتباط لري . خو کوم وخت چې د ماشوم پوهه زیاته‌شي د شیانو او پدیدو ترمینـــځ اړیکې درك کوي . د رابطې پیژندنه‌نه یوازې په طبیعي او ټولنیـــزو پوهنو کې ستر ارزښت لري بلکې‌په ژبه‌کې هم زیات اهمیت لري . د یوې مفکورې د څرګند ولودپاره‌بایدد دال (لفظ) او مدلول(شي ،پدیدې) ترمینځ عیني او صریح اړیکې‌وپیژ ندل شي . دوینا منطقي تسلسل‌او دمختلفو مفکورو یو تر بله نښلول‌او مطلب ته‌په خپله قرینه کې ځای ورکول ، د وینا دمرکـــزي هستې‌ټاکل ، او داساسي او فرعي‌مفکورو په خپل خپل ځای کې راوړل ، داټول درابطې له مفهوم څخه زیږ ـ یږي . همدا رنګه د رابطې په‌برخه‌کې دو خت او ځای مساله هم طر ح کیږي په دې باره کې له پخوا وختوڅخه ډیرې لیکنې او څیړنې شو ي دي .

د مثال په توګه و یل کیږي. چې فصیحه وینا هغه ده چـــې دحال له غوښتنې سره سمون‌ولري‌او په هغـــــه کې د وخت او ځای اقتضاء ته پاملرنه وشي . د ژ بې‌ښوونکې کولی شي چې په دې برخه کې له کلاسیك‌ادبیاتو په تیره‌دمعاني‌له‌علم څخه زیات مثالونه راوړي .

د ګیشتالت په اروا پوهنه کې د پوهې یا بصیرت ( Insight )

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټکی مخصو صا د پاملرنی وړ دی .
پخوا به په ښوو نه او روزنه کی د زده کوو نکو پر حافظه باندی ډیر زیات باراچول کیده او ډیر ځله به شاگردانو داسی معلومات حافظی ته سپارل چی په مفهوم باندی به یی هم ښه نه پوهیدل . زمونږ په هیواد کی به د عربی ژبی د زده کولو د پاره طالب العلم ((صرف میر )) یاداوه چی په نتیجه کی به یی ځینی شا گردان په عصبی نارو غتیا وهم اخته کیدل . په کوچنیوالی کی می ډیر ځله اوریدلی دی چی خلکو به ویل ((پلانکی طالب سر میر «صــر فـ میر» لیونی کړ . )) د دی علت داو چی پر حافظه باندی به ډیر زور او فشار اچول کیده او شاگرد به له ذهنی ربړو سره مخامخ کیده . دگیشتا لت اروا پوهنه په زده کړ ه کی پوهی او درك ته زیات اهمیت ور کوی . د دی اروا پوهنی توصیه داده چی درسی کتابونه باید پداسی ترتیب ولیکل شی چی د میخا نیکی یادولو په ځای زده کوو نکی دمو ضوع ژورو ته ور ننوزی ، په مطلب ښه وپوهیږی او ضروری معلوما ت یی ذهن ته وسپاری . کله چی زده کوو نکی دموضوع په مطلب او مقصد ښه وپوهیږی په حافظه کی هم تر ډیره وخته پاتی کیږی او که ځینی معلومات یی له یاده هم ووزی اسا سی مفکوره او پرنسیپ یی په ذهن کی پاتیږی او دز ده کوونـــکی د شخصیت جزء گرځی .
د ښوو نکی وظیفه داده چی په زده کوونکی کی داستعجاب احساس راوپا روی ، له موضوع سره یـــی علاقه مند کړی ، او په ټاکلی مو ـ ضوع کی یی زده کړی ته تشویق کړی خو د لکچر یا توضیح په ځای د زده کوونکی دپاره داسی زمینــه برابره کړی چی هغه پخپله ځینی اړیکی او د مسالی د حل ځینی لاری خونه کشف کړی ، خپل ماغزه په کار واچوی اود موضوع ژورو تـــه ور ننوزی . ښوو نکی پاسیـــف او لاس تر زنی نه کښینی بلکی داسی شرایط برابروی چی له زده کوونکی سره د موضوع په فهم او درك کی مرسته وکړی . په دی ترتیب زده کوونکی تیاره لقمه نه ترلاسه کوی بلکی پخپله زیار باسی چی مسا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

حل کړی ، له خپل کار اوزیار نه‌خوند اخلی ، پر ځان ویسا اواعتماد پیدا کوی ، د ښیړنی له اسلوب‌سره آشنا کیږی ، دخلاق اوابتکاری فکر خاوند کیږی ، اودوړیا لاس‌ته‌راغلو شیانو او مفتخوری نه کرکـه کوی .

د گیشتالت اروا پوهنی د روا جیدو نه وروسته داسی مفکوره‌مینځ ته راغله چی ښوونځی د ما شـــوم‌دپاره دی ، دماشوم روزنه د ښووـ نځی اصلی هدف دی او نور ټو ل‌تدریسی او اداری فعالیتو نه د ده‌د پاره دی .

ځرنگه چی ماشوم د ښوو نځـــی زړه او مرکز دی نو د
Child-Centered
ښوونځي اصطلاح رواج شوه .

په دی ښوو نځی کی نصاب ا ودرسی پرو گرام دماشوم د روحیاتو او غوښتنو سره عیاریږی ، د ده‌سویه په نظر کی نیوّله کیږی.د ده دستونزو د حلولو دپاره زیار ایستل‌کیږی، اوهر څوك او هر څه د ده دخدمت دپاره گومار ل کیږی . له‌دی نه‌مخکی عمومی ذهنیت داسی و چی ماشوم به مجبور وهغه څه زده کړی‌چی د ده دپاره گټور او لازم گڼل شوی دی . دا مهمه نه وه‌چی ما شوم هغه مضمون زده کولی شی که‌نه بلکی مجبور و چی زده یی‌کړی‌که څه‌هم په وهلو او ټکولو سره‌وی د ده سویه اور وحیه مهمه نه وه‌بلکی د ښوونکی لزوم دید مهم و او پخپله ښوو نکی مهم و . په‌بله ژبه‌ماشوم د ښوو نځی دپاره و نه‌ښووـ ونځی د ماشوم دپاره. . د گیشتالت‌اروا پوهنی آسس په گاډی پسی‌وته تاړه بلکی گاډی یی په آسس پور ی‌وتړله . البته دا خبره به مبالغه‌وی که د گیشتالت اروا پوهنه لـــــه‌اجتماعی ـ اقتصادی جوړ ښتونو نه تجرید کړو. بالعکس ، د گیشتا لت سایکا لوجی د خپل وخت او چاـ پیریال د ټولنیزو او اقتصادی‌شرا یطو زیږنده وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دزده کړی ځینی عمومی پرنسیپونه:

زده کړه دسلوك تغییر ته ویل کیږی خو په دی شرط چی نومو ړی تغییر ارثی ، غریزی اود عمردپو خوالی زیږنده نه وی . نامشروط یا فطری عکس العمل د زده کړی په کتیگور ی کی نه راځی. نوزده کړه دسلوك هغه تغییر دی چی دتجربی او پراتیك په نتیجه کی رامینځ ته کیږی. دزده کړی په موضوع کی ډیر زیات عوامل دخیل دی او له همدی امله تراوسه پوری دزده کړی په برخه کی یوه ټاکلی او د ټولو لهخوا منل شوی وا حده تیوری نه ده وړاندی شوی . سره له دی، یو شمیر عمومی پرنسیپونه شته چی د اروا پوهانو اود ښوونی او روزنی د متخصصا نو لهخوا تاییدشوی دی چی دلته به په لنډه توگه معرفی شی . لومړی باید ووایوچی په هره زده کړه کی زده کوونکی، ښوونکی ،د زده کړی ماده یاموضوع اود زده کړی چاپیر یال (یا شرایط) لازمی عناصر دی چی د هغودنشتو الی په صورت کی زده کړه امکا ن نه لری . کیدی شی چی زده کوو نکی یوساده ژوندی اور گانیزم او ښوونکی هم یو شی یایوه پدیده وی.خودلته زموږ دبحث موضوع انسان دی او له دی امله دنورو ژوند یو اورگا نیز مونو په برخه کی دمثالونو له راوړلو څخه تیریږو .

دا څرگنده خبره ده چی هرانسان زیار باسی خپل هدف ته درسیدو د پاره لنډه او آسانه لاره ومومی .لهلرغونو زمانو راهیسی انسانانوزیار ایستلی دی چی خپل کارونه په آسانه طریقه سرته ورسوی . د ښوو نی او روزنی پوهانو هم د علم دتحصیل دپاره دآسانو او لنډولارو دپیدا کولو په برخه کی ډیری څیړنی کړی دی . خو دا ټکی باید هیر نه کړو چی د شخص هغه ،مینه، ذو ق فعالیت او له مسوو لیت نه ډك بر خورد داسی عوامل دی چی هیڅکله د زده کړی له صحنی څخه د غیر حاضر یدلو حق نه لری . د زده کړی هغه تکنیکونه چی دلته معرفی کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر عمومي دي او هرڅوك كولی‌شی‌په عمل كې‌یې تطبیق كړی او ګټه تری واخلی . راځی ترهر څه دمخه‌څپله پوښتنه په ساده او صریحـو الفاظو كې طرح كړو . پوښتنه‌داده:

كوم عوامل د زده كړی له آسا نولو سره مرسته كوی ؟ د دی‌پو ـ ښتنی ځواب به‌په لاندی مادو كې توضیح كړو :

١ـ دهدف ټاكنه : كه‌دزده كړی‌هدف څرګند او مشخص‌وی نو خپل هدف ته‌په آسانی سره رسیدلـــی‌شو . یوه معمولی لاره داده چی‌هره ورځ په ټاكلی ساحه كې ګامو نه‌واخلو ، مطالعه وكړو ، په ځیړ نه لاسی پوری كړو ، او خپلی‌زده‌كړی‌ته انكشاف ور كړو . بله لار هغه ده چی د ګیشتالت‌اروا پوهنی‌له‌خواهواره شوی ده او هغه داچی د جز ـ ئیاتو له‌څیړلو نه مخكی ترهد فـه‌پوری درسیدو یو كلی تصویـر او بشپړ انځور په ذهن كی ترسیـــم‌كړو. د دی په ځای چی یو یو ګام پورته كوو باید پړاوونه ، واحدونه‌عمده ځانګی تشخیص كړو ، دهغو ترمینځ اړیكی كشف كړو او له‌دغی((اكتشافی الوتنی)) نه وروستـــه جزئیات او لوړی ژوری‌په دقت‌سره‌مطالعه كړو ، او داصلی او فرعی ځانګو ترمینځ كرښی راوباســـو .دریمه لار داده چی په غیر مستقیم ډول ، او تقریبا په تصادفی توګه ،بی‌له دی چی د درسی متن په لو ـ ستلو پیل وكړو او كورنی دندی‌ترسره كړو دهدف په شاو خوا كــی وګرځو راو ګرځو اود خپلو معلو ماتو ساحه پراخه كــړو . په دی صورت كی د مقالو ، داستانو نو ،او بیوګرافیو لوستنه له مونږسره مرسته كولی شی . البته څرګنده‌ده‌چی په دغو درو لارو كی دو همـــه لاره غوره ده ځكه‌په دی صور ت كی‌زده كوونكی د معنا او مفهوم ژورو ته‌ور ننوزی ، روابط په ښه ‌ه‌توګه درك كوی ، داساسی او فرعی‌اړ ـ خونواو همدا رنګه د كلی او جزیی‌مسایلو په توپیر ښه پوهیږی ، د زده كوونكی د تخلیق او ابتكـــاراستعداد ونه روزل كیږی ، او د میخانیكی زده كړی په ځای ډیا لكتیكی پوهه تر لاسه كولی‌شی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ کلکه اراده : زده کړه یواز ی‌دهدف په ټاکلو اوپیژندلوسره لاس ته‌نه راځي بلکې هدف ته‌درسید لوډپاره باید کلکه اراده موجوده وی هر څوك هغه څه‌زده کولی شي چي‌غواړی زده یی کړی . کله چې هدف څرگند اوجوت و ی او مثبته نتیجه‌هم ور باندی مرتبه وی هماغو مره دزده کوونکی علاقه هم ههڅـــــول کیږی.

له زده کړی سره دشاگرد مینه‌دهغه دتوقع او آرزو گانو له سطحی سره مستقیم اړیکی لری . د دی خبری یادو نه به‌هم بی ځایه نه‌وی چې د هدف رو ښا نتیا اوکلکه‌اراده یوازی هغه‌وخت مثبته نتیجه‌ورکوی چې د زده کوونکی له استعداد اوقابلیت سره عیار شوی وی . که زده کوونکی خپلی آرزو ته درسیدوپه لاره کی له زیاتو خنډونو سـره مخامخ شي نو زده کړه په ښـــــه‌توگه پرمختگ نشی کولی او پــه تدریجی توگه آرزو پــه‌نا هـیلــی بدلیږی .

ښایی دا پوښتنه وشی چــــی دبالغ واو پخو زده کوونکو په برخه کی دهدف ټاکنی او کلکـــــی ارادی‌موضوع صدق کوی خو ماشو مان‌نه هدف ټاکلی شي او نه تصمیم‌نیولی‌شي . په داسی مواردو کی مسوـ ولیت د تعلیمی نصاب او ښوو نکی‌په غاړه لویږی . درسی او تربیوی فعالیتونه باید په داسی توگه تنظیم‌شي‌چي زده کوونکی زده کړی ته وهڅول شي ، په هغو کی د زیاتی‌زده کړی دپاره شوق او تمایل‌مینځ ته راشی او ترکومه حده چي ممکنه‌وی‌د زده کوونکی درسس باید دلوبو او تفریح ښه پیدا کړی . سره له‌دی په دی برخه کی دی‌له‌افراط څخه کار نه اخیستل کیږی ځکه چــــــی‌ژوند همیشه دلوبو او تفریح دپاره نه‌دی بلکی ستونزی او ترخه وا قعیتونه هم پکښی نغښتل شو ی دی .

ماشوم باید په یوه یابله ښـــه دخپلی زده کړی له‌هدف سره‌آشنایی پیدا کړی که څه هم چي د ده‌په‌نظر کی‌به هدف تت او مبهم شانته وی کلکه اراده هم‌د ترغیبmotivation په اثر مینځ ته راځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ـ وقفه لرونکی کوششس : یــوشمیر تجربو ثابته کړې ده چــی فاصله لرونکی زده کړه د پرله‌پسی‌او مترا کمی زده کړې په نسبت‌ښه نتیجه ور کوی . دمثال په توګه، که‌په‌یوه ورځ کی دری ساعته سر په سر ژبه تدریس شی ډیره ګټه نه‌لری‌د هغی په ځای په‌دا بهتره و ی چی یوه نه بله ورځ پویو ساعــت‌تدریس شی . البته مترا کمه زده کړه په هغو موارود کی ښه نتیجه‌ورکولی شی چی د زده کړې‌موضوع په‌کافی اندازه آسانه وی او هضم‌یی مشکل نه وی . .دو قفه‌لرونکی زده کړې یوه ښیګڼه داده چی یــومطلب یا مفکوره په ذهن کی ښــه کښیښی اود بل مطلب د زده کړې دپاره زمینه برابروی .

بله دا چی وقفه لرونکی زده کړه‌شاګرد نه ستړی کوی ..سره له‌دی دیوه درس اوبل درس تر مــینــځ‌وقفه باید په زمانی لحاظ ډیره لری نه‌وی . اروا پوهانو په‌دی برخه کی‌څیړنی کړی دی ، باید د وقفــی د تاکلو دپاره دهغو له تجربو څخـــه‌ګټه واخیستله شی .

٤ـ اضافی (له معیار نه پور ته)زده کړه: که‌یو زده کوو نکی لـــه تاکلی معیار سره سم درس‌زده‌کړی‌اود حاضرینو په مخکی یی په مو ـ فقانه توګه تکرار کړی شی ‌دی نه‌زده کړه ویل کیږی . خو که‌چیری زده کوو نکی بیابیا خپل درســــ‌تکرار کړی دی ته اضافی ( لـــــه نصاب نه پور ته ) زده کړه وایی .

اضافی زده کړه over learning پوره ګټه لری اود اصلی زده کړ ی په نسبت اړ زحمت غـــواړی . دمرستیالو موادو لو ستنه هـــم د اضافی زده کړی په کټیګوری کی راځی. داد ښوو نکی وظیفه ده چی زده کوونکی د تکرار ، کورنی دندی‌مرستیا لو موادو په واسطه اضا فی زده کړی ته وهڅوی .

٥ـ ټوله زده کړه او د برخو زده‌کړه : د مطلب د توضیح دپاره به یـــو مثــا ل راو ړو . فر ضـــاً ناسو غواړی د خوشحال ختڼک یـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظم په یاد کړي . ستاسو پهمخکي دوی لاری دي : لومړی دا چي یو یوبیت یادوی او له خو بیتو وروسته بیاله سره یادشوی بیتو نــه تکرار وی او په دي ترتیب تر پایه‌پوری پرمخ ځي اوټول نظم پهیـا دوی . دوهمه طریقه‌داده چي‌له سره تر پایه پوری نظم لولي بیا بیایي لولي تر څو چي ټول نظم پهیادکړي گومان کوم چي زموږ په ښو ونځیو کي لومړی طریقه ډیر عمومیت لري‌خود اراواپو هانو په نظر دو همه طریقه غوره گڼله کیږي اوعلت یي‌داسي ښودل شوی دی چي پـــه دو همه طریقه کي د بیتو تر منځ تـــرمینځ رابطه پهښه توگه درك کیږي زده کوونکي یو کلي‌تصویر او عمو مي مفکوره تر لاسه کوی ، دمطلب ژورو ته ور ننوزي ، او که پهنظم کي‌منطقي تسلسل‌موجود وی‌دافکارو تداعي له زده کړي سره مرسته‌کوی‌خو که چیري دیوه مضمون مطالب تیت او پرك وی او یازده کوونکي‌دموضوع په مطلب نه پوهیږي اوپه میخانیکي ډول یي زده کوی په دي‌صورت کي لومړی طریقه غوره‌بر ــ ښي خو دا هم باید زیاته کړو چي‌میخانیکي زده کړه چنداني گټه نه لري .د ځینو موضو عگانو پهیادولوکي باید د (ټولي زده کړي ) له‌پر ــ نسیپ نه کار واخیستل‌شي .دمثال‌پهتوگه ، داکتوبر د انقلاب په باره کي چي څوك مطالعه کوی بایـــد دانقلاب پس‌منظر اوعلتونه ،دانقلاب جریان ، او نتیجي یي ټول یو ځای‌او په یوه وار مطالعه شي په دي صورت کي د زده کوونکي ذهن پهښه ډول روښانه کیږي ، د پیښو ترمینځ روابط په ښه توگـه در ك‌کولي شي اود موضوع ماهوی او قشری اړخونه تشخیصو لی شي .

هر څومره چي زده کوو نکـي دتاریخ نوموړی فصل له ځانه سـره تکرار کړي هماغو مره بهیي فهم اوبصیرت زیات شي .

د دي په خلاف ، د برخو بر خویادونه بنایي د زده کوو نکي دپاره ډیره گټه ونه لري څکه پهدي‌صورت کي د پیښو ترمینځ منطقي ار ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تباط او تسلسل ته‌نه متوجه کیږي‌اود ډیالکتیکی پروسی د درك کولو
پر ځای میخانیکی پوهه تر لاســـه‌کوی .

٦ـ د ترقی په‌باره کی پوهه : که‌زده کوونکی وپوهیږي چـــی د ده
معلومات زیات شوی دی اود زده کړی سطح یی لوړه شوی ده نو دا
کار د ده دمعلوماتود سطحی پـــه‌ارتقاء کی نوره هم مرسته کوی او
دزده کوونکی دزیات پرمختگ‌سبب گرځی . زده کوونکی دی ته ضر ـ
ورت لری چی وپوهیږي آیاد ده‌کارسم دی که غلط ، ښه دی که بد .
که شاگرد د خپل کار په نتیجه‌ونه‌پوهیږي دا کارد ده دتشو یشس ،
نارامی ، او په پای کی د نهیلـــی(مایوسی) باعث گرځی . فرض‌کړی
چی یوخوك په توپك نـــښنه و لـــی‌خو په دی نه پوهیږي چی مرد کږیی
چیرته لگیدلی دی او له‌نښی نــــه‌څومره فاصله لری ، آیا کولی شی
چی خپله اشتباه په آسانی ســـره‌تصحیح کړی ؟ طبعا ، نه . په‌همدی
ترتیب ماشوم باید د مور او پـــلاراو ښوو نکو له خوا خپلو مثبتو یا
منفی عملونو ته متوجه کړی شی . په دی صورت کی نه یوازی‌دما ـ
شوم پوهه او معلو مات زیاتیږ ی بلکی مثبتو او ارزښتمنو کارونوته
تشو یقیږي لا هم . اروا پوهانو په‌دی برخه کی ځینی تجربی هم‌سرته
رسولی دی چی یوه یی دا ده : د (الف) ټولگی داز موینی نتیجی په
اوسط ډول د (ب) ټولگی سره یـــوشانته وی . بل ځل چی ښوو نکی
ازموینه واخیسته (الف) ټولگی ته‌یی داز موینی نتیجی ابلاغ کړی خو
د(ب) ټولگی له نتایجو څخه بـــی‌خبره پاتی شو . په راتلو نکی‌از ـ
موینه کی چی نتیجی وکتل شوی د(الف) ټولگی د (ب) ټولگی په‌نسبت
ډیر پرمختگ کړی و . اروا پوهانوددغه پرمختگ علتو نه داسی بیا ن
کړی د ی (۱) له نتایجو څخه پـــه‌خبریدلو سره زده کوونکی هڅـــه
کوی چی سم ځوا بونه تکرار کړی(۲) له ناسمو ځوا بونو او اشتباه
گانو څخه ځان وژغوری ، او (۳)دسمو ځوا بونو دمو ندلو د پاره لا
نور هم هڅول کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ــ تکرار: دمعلو ماتو دیادولواو یاد یوه مهارت د زده کولو دپاره تکرار او تمرین ډیر زیات اهمیــــت لری . انسانان له ډیرو لرغونـــو زمانو څخه په دی رمز پوهیدلی‌دی. دتکرار او تمرین په ذریعه دکاراجرا کول اسا نیږی او په چټکتیا سره‌ترسره کیږی ، داشتباه گانو چانس کمیږی ، او زده کړی معلومــــات ،مهارت ، یا عادت ژر نه هیر یږ ی بلکی تر ډیره وخته پوری دوا م کوی . البته د تکرار بهتر شکل‌هغه دی چی زده کړی موضوع یا مهارت‌په نوی چاپیر یال او نوی حالت کی و ازمویل شی . مثلا که چا موټر په‌سم او هوار سړک کی زده کړ ی وی باید په پیچومو ، کږ لیچونواوهوارو سړکونو کی‌هم موټروچلوی. یا داچی زده کوونکی په یوه‌چا پیریال کی د کومی نارو غتیا تداوی کړی وی بنایی چی په یوه بله سیمه کی (چی په اقلیمی یا اقتصــــا دی لحاظ هغی بلی منطقی سره تو پیرلری ) هم څپله تجربه تکرار کړ ی په طبیعی پوهنو کی تکرار معمو لایو شانته نتیجی ور کوی خو پــــه اجتماعی ، سیاسی ، او کلتوړ ی چارو کی باید دنورو له تجربو څخه په معقوله توگه او احتیاط ســــــره‌استفاده وکړو . له دی امله ، بنه تکرار هغه دی چی میخا نیکی بڼـــه‌ونه‌لری بلکی په‌نویو شرایطـــو او حالاتو کی له پخوا نیو معلو ماتو اوتجربو څخه په‌بنه توگه استـــفا ده وشی .

۸ــ تطبیقی زده کړه : انسان یوهدف لرونکی مخلوق دی. نودی‌چی هر څه کوی او یایی زده کوی‌بایــدیوه عملی گټه ولری او څه نتیجه‌ور باندی مرتبه وی . اوس څوك د یونانی فیلسوف (ارسطو) له دی نظر سره سر نشی خو څولی چی‌وایی : ((بهترین علم‌هغه‌دی‌چی‌گټه یی لرِه وی . )) نور نو څوك علم دعلم د پاره نه زده‌کوی‌بلکی‌ددی د پاره یی زده کوی چی د انسان‌ژوندبنه شی اود علم په‌برکت څپلی ار‌ــ تیاوی پوره کړی او ستو نزی حـــل کړی. د زده کړی په باره کی بایــد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووایو چې لومړی : ښه زده کړه هغه‌ده چې تطبیقی اړخ ولري . دو همه دا چې هره زده کړه په هغه وخت کې پایښت لرونکې وي چې په‌عمل کې تطبیق شوی او از مویل شو ی‌وی . په تطبیقی زده کړه کـــی د نظری معلو ماتو صحت او سقـم‌اثبات ته رسیږی ، پخوانی معلومات تکرار یږی ، له عمل سره ار تباط‌پیدا کوی ، او نتیجه‌یی‌دزیاتی‌زده ــ کړی د تشویق موجب ګرځی .

۹ــ ((امسا پیزه)) زده کړه :لکه‌ګوړ او نا توانه (بی سیکه) سړی چې امساته ضرور ت لری هماغسی‌ماشومان (او ښایی لویان ) دزده‌ــ کړی په وخت کی له ځینو (امسا ګانو) ځخه کار اخلی .

دمثال په توګه ، دلومړی ټولګی‌شاګردان د شمیر ږ ه‌مضمون کی‌د ګوتو په کېلو سره د جمعی‌او تفریق‌مسایل حلوی . یادا چې د دری ژبی زده کوونکی د لیکنی یاوینا په‌وخت‌کی له ځان سره سوچ وهی چې د ذیروح جمع په (ان) اود غیر ذیروح‌جمع په (ها) سره راځی نود (مرد) جمع باید (مردان) راشی . دغه‌ډول«امسا ګانی» له زده کړی سره‌یوره مرسته کوی خو اروا پوهان توصیه‌کوی چې باید د دغه ډول «امسا ــ ګانو» استعمال موقتی‌وی او د عادت‌به غوره نکړی .

۱۰ــ فعاله زده کړه : د ښوونی‌او روزنی متخصصان زیار باسی چې د عنعنوی پاسیف تعلیم په‌ځای‌فعاله زده کړه رواج کړی . پخوا به ځینی ښوو نکی د درسی ساعت له‌پیل نه ترور وستی شیبی پـــوری غږیدل او له زده کوو نکو ځخه به‌یی غوښتل چې فقط غوږ ونیسی ، هیڅ حرکت ونکړی ، پوښتنه‌ونکړی‌او هر څه چې ښوونکی ور ته وایی هغه ټول په پټو سترګوومنی. لیکن‌اوس د ښوو نی او روزنی مسو ــ ولین کوښښ کوی‌چې زده کوونکی‌په درسی ساعت کی زیاته ونډه‌واــ خلی ، دهغوی استعداد ونه په‌کـــاروا‌چول شی ، پوښتنی وکړی،پخپله لار پیدا کړی ،د ښوو نکی ســــره‌مباحثه وکړی ، پر ځان اعتماد پیدا کړی ، او دابتکار ی فکر خاوندا نشی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریمه برخه

## ژبښوونه

په دوهمه برخه کی مو د زده کړی ځینی مهمی نظریی شرح کړی اوس د دی وخت را رسیدلی دی چی پور تنی نظریی د ژبی په ډګر کی پلی کړو . لومړی به د ژبی دزده کړی ځینی مهم اړخونه بیان کړو او ور پسی به زموږ په هیواد کی دژب ښوونی پسس منظر وښـــودل شی .

### دژبی د زده کولو ځینی مهـــم اړخونه :

د (ارسطو) له وخت نه را په دیخوا انسان ته ناطق حیوان ویل شوی دی دمریی توب په دوره کی چـــی غلامانو ته د انسان په نظر نه کتل کیده مریونه به یی د((ناطق ابزار)) په نامه یادول . مقصد دا چی انسان له حیواناتو څخه دژبی او وینا په درلودلو سره ممتاز ګڼل شوی دی او مریی هم د نطق په برکت له نورو ابزارو څخه امتیاز در لود . اوسنی اروا پوهان هم په دی عقیده دی چی انسان دماغزو او وینا په بر کت د حیواناتو له نړی څخه ډیر لیـــری شوی دی . په دی حساب ، ژبه د انسان په ټولنیز ژوند کی ډیـــر زیات اهمیت لری او له همدی امله ویل شوی دی چی ژبه د تمدن عراده ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروا پوهانو د ذکاوت په از موينه‌کي دلغاتو نقش ډير مهم ګڼلی دی
دوی وايي چې‌د چاپير يال پـــــه‌پيژندنه او په کار اچونه کي ويي
پانګه (دلغاتو ذخيره )اساسي رو ل‌لري . دځينو اروا پوهانو په عقيده
دويي پانګي ډير ښت د ذکاوت‌علت‌اود ځينو نورو په نظر د ذکـــــاوت
معلول (يانتيجه) ګڼل کيږي .

خوپه دواړو صور تونــــو کي داثابته ده چې ذکي او معقول انسا ن
پرزياتو لغاتو بانډی احاطه لري اوپه عملي ژوند کي يي پـــکار وي .
ځينو ځيرنو ښودلي ده چې پانده شاګردان د کنهو شاګرانو په‌نسبت
ذکي دی چې البته عمده‌علت يي‌دويي‌پانګي توپير دی . د اروا پوهانوپه
عقيده تکړه او لايق زده کوو نکي‌عموما د منځنيو‌زده کوو نکو پـــه
تناسب زياته ويي پانګه لري .

ژبه له چاپير يال سره د توا فق‌په‌برخه کي هم زيات ارزښت لري .
روزيات شمير کسان چې په ژوندکي له ستونزو او ربړو سره مخا-
مخ‌کيږي علت يي داوی چې هغوی‌خپل مقصد او غوښتني په ښه توګه
نشي ځرګند ولی . (ډاکتر کاين کميپ بيل) يو نامتو سايکاټريست
وايي چې اکثر عصبي نارو غان‌نشي‌کولی خپلي ستونزی او مشکلا ت
په ځرګندو الفاظو کي افاده کـړی‌په واضحو او مشخصو کلماتو سره
ديوی موضوع ځرګند ونه دپوهي‌اوعلميت غوره ښښه ګڼـله کيږی . د
ځينو پوهانو په‌نظر ، ((تفکر)) لـه‌خپل ځان سره د غږيدلو پروسه ده
کلمي يوازی سمبولو نه‌نه دی بلکي‌مفکوری او داړيکو تر منځ کړی‌دی.
ډير ځله داسي پيښيږی چې دوه‌تنه‌هماغه يوه‌خبره کوی خو ديو بل په
مطلب نه‌سره پوهيږی او کله کله‌خبره جنګ ته ورسيږی.

د دی يادو نو ځخه مقصد دادی‌چې ژبه د ذکاوت ضريب زياتوی او
دښه تفاهم ، توافق او علميت دپاره‌ضروری ګڼله کيږی . د ژبی دښو-

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونې په برخه کې ښوونکي بايد دېلاندې ټکو ته خاصه پاملرنه وکړي :

۱ـ د زده کوونکو د لغاتو ذخيره‌دې زياته شي .

۲ـ د خبرو ، محاورې ، او دبيا نيې دايرادو لو دپاره دې زمينــــــه برابره شي .

۳ـ د پوهنو په اختصا صي ښا نګو کــې دې ‼ سا ســې کلمې‌او اصطلا حات زده کوو نکو ته ورو ښوول شي .

٤ـ پرسم تلفظ ، د کلمو ســــم‌انتخاب ، او دويلو پر آهنګ دې زيات فشار واچول شي .

دنړيوال ښه تفاهم اود نورو ټو لنو له‌علمي او تخنيکي پر مختګونو څخه داستفادې دپاره د خار جـــې‌ژبو زده کړه هم زيات اهميـــــت لري . ديوې ټولنې کلتور هغه وخت‌ښه پيژندل کيږي چې سړی‌دهغې ټولنې ژبه‌زده کړي . ژبه او کلتورديوې سکې دوه مخونه دي . هره ټولنه بايد دنورو ټولنو له کلتورې‌او فرهنګي ذخيرو څخه دخپــــل ثقافت د غنې کولو په خاطر ګټـــه‌واخلي .

په دې اساس ، زده کوو نکې‌برسيره پر ملې ژبو بايد د باندنيوژبو زده کړو ته هم وهڅول شي .

**ماشو مان او ژبه :**

هما غسې چې ژبه په‌عمده توګه‌ټولنيزه پديده ده بيولو ژيکي‌پديده هم ګڼله کيږي . هر څومره چې ما شوم وده کوي هماغو مره يې د ژبې د زده کولو توان او استعداد هـــم‌زياتيږي . تيخور ماشو مان لومړ ی يو توريز (يو حرفي) آوا زونه لـــه‌خولې څخه راباسي او وروسته پـــه دوه توريزو آوازو نو بدليږي . دمشروطولو په‌پروسه کې ماشو مان ورو ورو د آوا زونو اوشيانو تر مينځ اړيکې پيژني . د ژبې لومړ نی زده کړه پاسيف شکل لري او بيــافعاله ښه غوره کوي .

ماشوم ښايي ونشي کولای چې بشپړه کلمه تلفظ کړي خو دکورنی غړي هغوی ته‌يوه معنا ور کوي اوله‌يوه شي (مدلول) سره يې تړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددغو ابتدایي الفاظو داستعمال پـه‌وخت کي ماشوم ته‌تي ور کول‌کیږي یاا‌وبه یاد لوبو شي ور ته راو پل‌کیږي او دمکا فا تو په نتیجه کـي ماشوم د نورو الفاظو زده کړي ته‌تمایل پیداکوي . هغه ماشو مانچي دلویانو سره زیاته ناسته ولاړه لري‌دهغو ماشومانو په‌نسبت چي لـــه خپلو همځولو سره لوبي کوي دژبي‌په‌زده کړه کي زیات پرمختگـــــك کوي .

کله‌چي ماشو مان ښوو نځي‌ته‌داخل شي د هغو سویې یو له بلــه توپیر لري . دځینو ماشو مانو د لغاتو ذخیره د نورو ماشو مانو په نسبت زیاته وي او مطلب په ښه توگه افاده کولی شي . ښوو نکی باید داسي خبري ونه کړي چـــــي‌ضعیف او بیرته پاتي شاگردا ند کمتری ، شرم یا خجالت احساس‌وکړي. که ښوو نکی ووایـــــي : «وگورو پلا نکي هناك څومره ښـــي‌خبري کوي او تاسي یي نشــــي کولی)) احتما ل لري دغه جملي‌د زده کوو نکو پرسا یکالو جي‌ناو ړه اغیزه وکړي اود هغو جرات سلـــب‌کړي.

شر مید ونکي‌او محجوب‌شاگردان‌باید وهڅول شي چي خبري وکړ ي اود مهرباني لاسس پررا کښ شي .

د اد ښوونکي وظیفه ده چي پـــه‌ټولگي کي د ټولو زده کوو نکـو د پاره دخبرو کولو زمینه‌برابره کړي،دهغوي د کمتری احساس له‌مینځه یوسي ، او همکار ي او ونــــــه‌ي‌اخیستلو ته‌یي تشویق کړي .

د ځایونو لیدنه ،د کار تو نـــي‌فلمونو ښودنه ، او دور ځنیـــــــو جریا ناتو په‌باره کي پوښتنه‌شاگر دانو ته ددي موقع برابروي چي‌په مباحثه کي گډون وکړي ، خپـــــل‌نظرونه څرگند کړي ، نوي شیا ن زده کړي ، اود خبرو کولو مو قـــع‌ترلاسه کړي .

نه‌یوازي دماشو مانو په برخه‌کي‌بلکې د لویو ټولگیو په‌برخه کي هم باید دوینا ، کنفرانسس او خبـــروکولو دپاره مساعد چانسن برابرشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دی مرحله کی باید له زده کو ونکو سره مرسته وشی چی د مو- ضوع مرکزی هسته وپیژنی، لــــهموضوع نه د باندی خبری ونه کړی لغتونه په مناسب ځای کی استعمال کړی، نحوی اشتباه گانی ونه کړی تلفظ او آهنگ ته پاملرنه وکړ ی اوکه ممکنه وی له ادبی تشبیهاتو او هنری‌فور مونو څخه استفاده وکړی‌دوینا په وخت کی باید دبی لزو مه تکرار او ناوړه ژستونو مخه ونیوله‌شی . د وینا آهنگ او ژستونه دی له موضوع سره متناسب وی . ددی‌دپاره چی وینا سړه ، وچه ، بـــی روحه او یکنوا خته یا مبتذله نشی‌زده کوو نکو ته دی دوینا کولــــو تکنیکونه ورو ښودل شی .

## ژبنی مهار تونه :

ژبنی مهار لونه خلور دی : اوریدل ، ویل ، لوستل او لیکل دویلو په‌باره کی مو مخکی خبری وکړی.

اوس به د درو نورو مهار تو نوپه‌باره کی په لنډه توگه ځینی غــټ غټ ټکی شرح کړو .

## اوریدل :

د ژبی د زده کولو لومړی شر طاوریدل دی . د ما شو مانو په ما- غزو کی د اوریدلو له لاری مفکوری‌عقیدی ، انگیرنی او معلو مات سره یو ځای کیږی‌اود هغوی شخصیتونو ته تشکل ور کوی . دوی له همد غو معلوماتو ، مفکورو عقیدو، اوانگیر نو سره ښوو نځی ته را ځی)معمولا ماشو مان هغه څه اوری چی ډراما تیك شکل ولری اود هغوی پاملرنه ځانته واړوی . لو یان کولی شی‌له‌مخکینی پلان سره سم داوریدوپرو- گرام تعقیب کړی خو دماشو مانو اوریدنه په تیره د ښوونځی‌نه مخکی دوره کی تصادفی بڼه لری . ماشو مان ښایی دویو نکی له خولــــی څخــــه یوه یادوی جملی و اور ی‌او نورنو د خپلو خیالونو لړی‌پسی تعقیب کړ ی . دا دښو و نکی په مهارت پوری اړه لری چی څنگـــه دماشوم او ریدنه په چاپیل کـــی‌واچوی او هغه له خوږو خوبونــــو او رنگینو خیالونو څخه د واقعیتونواو اړتیا و نړی ته رابولی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

داد میندو پلرونو واو ښوو نکــودنده ده چی داوریدلو په‌برخه کی‌د ماشومانو دپاره سم مو ډول انتخاب‌کړی . ځینی کورنی زیار باسی‌چی دخپلو ماشومانودپاره داسی‌همځولی‌ولټوی چی د ښو اخلاقو پر درلودلو سربیره دمعیاری لهجی په استعما لولو کی مهارت ولری . که څه هــم میندی پلرونه د دی حق لری چی دخپلو ماشومانو دښی روز نی پــه خاطر د هغوډپاره مهذب همځولـــی‌پیدا کړی خو په دی کار کی بایدله پوره احتیاط څخه کار وا خیستل‌شی‌چی په اولاد کی یی دتبعیض اوله نورو څخه دکرکی احساس پید انه‌شی . هر څومره چی د همځولــو د پیدا کولو پروسې ته طبیعی بڼــــه‌ورکړه شی هماغو مره به بهتــــره وی .

په ښوونځی کی‌هم بایدداوریدلومو‌ډل وپلټل شی . لومړی موډ ل پخپله دژبی ښوو نکی دی . زده کوونکی همیشه دده خبری اور ی او تقلیدوی یی . له ښوونکی څخـــه‌طبعا داتوقع کیږی‌چی‌دزده کوو نکو دپاره دمهذبـــی او فصیحی و یـنا نمونه او مثال وی . دده له‌خولی‌نه باید سپك او ركيك الفاظ وانه‌وریدل‌شی . دټیپونو ، ریکار ډونو ، را ـ دیویی پرو گرامونو او ریدل او د فلمونو لیدل هم‌زده کوونکو ته د دی فرصت ورکوی چی فصیحه‌ویناو اوری او ددغه شان وسایلو پــــه مرسته سم تلفظ او خوږ آهنگ‌زده‌کړی . ترکوم ځایه چی په ښوو ـ نځی پوری اړه لری داوریدلـــو دمهارت تقویه تر پر وگرام لاند ی راتلای شی خو په عمومی‌ډول‌اوریدل‌یو تصادفی کار دی په بازار ، کوڅه اوډله ایزو فعالیتونو او معا شر ت‌کی‌هر ډول خبری اوریدل کیږی .

داوریدلو د مهارت دپیـــاوړ ی‌کولو دپاره یوه عامه طریقه داده چی ښوونکی ځینی ګټور متون لولی اوپه‌پای کی له زده کوو نکو څــــخه پوښتنی کوی . کله چی پر ټاکلی موضوع باندی تود بحث پیل شـــی هغه زده کوو نکی چی د مضمو نمتن یی په دقت سره نه‌وی اوریدلی پخپله دپښیمانی احساس کوی اوله ځان سره وایی کاشکی دښو ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونکی خبری یی په دقت سره اور  یدلی وای . بل وارته به ،که‌خیروی دښوونکی خبری په دقت ســـــره‌تعقیبوم .

ځینی کسان په دی عقیده دی‌چی‌که ښوو نکی گټور او په زړه‌پوری مطالب بیان کړی اود زده کوو نکوله روحیی او سویی سره برا بروی نو زده کوو نکی به ټولی خبری په‌شوق او مینه واوری . که ښوونکی د زده کو و نکو پــا ملر نـــه خـــپلـی خـو ا تـه را وانه ړوی معنایی داده چی د دەوینا جالبه اوپه‌زړه پوری نه ده . دا خبره قسما سمه او پر ځای ده . دښوو نکـــی‌درس باید جالب او په زړه پوری وی . خو په دی‌برخه‌کی‌له افراطڅخه کار اخیستل دزده کوو نکود پاره گټه نه‌لری . مونږ باید زده کوونکی داسی اموخته نه کړو چی هغوی یوازی لـــه ډرا ما تیـــکـو صحنو سره مینه ولری . ژوند هر وخت درنگینو خیالونو او خوږورو مانونو مجموعه نه ده . برسیره پر دی ، ځینی مضمونونه وچ، ساړه‌او بی روحه دی او زده کړه یی ډیره ستونزه غواړی .د ریاضی ، فزیك‌او کیمیا د فور مولونو یادو نـــه د شاهنامی له داستا نونو سره توپیرلری . یو پلټونکی قصه کوی چی یو ځلی د جغرا فیی د تدریس ټولگی‌ته ولاړم . ښوو نکی دافریقا دقاری په‌باره کی درس ور کاوه . ده د افریقا د خلکو د ژوند او ځنگلو نو په باره کی ډیری په زړه‌پوری‌خبری‌وکړی او د ده ساحرانه وینا ټو ل زده کوونکی تر ژوری اغیزی لاندی‌راوستلی وو . د درس په‌پای کی می‌له زده کوو نکو څخه پوښتنـــــه‌وکړه چی افریقا چیری واقع ده ، هیڅیا سم ځواب رانه کړ ځکه‌هغوی‌یوازی رما نتیکی او ډرا ماتیکی‌برخی ته‌پاملرنه کړی وه او دمهمو معلو ماتو ځای جالبومعلو ماتو ډك‌کړی‌و.

**لوستل:**

لوستل ذی ته ویل کیږی چـــی‌سړی دچاپ شوو یا په لاسی لیکل شوو آثارو او پاڼو په مطلب وپو هیږی . **یعنی‌دلو ستلو په‌مهارت‌کی** دپوهیدلو ټکی خاص اهمیت لری .سره له دی باید وویل شی چی له عین عبارت څخه ټول خلك هما غـه‌یو ډول معنا نه اخلی ځکه چی په‌ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی ښینی کلمی له ارزښتونو سره تړلی دی . نه یوازی افراد دیوی کلمی په اوریدلو سره مختلف عکس العملونه ښرگند وی بلکی ټولنی هم مختلفو کلمو ته بیلا بیل ارزښتونه ټاکی .

کهځه هم پنځه نیم کلن ماشومان دښوونځی درسی تعقیبولی شی خود اکثرو اروا پوهانو په عقیده کله چی ماشوم شپږ نیم کلن شی په لوستلو کی به له خاصو ستونزوسره مخامخ نشی اود لوست درسی به په ښه توگه تعقیب کړی شی. دماشومانو د تشویق دپاره معمولا له رنگه انځورونو او ښکلو تابلو گانوڅخه استفاده کیږی . د ماشومانو ذوقونه او استعدادونه او همدارنگه د هغوی دکورنیو اجتماعی ــ اقتصادی موقفونه یو له بله توپیر لری . ښوونکی باید ځپل زده کوونکی وپیژنی او د هر یوه دتشویق دپاره له مناسبی وسیلی څخه کار واخلی .دمثال په توگه ، یو ماشوم له حیواناتو سره ډیره مینه لری .د دی دپاره چی نوموړی ماشوم له لوستلو سره مینه پیدا کړی هغه ته یو داسی کتاب ور کول کیږی چی دحیواناتو تصویرونه او د هغوی په باره کی قصی پکښی را غلی وی .ماشوم ته ویل کیږی : ((دا ښکلی انځورونه وگوره .د هغو په باره کی قصی هم لیکل شوی دی . دغه قصی ولوله او که لوستلی یی نشی له نورو څخه مرسته وغواړه.))

په لومړی مرحله کی اکثر ښوونکی له چارتونو څخه استفاده کوی. دچارتونو په ذریعه د لوست تدریس معمولا مثبته نتیجه ورکوی دماشومانو د لوست مضمون باید په داسی مهارت سره تدریس شی چی دزده کوونکو په نظر دتفنن اوسر گرمی ښه ولری خو په ضمن کی یی دوی په لوستلو کی ښه پر مختگ وکړی . هماغسی چی ماشومانو ته ترخه دوا په خوا ږه کپسول کی ور کول کیږی د هغوی زده کړه هم باید ظاهرا تفنني ښه ولری. له بده مرغه ښینی داسی ښوونکی هم شته چی ماشومان له ښوونځی څخه بیزاره کوی . هر سهار چی ماشوم له خوبه راپورته کیږی نو لومړی جمله یی داوی :

(c) ketabton.com: The Digital Library

((ادی ، زه نن مکتب ته نه ځم !))موریې په وعد او وعید اومنې خوارې ښوونځي ته استوي .

داسې ماشومان چې په زړاښو ونځي ته لیږل کیږي په حقیقت کې دمربوط ښوو نکي په بې تفاوتې اوبې کفایتې باندې شاهدي وایي .

دتاسف خبره ده چې دلومړي ټولګي ځینې شاګردان هره ورځ درخصتي دوریځي په امید خپلې ګوتې ګڼې اوهره شیبه دکورنې له غږو نه پو ښتنه کوي : ((نن څو شنبې ده ؟ جمعه کله راځي ؟ شکر خدایه سبا ته جمعه ده که نه موري ...؟ اوداسې نور .))

دچمتو والي د دورې یواز ینـــي هدف دانه دي چې دماشوم د زده کړې دپاره زمینه برابره کړې شي بلکې د دې په ضمن کې ښوو نکې زیار باسي چې ماشوم له زده کړ ې سره مینه پیدا کړي او خپل چاپیر یال وپيژني . ښوو نکي یوازې د نصاب دبشپړولو مسوول نه دی بلکې د ده وظیفه ده چې د زده کو ونکي شخصیت ته انکشاف ورکړي دهغه .بدني ، ذهني ، اخلاقي ، رو حي او ایستیتیکی اړ تیا وته پاملرنه وکړي.

دلوست په تدریس کې باید د ماشوم روحیه ، سویه او استعدادپه نظر کې ونیول شي . لوست بایـــدمیخانیکې بڼه ونه لري. ماشوم باید داسې وروزل شي چې د لوست په معناو پوهیږي ، او لوستل شو ې عبارت تفسیر او ارزیابي کړی شي ځینې داسې ذکې ماشو مان شته چې د کتاب پر تصویر ونـ واو عبا رتونو باندې انتقاد هم کولی شي . ښوونکې کولی شي چې ماشو مانو ته ووايي : ((دا ډیر ښه کتاب دی خو کله چې تاسې لوی شي له دې نه به بهتر کتاب هم ولیکلی شي که ستاسو په نظر په کتاب کې کو مه نیمګړتیاوې ماته یې راو ښیي .)) په دې ترتیب ، ماشومان د تکامل اوانکشاف له مفکورو سره آشنا کیږي او پوهیږي چې ښه والي او بدوا لی نسبي مفهومونه دي .

د زده کوو نکو د لوستلو مهارت ته په انکشاف ور کولو کې باید دغو ټکو ته خاصه پاملرنه وشي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ زده کوونکی باید د لوستل‌شوی عبارت په‌مفهوم‌ښه وپوهیږی.
۲ ـ دلوست په ترڅ کی بایدنوی لغتونه ، فقری ، او ادبی ښیگڼی‌زده شی .

۳ـ کله چی زده کوو نکی لـــه‌ځان سره مضمون لولی نو باید د شونډو له خوځولو اود آوازو نو له‌ایستلو څخه ډډه وکړی اود لوست په‌ترڅ کی داسی حرکات ونکړی‌چی‌نور کسان اخلال کړی .

٤ـ که مضمون نورو ته لوستل‌کیږی باید دوقفی ځای ، دآهنگ دلوړولو او ټیټولو ځای داوریدو نکودفاصلی او شمیر په تناســـب د آواز دلوړ والی یا ټیټوالی رعایت سم تلفظ ، او په روحیاتی شیبه‌کی دوقفی وخت او د تاکید پر ځــــای‌فشار او داسی نور شرایط په‌نظــر کی وساتل شی .

٥ـ په کومو ځایونو کی چی ادبی‌ښکلاوی ، فکری ژور تیاوی ، او یا دمفهوم پیچلتیا وی موجو دی وی‌هلته دی زیات توقف وشی او که لازمه وی عبارت دی له ځان سره په‌مکرر ډول ولولی .

٦ـ دهر فصل یا غټ څپرکی‌په‌پای کی دی عمده ټکی په فکر کی راوړل شی او مهم مطالب دی حا فظی ته وسپارل شی . دبیلا بیلـو څپرکو او پریگر افونو تر مینځ اړ یکی دی په انتقادی نظرو کتل شی له ځانه دی وپوښتنی : دلیکــــوال‌اساسی هدف څه شی دی اود مو ـ ضوع مرکزی هسته څه شی ده ؟آیا لیکوال خپل هدف سم افاده‌کړی دی ؟ آیا دافکارو تسلسل پکښــــی‌لیدل کیږی ؟ آیا د منطقی او بدیعی اړخونو ترمینځ تناسب یی په نظرکی نیولی دی ؟ آیا تشریح‌مستندله او مستنده ده ؟ دا او داسی نور .

۷ـ تر ټولو مهمه پوښتنه داده :آیا دغه مضمون یا اثر په لوستلو ارزی ؟ که ځواب‌مثبت وی نو بایددلایل یی په ښنه شی .

دا د ښوو نکی وظیفه ده چی د علومو او ادبیاتو په ساحه کی‌خپلو زده کوو نکو ته ډیر مهم آثار اوادبی‌شاهکار ونه ورو پیژنی اود هـــغو لوستلو ته‌یی وهڅوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لیکل :**

دلیکلو اهمیت له دی څخه هـــمځرگند یږی چی (مکتب) دلیکلوڅای تهویل کیږی .

اما دلیك ستر اهمیـــت له دیحقیقت سره اړه پیدا کوی چی د بشریت خاص تاریخ دلیك لهتاریخڅخه پیل کیږی لکه چی گویا د بشر تمدن دلیك زیږنده وی . البته دا وروستی خبره سمه نه ده ځو په عنعنوی توگه مور خان دلیك لهپیدا ینبت نه مخکی دوری ته ((دتاریخنه مخکی دوره ــ دما قبل‌التاریخ‌دوره))وایی . لیك دبشر یت د فرهنگـــی موار یثو پهساتنه او انتقال کی ډیرزیات ارزښت لری . دنړی نامتـــو لیکوال د خپلو لیکنو پهبرکت نـــهیوازی د خپل عصر له خلکو ســره خبری کوی بلکی د راتلونکونسلونوغوږونو ته هم خپل پیغام رسو لی شی . دلیکوال واقعی مرگ هغـــهوخت پیل کیږی چی څوك یی آثار نهلولی او افکار یی په محو کیدلو محکوم شی . څرنگه چی بنه لیکنه دانسان نوم ژوندی ساتلی شی نوپهښوو نځیو کی د لیکلو مهارت ته زیاته پاملرنه پهکار ده . کله چی دلیکلو پهباره کی خبری کیږی اکثر خلك په شکلیاتو باندی بحث کوییوشمیر کتا بونهچی د لیك داصولو (اصول انشاء ) په باره کی لیکل‌شوی دی . زیاتره دالفاظو انتخاب دپریگرا فونو یو والی او انسجام ،اطناب او ایجاز ، دحال اقتضاء ، د تنقیط اصول ، د تشبیهاتـــــو اواستعارو استعمال ، او داسی نورو شکلی مسایلو پهباره کی توضیحات‌ور کوی خود لیکنی ((پیغام اورسالت)) لهنظره غور ځوی .

دلیکنی عمده هدف باید مفکوره او رسالت وی . د لیکوا لی پهباره کی مهمه پوښتنه داده :

لیکوال غواړی څه ووایی ( یا پهبل عبارت ، د لیکنی مقصد څه شی دی ) آیا خپل مقصد یی پهسمهتوگهبیان کړی دی ؟

البته د دی خبری معنا دانه ده چی پهلیکنه کی شکلیات ارز ښت نهلری . شکل باید له مضمـــونسره متناسب وی . په هره لیکـــنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې اساسي او ټاکو نکــــي اړخ مضمون دی . په ادبي مضا مینوکې دمحتوا تر څنګ شکل هم خـــاص ارزښت لري . یو پیاوړی لیکـــوال محتوا او شکل دواړو ته پاملرنـــه کوي . او د هغوی تناسب په نظر کې ساتي .

ځیني ښوو نکي د مقالو په ار زیابی کې شکل ، سبك ، ګرامر ، او املا ته ګوري او دمقالې اصـلي مفکوري او پیغام یې له یاده وزي . خو که چیري ښوو نکي او زده کو ونکي خلاق فکر او ابتکار ته د لوړ مهینوب حق ورکړي نودوی به د مقالې له لوستلو څخه خوند وا خلي او فرعي شیان به پر اصلي مفکورو باندي سیوري ونه غور ځوی . پـــه لوړو ټولګیو کې باید زده کوو نکي دځیړني له اسلوب سره آشناکړي شي او د علمي میتود پرنسیپو نه او تکنیکونه ورو ښودل شي .

د اروا پوهانو په عقیده ، دلیك په ښو ونـــه کې با ید د ا لانــدي ټکي په پام کې ونیول شي :

۱ـ پریږ دی چې زده کوو نکي دلیکني موضوع پخپله انتخاب کړي اوله خپل ذوق سره سم مقاله ، شعر کیسي یا درامه ولیکي .

۲ـ زده کوو نکو ته دي دسبك په خوښولو کې آزادي ورکړه شي او ترممکني اندازي پـــوري دي دفور مالیزم او شکل پرستي مخــــه ونیوله شي .

۳ـ دګرامر او املاء په باب انتقادي افراطي بڼه نه غوره کوای .

٤ـ دلیك ښوو نې ځیني قاعدي دي د ضرورت په وخت کې په تطبیقي بڼه تشریح شي .

٥ـ دلیکني دسویې لوړ ول یوازي دژبې دښوو نکي وظیفه نه ده بلکې نور ښوونکي هم باید د خپلو کارونو په ساحه کې زده کوو نکي لیکنو او ځیړنو ته وهڅوي .

٦ـ دلیکني اساسي هــــدف دمفکورو انتقال دی . ښوو نکي او زده کوو نکي باید دغه اصل له نورو تکنیکونو څخه لومړي او مقــــدم وګڼي .

۷ـ کوم زده کوو نکي چې پـــه لیکوالي کې تبارز وکړي د هغو د تحسین او تقدیر دپاره دي مناسبي لاري چاري وپلټلې شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زموږ په ټولنه کې دژب ښووني‌پس منظر:

په افغانستان کې د عصري ښوونې او روزنې تر روا جیدو اوتعمیم پورې ژبه په جوماتونو کې تدریس‌کېده . کله به چې ملاامام دسهارد لمانځه اود عانه فارغ شونو یـــــویو طالب به‌یې راغوښت او په خپل څنګ کې به‌یې ځای ورکاوه . زده‌کوونکي به معمولا لومړی د تیـری ورځې درس داستاذ په حضورکې‌تکرار اوه او بیا به‌یې په نوی‌درس پیل کاوه . استاذ به هغومره‌جملې‌یافقرې لوستې چې طالب العلم بـه ورپسې لوستلې او تعقیبولې شوی‌درس به د ضرور ت په اندازه‌تکر- ازیده او هر وخت به چې استــاذمطمئن شو چې طالب درس زده- کړی دی نو ور ته ویل به‌یې اوس‌ولاړ شه ، هلته کښینه او خپـــل سبق دی ضبط کړه . سبق به‌معمولاپه جهر تکرار یده او دطالبانـــو آوازو نه به‌له لیرې څخه هم‌اوریدل‌کیدل . په دې ترتیب به‌یویو طالب سبق ویلو . که د طالبانو شمیـــربه‌ډیر زیات و واو استاذ به‌رسیدګی نشوی کولای نورسید لو طالبانوبه‌نورو وړو یا مبتدې طالبانوته (چې دچړیانو په نامه یادیدل ) درس ور کاوه . کوم وخت به چې طالب درس ښه ضبط کړنو بیا به داستاذپه اجازه رخصت شو . ځینو طا ـ لبانو به‌د خط له‌زده کولو سره هم‌علاقه در لوده . هغوی به د کړ کـی (نی) قلم ، له‌سیاهی نه ډکه‌مشوانې‌اود لرګي یو ډول تخته له ځانه سره راوړل . استاذ به هغه ته سر نا مه‌لیکله او زده کوونکي به ور پسې لیکله . کله به چې تخته ښه ډکـــه‌شوه او استاذ به اصلاح کړه نوبیا به‌طالب ډنډ ته ورغی داوبو پـــه‌واسطه به یې لیکل پاك کړل ، یو څه خته به‌یې په تخته ووهلـــه اوځنګل به‌یې په‌را تیره کړه بیابه یې ځنګل پریمنځله . داکار ډیر اقتصا دي و ځکه چې کا غذ به‌نه‌مصرفیده یوازینی مصرف سیاهی وه ا ودکړ کې قلم به هم ژر نه تمامیده .دقلم جوړول هم آسان کارنه و اواکثربه‌له استاذانو څخه زده کیده.دحساب زده کول ډیر مروج نه وو خو ځینوکسانو به د ضرورت په وخت کې حساب هم زده کاوه . طالبانو به پاړې (ضرب زبانی )د ابجدد تورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حساب زده کولی . مثلا د (٤ضرب٨ مساوی ٣٢) په ځای بەیی(دحلب) ویل . په حساب کی اعمال ار بعه(جمع ، تفریق ، ضرب او تقسیم ) او اربعه متناسبه او کسرونه شامل‌وو . پەعمومی ډول تعلیمی نصا ب په لاندی ډول و :

١ـ عربی : بغدادی قاعده ،قرآن‌شریف ، خلاصه کیدانی ، قد وری، منیه، کنز ، صرف میر، د ا ســی نور.

٢ـ دری : پنج کتاب یا پنــــج گنج( چی بی له معنا کولو څخه به فقط په عبارت لوستل کیــده )، دسعدی گلستان او بوستان ،د جامی یوسف وزلیخا ، دنظامی سکندرنامه‌دهندد مغلی دوری انشاء گانی ،او داسی نور .

البته مدرسانو کولی شول چی پور تنی ترتیب تەپه ځینو مواردو کی یوڅه تغییر هم ور کــړی . دفقهی مدرسان ، دنحوی ملایان ، او نظمی استاذان بیل بیل وو . یعنی‌ځینو بەپه فقه ، ځینو بەپه نحو او نورو به د نظم په‌کتا بونو کی‌مهارت‌درلود . په دری ویونکو سیمو کی‌د خواجه حافظ د دیوان لوستل ډیرمروج وو .

په دری ژبو سیمو کی هم تعلیمی‌نصاب پەلږ تفاوت سره د پښتــو ویونکو په شان و او غالبا داســـی‌ترتیب یی در لود : قاعده بغدادی ، پاره آلم ، قرآن کریم، پنج کتاب ،دیوان خواجه حافظ ، بســــتان و گلستان شیخ سعدی ، خلاصــــه کیدانی ، قد وری ، منیه ، کنــز ، مستخلص ، مثنوی جلال الدیـــن بلخی، صرف میر ، او داسی نور . پښتنو ښځو بەپه خپلو کور ونوکی‌رشیدا لبیان ، نور نامه ، اود پښتو ځینی نور کتابونه هم لوستل. د تعلیمی نصاب په څرنگوا لی کی د استاذ اود شاگرد دپلار خوښه ا وپخپله د شاگرد استعداد هم په نظر کی نیول کیده . که هدف به داوچی‌طالب ملایا قاضی شی نو هغه تەبه دفقهی کتابونه تدریس کیدل اوکەمقصد به میزرا کیدل وونو پەمرا ـ سلات ، انشاء گانو او ملاتیپوبەزوراچول کیده . (ملاتیپه دلیکل شــوو مکتوبونو مجموعه وه چی یو مکتوب بەپه بل پسی سر یښس شوی وو اوټول بەیی په یوه لرگی باندی‌راتاوکړی وو . )

(c) ketabton.com: The Digital Library

دژب بنوو نی اصول اکثر پــر تحت اللفظی (ټکی په ټکی) ترجمه او دګرامری قواعدو پر یادولو بناشوی وو . د(صرف میر ) یادول د طالبانو دپاره ډیر ګران وو . په عوامو کی داخبره مشهوره وه چی «دسر میر (صرف میر ) یادول سړی لیو نـی کوی». تحت اللفظی ترجمی به اکثرو شاګردانو ته د دی امکان نه ور کاوه چی دموضوع په اصلی مطلب وپوهیږی بلکی شاګرد به دغو یبواونامانو سه لغتونو په سیند کی لاس اوپښی وهلی او دمطلب ساحل ته به نه رسیده .

دمثال په ډول ، مونږ به چی په کوچنیوالی کی له استاذانو نه سبق ویلو هغوی به د( خواهد شـــد )ترجمه په (وغواړی کیدل)او (شمارا درس خواهم داد ) ترجمه په (تاله به درس وغواړم در کول) باندی کوله . مونږ نه پوهیدوچی(وغواړی کیدل) یعنی څه ؟ درسی متون هـم اکثر دمغلق مسجع یا مرجز نثـر نمونی وی . مبتدی شاګرد ته بـــه کلاسیک آثار ور ښوول کیدل او هغه به په مشکله سره څو جملی زده کولی شوی .د زده کوونکی سویه په نظر کی نه نیول کیده او محتوا به په الفاظو کی ور که شوه . طالبانو به درس د توتی په شان زده کولو دنوی طریقی او نوی فکر دپار ه لاره نه وه خلاصه . هغه کتابونه (لکه د سعدی ګلستان) به چی د لومـــړی ټول دپاره د ترجمی په منظور لوستل کیدل ډیر مشکل وو . په تعلیمـــی نصاب کی د روحیاتی ترتیب پـــر ځای منطقی ترتیب غوره ګڼل کیده د ژب ښوونی په پرو ګرام کی محاـ وره نه وه شامله . ډیر داسی کسا ن وو چی دنظم زیات شمیر کتابو نه به یی لوستلی وو خو د دری ژبـــی یوه ساده جمله به یی نشوه ویلا ی څکه چی کتابی ژبه له محاوری څخه لیری وه . شاګردانـــو به له زړو (ارخائیک) لغتونو سره آشنا یی در لوده خو په ژوند یو لغاتو به زیا ت نه پوهیدل . دلته ماته یوه قصه راپه زړه شوه او هغه د اچی مونږ یـــو وخت د خپل استاذ سره کابل تــــه راتلو . دسما وارد کان ته ورغلو . سماوار چی چای راوړ خو یوه پیاله کمه وه . زمونږ یوه ملګری چی تـر سکندر نامی پوری نظمو نه یــــی لوستی وو ، سماوار چی ته غږکړ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

((قدح را بیاور)) مقصدیې دا وچې پیاله راوړه مګر سما وار چې نیوـ
هیده چې ملګری په کومه ژبه را ته ګړه دی تر څو چې یوی پیالی تهمو
اشاره وکړه او هغه په مطلب پوه شو. بیا چې ښور وا راوړل شوه
استاذ سماوار چې ته وویل :((فلفل بفرمائید)) یعنې تور مرچ راوړه .
دا ځل بیاسما وار چې حیـران ووچې استاذ څه وایي . وروسته چې
استاذ یو شاګرد په (فلفل ) پسې واستاوه په ټول بازار کې یې(فلفل)
ونه موندل ځکه چې دا کلمه دکا ندارانو ته نا آشنا او کتابی ژبـه
وه .

زمونږ په ښوو نځیو کې لا تـــر ډیره وخته هماغه د ترجمې او قواـ
عدو دیادولو پخوانی طریقې مروجې وې .

په ژبه کې محاوری ته پاملرنه نه کیده او داسې ښکاریده لکه د ژبې
زده کړه چې فقط دلغاتو دقاموس یادونه وی . ښوو نکی به ددوهمې
ژبې دتدریس په وخت کې د کتا ب عبارت لوست او ټکی په ټکی به یې
ولولی او ترجمه یې کړی . د دې په ځنګ کې به البته ښکلې خـــط
(خوشنو یسی) ته هم پاملرنه کیده. تر ډیره وخته پوری دښوو نې عمده
هدف میرزا کیدل وو . وروستــه دمیرزاکلمه په کاتب یالیکوونکی بدله
شوه کله چې مسلکی(حرفه یې) ښوونځی جوړ شول نو په عامه ذهنیت
کې هم بدلون راغی او خلك په دې پوه شول چې میرزایي د ښوو نځی
یوازینی هدف نه دی .

## دموږنې ژبې دتدریس پخوانـــۍ بڼه :

زمونږ په ښوو نځیو کې مور نۍ ژبه په ډیره ساده او نیمګړی بڼـــه
تدریس کیده . اکثر ښوو نکی نه پوهیدل چې څنګه درس ورکړ ی
څکه چې هغوی نه دپیدا ګوږی لـــه میتودونو سره آشنا وو او نه یـــی
درسې لار ښود درلود .

په نورو مترقي هیوادو کې درسې کتابونه ځانته لا رښود هم لری چې
په هغه کې ښوو نکی ته لار ښوونه شوی وی چې کتاب څنګه استعما ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی ، په درسس باندی ښځنگه پیـل وکړی ، په څه ډول د زده کوو نکی توجه جلب کړی ، درسس ښځنگه ختم کړی، د درسس اصلی مقصد څه دی او کوم کوم ډول مهارت، احساسات اومفکوری زده کوونکو ته ورکوی، کوم ټکی پکښبی لومړی در جه اهمیـت لری او د درسس په پای کی زده کو- ونکو ته څه ډول کورنی چـاری ور سپارل کیږی . برسیـــره پر دی ، درسی لارښود ښوونکی ته دارزیابی سیستم هم ورښیی او ښوو نکی ته لارښوونه کوی چی د خپل مو فقیت اندازه په څه توگه امتحان کړی او داسی نور . مگر دلته نه یواز ی دی کار ته پاملرنه نه وه شوی بلکی د کتاب اکثرو لیکولوا ته پخپله هم د تدریس لاری چاری نه وی معلو می یو څا چی څو مقالی په مجلو او ور ځپاڼو کی خپری کړی وی اودلیکوال په نامه یی شهرت موندلی و دمو لف په حیث به ور ځنی کار اخیستل کیده بی له دی چی د ښوونی او روزنی له پرنسیپونو سره آشنایی ولری او یا د تدریس سابقه ولری . د پښتــــواکثر کتابونه له دری څخه ژباړ ل کیدل ، بی له دی چی د دی ژبـــی خصو صیت او ځانگړ تیاوی په نظر کی ونیول شی کوښښ به کیده چی دلوست کتاب له هر حیثه د دری دلوست له کتاب څخه وژباړل شی.د دی په ځای چی مثلا دسعدی دیوه نظم په ځای په پښتو لوست کی درحمان بابا یا خوشحال شعر راوړل شی .هماغه د دری نظم به یی په پښتو نظم اړاوه . په دی ترتیب دمو رنی ژبی ځانگړ تیاوی او ادبی تاریخ له نظره غور ځیدلی وو. د پښتودلو- ست کتابونو ډیری نیمگړ تیاوی در لودی چی ځینی به یی په لنډه توگه وښودل شی :

۱ــ دزده کوونکو سویی ته پاملرنه نه کیده . دمثال په ډول ،د پښتـــو لوست دلومړی ټولگی په درسی کتاب کی ، لکه ښځنگه چی د یوی څیړنی له مخی خر گنده شوی ده ، ټولـــی(۱٤٤۲) کلمی راغلی دی چی دهغو له جملی څخه (٤۲۲) کلمی فقط یو یو ځل استعمال شوی دی . سر – بیره پردی چی د کتاب دټولوکلموشمیر زیات ښکاری د څلور ســوه دوه ویشت کلمو یو ځل استعمال دیادونی وړ نیمگړ تیا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژب ښوونې اوسنی پرنسیپونه‌له دغسی بې کنټرو له استعمـــال سره موافقه نه کوی . په تیره‌دلو مړی ټولګی دلوست کتاب‌د کلمو‌په تکرار باندی زیات ټینګار کـوی .معاصره ژب ښوو نه په دغســـی مواردو کی له احصائیوی قاموسونوڅخه زیاته استفاده کوی .

۲ـ د لوست کتابو نه له نامانوسواو غیر مروجو شیانو او پدیدو څخه ډك دی . دمثال په توګه ، دلومړ ی‌ټولګی د لوست د کتاب په (۳۹)مخ کی داعبارت وګوری :

وداع وداع وداع

د ټولو سره کوم وداع

داپور ته عبارت اصلا په پښتـومحاوره کی نشته . (وداع) ته پــه پښتو کی (خدای په امانی) یــــا(مخه ښه) وایی . هیڅوك په محاوره کی (وداع ، وداع ) نه وایی بلکــی‌عامه محاوره داسی ده :

(په مخه دی ښه!) ، «دخدای په‌امان ! » ، (په مخه دی چلیږه !) ، «په خیر ولاړ شی !» او داسی نورالبته مولف زیار ایستلی دی چــی ماشومان د (ع) له‌توری سره آشناکړی‌خو د دی هدف د تحقق دپاره‌یی ناسمه طریقه انتخاب کړی ده . دعربی تورو د معرفی کولو په‌منظور دکتاب محتوا خپل پښتنی رنګ او کلتوری هویت‌بایللی دی.سربیره‌پر دی چی بی ضرور ته پکښی زیا ت‌نومونه را غلی دی د پښتنی نومونو لکه ښلمی ، ګلالی ، ببرك ، غوټی او نورو پر ځای نجف ، مرتضـــــی ، محفوظ ، برات ، ثریا ، آصف او داسی نور راغلی دی. د(پیرمحمد ) له نامه نه‌پرته نور اکثرنومونه پـه‌پښتنو کی زیات معمول نه دی .

۳ـ کتنا بونه دژباړنی ر نګ‌لری‌اود پښتو ژبی ځانګړ تیاوی اوداســ خلی جوړ ښت په‌نظر کی نه نیسی‌دمثال په‌توګه ،دپښتو دلومړی کتاب‌ه لومړی کلمه (آس) ده .که‌څه هم‌دآس کلمه دماشو مانو د پاره‌نامال نوسه نه ده مګرد (آ) آواز په‌پښتو کی‌ډیر لږ راځی .د پښتو ټولنی په (پښتو قاموس ) کی یوازی د (آب‌آیس ، آښ ، آسپل ، آلـــه، آن) محدودی کلمی زما له نظره تیر ی‌شوی دی چی د(آ) په آواز پیـــل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي. ددغو کلمو له جملې څخــه(آن) دوخت په معنا پښتو نه‌ښکاري
ځکه چې د عربي جمع یې (آوان) ده‌او دري هم دغه لغت له‌عربي نــه
اخیستی دی . د (آب) کلمه د عزت‌او آبرو په معنا له دري څخه راغلی
ده . (آسپیل ، آپښ ، آل ) ناما نوسي لغتونه دي چې ما په محاوره
کې نه دي اوریدلي . فقط د (آسې )کلمه پاتې کیږي چې محترم مو لف
د دري کتاب په تقلید د (آب) سره‌دورته والي په‌خاطر‌راوړي ده . بیانو
په‌کتاب کې تر پایه پورې د(آ)توري‌نه دي راغلي . حتی د دري دلوست
کتاب هم په دې برخه کې بې عیبه‌نه‌دی ځکه ماشومان او بوته (آب) نه
وایي دافقط کتابي ژبه ده ، په‌محا وره کې (او ) ور ته ویل کیږي . د
ژب ښوو نې ځیني متخصصان په‌دې‌ټکي ټینگار کوي چې تر‌وسه‌وسه‌دې
کوښښ وشي چې د لوست په‌کتنا بونو کې ، په تیره په لومړي‌مرحله
کې ، د ماشومانو ژبه استعمال شي‌په لومړي مخ کې‌د (آپ) استعما ل
مناسب نه بریښي ځیني کســـان‌استدلال کوي چې د (آب)کلمه په
دې علت استعمال شوې ده چـــې پـه د ی کلمه کـــې ( ا لف)
او (با) په ترتیب سره د (الفبا) د معرفي کولو دپاره راغلي دي . دا
دلیل سم نه ښکاري‌ځکه چې ماشو مانو ته‌په لومړي مرحله کې دتوریو
ترتیب نه ور ښودل کیږي او کـــه‌داسې وي نو بیاخوباید چې‌دبغدادي
قاعدې په‌شان لومړی دهجا توري په‌ترتیب سره راوړل شوي وای په
داسې حال کې چې دالفبا تـوري دکتاب په‌پای کې معرفي‌کیږي.دتوریو
دترتیب پوهیدل دقاموس داستعمال‌دپاره ضروري دي مگر لوست باید
دفو نیمو نو اود هغو د ترکیب پـــه‌سلسله پیل شي .

٤ــ دلوست د پخوانیو کتابونـو‌لیك دو دمعیاري ا و‌سیستما تیك نه
دي . په‌یوه کتاب کې (دی ) بـــې‌همزه او بل کې (دئ ) په همزه‌سره
لیکل شوي دي .د څلورم ټولگي دلوست دکتاب پنځم مخ وگورئ چې
په اوومه کرښه کې (زامنو) په (ز)او په یولسمه کرښه کې ځامنو پــه
(ځ) لیکل شوي دي .

٥ــ په ځینو ځایونو کې تصو یرونه له اصلي موضوع سره سمون نه
خوري . دمثال په‌توگه ،د لومړ ي‌ټولگي د لوست په څوار لسم مخ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(باغ) عنوان دی مگر هلته یو غټ آس وینو چی په پس منظر کی یی دونی ځانگی ښکاری مونږ نه پو هیږو یوه ونه چی د (آس) تر شا دانځور دپس منظر په توگه رسم شوی ده څنگه کولی شی چی یو «باغ» تمثیل کړی په همدغه مخ کی د آس نوم قدری هم نشته او دباغ کلمه هم فقط یو ځل را غلی ده .

٦ـ طباعتی تیرو تنی پکښی زیاتی دی په داسی حال کی چی د لوست کتابونه باید ډیری لږ غلطی ولری .

د مثال په ډول ، د دری ویونکو سیمو دپاره د پښتو په دو هم کتاب لومړی مخ کی دغسی لیک دودراغی دی : ((نور یالی زماملگری دی زه دده ملگری یم .. )) په دی عبارت کی دری تیرو تنی لیدل کیږی دپنځم ټولگی د لوست په کتاب کی دزده کوونکو دمشق دپاره یوه رقعه لیکل شوی ده چی فقط اووه (٧) غلطی پکښی راغلی دی نور نو خیر او خیریت دی :

٧ـ دلوست په پخوانیو کتا بوکی د زده کوونکو ارواپی اړتیاو او ذوقونو ته پاملرنه نه کیده . دلو ست په یوه کتاب کی ډیر لغتو نه او بی ربطه جملی راغلی دی چی هیڅ عنوان نه لری او نه څوك کولی شی چی عنوان ور ته وټاکی . په دی کتاب کی یوه قصه هم نه ده راغلی .

٨ـ دلوست کتابونه د عصر له روحیی او غوښتنو څخه بیرته پاتی وو . په یوه کتاب کی یو وړوکی مضمون مونږ ته د یوه ښه هلك مثال داسی راښیی :

الف ـ له خپل ملگری سره یی وعده کړی ده چی دهغه کورته بـه ورځی او د ده دخپلوانود واده په مراسمو کی به گډون کوی خو پس له یو څه چرت وهلو یی پریکړه وکړه چی بهتره ده درس ووایم او وعده پرځای نکړم .

بـ دموسیقی اوریدل یو عبث او فضول کار دی نو ځکه دواده مرـ اسمو ته نه ورځی .

ج ـ نومړی ښه هلك پر ته لـه درس ویلو نه بل هیڅ کار نه کوی او نه علاقه ورسره لری .

په دی ترتیب دکتاب مو لـف ((دیو ه ښه هلك مثال ))زده کوونکو ته ور ښیی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ژب ښوونې پخوانۍ او اوسنۍ میتودونه:

د ژب ښوونې په پخوانی سیستم کی د رسونه له حیاتی اړتیاو سره سم او عیار شوی او میخا نیکی بڼه یی درلوده . د ژبی په تدریس کی ستري نیمګړ تیاوی لیدل کیدی. د پښتو ژبی د تدریس یوه غټه نیمګړ- تیا د اوه چی په دری ویو نکو سیمو کی به محاوری ته پا ملرنه نه کیده. د داسی زده کوو نکو شمیر لږ نه و چی مثلا د امیر کروړ شعر به یی زده و او په یاد به یی ویلی شو خو دو مره ساده جمله چی : ((زمانوم... دی.)) به یی نه شوه ویلای . په ښوونځی کی به زده کوونکو کلا - سیك متونلو ستل خود ((څنګه یی؟)) ځواب به یی هم نشو ور کولی. ددی نیمګړ تیا علتونه ډیر دی خو یو څو علتونه به یی د تدریس د پخوانی او اوسنی میتودونو د پر تلنی په ترڅ کی مطا لعه کړو :

د تدریس پخوانی میتود پـــردی مفکوره بنا شوی و چی ټول معلومات او پوهاوی تر ډیره اساسی معلومات د لر غو نو پو هانو او حکیمانو له خوا په کتا بو نو کی لیکل شوی دی. د زده کوونکی وظیفه داده چی تر ممکنی اندازی پوری د لر غو نو پو هانو آثار زده کړی او بی له نقد او کره کتنی څخه یی راتلو نکی نسل تــه ورانتقال کړی . ددی مطلب د توضیح دپاره به دلنا متو انګریز فیلسوف (فرانسیس بیکن) قصه رانقل کړم. (بیکن) وایی چی یو وخت له علماوڅخه پو ښتنه و شوه چی : ((آس څو غا ښو نه لری؟)) ددی پو ښتنی د ځواب دپاره علما و کتا بو نه ولټول او ډیری شپی ورځی یی په سکو-لاستیك بحثو نو او دلر غونی یونان د فیلسو فانو د آثارو په کتلو تیری کړی. دوی عقیده در لوده چی پــه کتابو نو کی هر څه را غلی دی او علماو ټولو پو ښتنو ته ځوابونــه ور کړی دی . څرنګه چی پـــردی موضوع باندی ډیر زیات مګر بــی نتیجی بحثونه و شول یو چــــړی (مبتدی شاګرد) بی حوصلی شو او له خولی نه یی دا خبره وو تــــه :((محترمو استاذانو، راځی د آس خو- له خلاصه کړو او غاښو نه یی وشمیرو.)) ددی خبری په اوریـــدو علماء له ډیره قهره سره تاوشول او نږدی و چی چړی سنګسار کــړی. دوی چړی ته وویل : «مفسده، تــه غواړی چی بدعت رواج کړی اود

(c) ketabton.com: The Digital Library

لر غونو پو هانو او حکیمانو پر عقل او فرا ست باندی ملتهٔی ووهی! ))
ددی قصی له یادونی څخه مقصدداری هغه ټوك چی فکر کوی پخوانو حکماوو ټول حقایق او قوا نین شرح کړی دی او د «شارل مالك» په قول:
((اوسنی فلسفی دا پلاتون دفلسفی حوا شی دی )) د هغوی دتدریس په سیستم کی ابداع، اختلاف ، او تردید ته مو قع نه ور کو له کیږی .
شاگردان باید ((حقایق)) یادکړی او د لر غونو پو هانو د افکارو مرغلری دغاړی امیل کړی . ددغه ذهنیت په نتیجه کی ابداع د بد عت په نامه رټل کیږی او ابتکار ته د کر کی پـــه ستر گه کتل کیږی .

دتدریس په دغه ډول سیستم کی باید پر حافظه، درسی متن، تکرار، یو اړ خیز استدلال، دگماتیزم، پــه ړندو ستر گو تابعیت ، د فر هنگی میراث بی حده درناوی، عنعنه پر ستی روایتونو ، کلاسیك افکارو او کلا ـ سیك میتود او ارزښت باندی تکیه وشی . په ژب ښوونه کی دکلاسیك میتود د پیروی نتیجه داده چی د کتاب عبارت بایدپسه ضبط شی پخپله شاگرد ته زیاته مو قع نه ور کوله کیږی چی په دې برخه کی له ځانه څه زیات کړی ، مقاله پړی ولیکی ، په انتقدای نظر ور ته و گوری اود مضمون نیمگړ تیاو ته گو ته ونیسی. په دی سیستم کی شاگردد گماتیك (جزمی) فکر کوی او خلاق استعدادیی نه روزل کیږی . دلو ست په تدریس کی زیات و خت د کتاب د عبارت سم لوست او تشریح ته وقفیږی.

د ښوونی او روزنی اوسنی میتودکتاب ته دیوه مر ستیال په نظـــر گوری . کتاب د تفکر د پاره مواد برابروی او د قضیو مختلف ا ړخونه څیړی مگر د کتاب معلو مات او نتیجه گیری د وروستنی او مطلق حقیقت په تو گه نه تعبیروی څکه چی پو هنه دپرا ختیا په حال کی ده اوزده ـ کوونکی کو لی شی د خلاق او انتقادی فکر په مر سته د پو هنی په پرا ختیا او ژور تیا کی ونډه وا خلی .

په کلا سیك میتود کی یوازی منطقی نظم ته ا همیت ور کول کیږی او اروایی اړتیا وته چندانی پا ملرنه نه کوی . د کلا سیك میتود له مخی دا ډیره پروانه لری چی د شاگرد علاقه او سو یه څنگه ده . که شاگرد

(c) ketabton.com: The Digital Library

لەدرس سره علاقه نه ښيي نوداد ښوونکي قصور نه گڼل کيږي .

ماشومان ترڅه دوا هم په ميل نه خوزي مگر دده د زو غتيا دپاره ضروري ده با يد په زورزور کړه شي. که زده کوونکي له درس سره مينه نه لري بايد قهرا ور باندي زده کړي شي . نوي ميتود له دي ډول استدلال سره موافقه نه کوي بلکي په دي خبره ټينګار کوي چي ترڅه دوا بايد په خوازه کپسول کي وپيچل شي څو زده کوونکي يې په ميل سره وخوري او سنيو علمي تجربو ښودلي ده چي زده کړه د ځپګان ، ويرې، قهر او نورو هيجاني حالاتو په وخت کي ښه نتيجه نه ور کوي . او سنـــيو اروا پوهانو ثابته کړي ده چي تشويق د زده کړي د پاره يو لازم شرط دي.

په کلاسيك ميتود کي زده کوونکي د توجه مرکز نه و ، په داسي حال کي چي د اوسني ميتود له مخي د توجه مرکز بايد پخپله زده کوونکي وي . ښوونکي، کتاب ، د ښوونځـــي ودانۍ او نور وسايل، او اداره ټول ددي دپاره دي چي د زده کوونکـــي د شخصيت د هراړخيز تکامل په لاره کي مرسته و کړي . د ښوونکـــي وظيفه دادہ چي د زده کوونکو د استعداد د غوړيدلو د پاره مناسبه زمينه برابره کړي . ددي ورو ستني جملي مفهوم دا نه دي چي ښوونکي دي زده کوونکي ورزوي بلکي مقصد دادي چي د زده کوونکو دپاره دي داسي شرايط برابر کړي چي د هغو په رڼا کي شاګرد (پخپله) د خپل پرمختګ لاره و لټوي او هر زده کوونکي د خپل ذوق او استعداد په تنا سب په ذهني او جسمي لحاظ تر ممکنـــه اندازې وده وکړي . د ژب ښوونې په ساحه کي ددي خبري نتيجه داده چي زده کوونکي ته دي موقع ور کړه شي خپل مافي الضمير په آزادانه تو ګه ښکاره کړي . پر يږدي چي زده کوونکي غلطي وکړي خو بايد وپوهول شي چي غلطي يې کړي ده . بهتره به وي داسي زمينه مساعده شي چي زده کوونکي پخپله خپلي نيمګړتياوي کشف کړي . البته دا کار حوصله غواړي ، انرژي غواړي، او وخـــت غواړي خو ګټه يې دادہ څوك چي د تجر بي په اساس پخپله خپلـــي نيمګړتياوي و پيژني پر ذهن باندي يې ژوره اغيزه کوي .

په کلاسيك ميتود کي د نظري اوتا ملي معلو ماتو ونډه زيا تـــه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجر بی ته زیات اهمیت نه‌ورکول‌کیده . «فرا نسیس بیکن»نه راپسه دیخوا تجربی د نظری تعلیماتو ځای‌ونیو او خبره یو څه افراط ته هم ورسیده مګر ننني علم له تجربی څخه پیل کیږی او دغه تجربه دمنطق په رڼا کی پر مخ ځی .

دتجربی اومجرد فکرمتنا سب‌اومتوازن نقش د علم بنسټ تشکیلوی. بی له عقله تجربه څه مفهوم نه‌لری‌او بی له تجربی څخه عقل په‌خالیګاه کی واقع کیږی .

له کوم وخت را هیسی چـــــی‌کنترول شوی تجربه او کتنه(مشاهده) دسا ینتفیك څیړ نو د پاره‌لازمی شرط ګڼل شوی دی په‌بشری او ټو لنیزو پو هنو کی هم د تجربی‌داخلو لو دپاره زیار ایستل شوی دی . د تجربی مقصد دا نه دی چی‌هرو مرو دی په لابراتوار کی وی . په هره تجربه کی معمولادری‌مهم‌عوامل‌لیدل کیږی : خپلواك عامل ، تابع عامل ، او کنترول شوی عامل .

د مثال په توګه ، مونږ غواړودافرضیه د تجربی په واسطه اثبات ته ورسوو چی : تشو یق زده کړه پر مخ بیایی . په دی فرضیه کی «تشویق» خپلواك عامل دی، (دزده‌کړی پر مختګ) تابع عامل دی ،او دکنترول عامل هغه ټول شیان او حالات دي چی احتمالا د خپلواك‌عامل په‌توګه کار ور کولی شی لکه عمرچی د هغه کموالی او زیاتوالی پرزده کړه باندی اغیزه کوی .

که مونږ یوه پنځه کلن اویو اووه‌کلن ماشوم ته یو ځای درس ور کړو طبیعی خبره ده چی اووه کلن نورمال‌ماشوم درس ښه زده کولی شی. له همدی اً مله باید د ماشومانو عمرکنترول شی او کو شش دی وشی چی زده کوونکی د تجربی په وخت‌کی سره همځو لی‌وی. ځکه‌دااحتمال شته چی دزده کوونکو د عمر د تفاوت په لحاظ مونږ له خپلی تجربی نه غلطه نتیجه واخلو. دزده‌کوونکورو غتیایی حالت هم باید تر کنترول لاندی وی . د انسان په وجود کی‌د ځینو هو رمو نونو ډیر والی او لږ والی هم پر زده کړه باندی اغیزه‌کوی . دزده کوو نکو طبقاتی‌موقف هم په زده کړه کی تاثیر لری . د مثال په تو ګه، په هغو کور نیو کی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کتابونه، مجلې، راډیو ،تلویزیوناو د زده کړې نور وسایل موجودوي ذ ماشوم د معلوماتو ساحه هـــم پراخه وي او د ښتمنو کور نیو ما شومان په ځینو خاصو مواردو کېدزده کړې د پاره زیات چانس لري.

دماشوم پخوا نی معلومات او دلوست لیك سره مخکینی اشنا یې طبعا په زده کړه کې ډیره برخه لري نوله دې کبله د کورنۍاو چاپیریال وضع باید دکنترول دعامل په تو ګه په نظر کې ونیول شي . د جنس مساله هم کله کله په زده کړه کې اغیزه لري په ځینو فني چارو کې ښځې د نارینه و په نسبت زیات مهارت پیدا کولی شي او په ځینو نورو کارو کې نارینه تر ښځو د مخه کیدای شي . همدارنګه (ځای) باید په تجربه کې تر کنترول لاندې راشي . په ځینو ځایو کې د زوړاو غالمغال په نسبت د سړي فکر اخلال کیږي . په ځینو ځایو کې سړی ته هیجان پیدا کیږي اوداسې نور . په دې تو ګه باید هغه ټــــول عوامل (لکه عمر ،جنس ، اجتماعي، اقتصادي موقف ، علمي سو یه، د تجربې ځای ، اقلیمي او ارو ایـــي حالات ، او دا سې نور) تر کنترول لاندې ونیسو چې زده ګوو نکو ته دزده کړې په برخه کې ښه یابدچانس ور په برخه کوي .

د ژب ښوونې په اوسنۍ میتود کې دزده کړې له ځینو پر نسیپونو څخه استفاده کیږي . که څه هم دغه پر نسیپونه مخکې هم راغلي دي خودلته په یې له موضوع سره د ارتباط له مخې په لنډه تو ګه راوړو :

۱ــ تشویق دزده کړې دپر مختګ دپاره یو مهم او ضروري شرط دی مګر دغه تشویق باید چې په برابره اندازه وي ځکه په تشویق کې افراط او تفریط زده کړې ته زیان رسوي.

۲ــ انعام او سزا هم په زده کړه باندې اغیزه کوي . لیکن دغه پر ـ نسیپ باید په بشپړه انساني طریقه تر تطبیق لاندې ونیول شي .جسماني سزا او سپکاو ی د ښوونځ ي اوروزنې له هدفونو سره ډیره فا صله لري .

دانعام او سزا پر نسیپ په عمومي ډول درسنت دې خوپه تطبیق کې یې باید له خاصو تاکتیکونواو هیو مانیستي ارزښتو تو څخه استفاده وشي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ــ تکرارهم زده کړه پرمختبیایي‌مګر په دی شرط چی په تکرار کی ټاکلي ضوابط مراعات شي .

که مونږ سنتر کی پتی‌کړواو زیاروباسو چی د پنځو سا نتي مترو په اندازه کر بنه وباسو دغه عملیه ته‌دره زره وار هم تکرار کړو نتیجه نه و رکوی‌تر څوچی اندازه‌یی‌نه‌کړواو داراته معلو مه نشی چی اشتباه مو کړی ده که نه .

دېر له پسی تکرار په نسبت څنډه‌لرونکی تکرار ښه نتیجه ورکوی. د مثال په ډول که مونږ یو درس څومیاشتی مخکی سل واره تکرار کړی وی احتمال لری چی اوس به مو له‌یاده وتلی وی خو که هماغه درس مو پنځه و خته شل ،شل واره‌تکرارکړی وی د هیر یدو احتمال یی دلوړ مړ نی تکرار په نسبت کم دی .

٤ــ د هغو موادو او مو ضو عاتو‌تر مینځ چی ار تباط مو جود وی ژر زده کیږی او ددی په عکس بی ربطه‌شیان په حافظه کی ډیر نه‌پاتی‌کیږی د همدغه ار تباط د پیدا کولو دپاره‌نن ورځ کو ښښ کیږی چی تعلیمی نصاب له ژوند ار ورځنیو مسایلوسره اړه و لری . څینی یو هان په (ارتباط) باندی ټینګار کوی او په‌ښوونه او روزنه کی د هستـــوی نصاب ملاتړ کوی . د مثال په ډول‌که ددرس موضوع نباتات وی په جغرا فیه کی د مختلفو ځایو نو ، اوپه تاریخ کی‌د مختلفو و ختو نو پر نبا تاتو باندی بحث کیږی ، پـه‌بیالوژی کی د نبا تاتو کورنی څیړل کیږی ، د رو غتیا په مضمو ن کی‌د نبا تی خوړو پر غذا یی ار ز ښـت او ګټه باندی خبری کیږی ، په‌رسم‌کی دنباتو نو شکلو نه انځور یږی او داسی نور .

٥ــ تجر بوی‌او عملی‌درس دنظری‌درس په نسبت ښه زده کیږی. له همدی کبله په ژب ښوونه کی هم‌دنورو علو مو په څیر له لابراتوار ، چا رټونو ، سلا یډونو ، فلمونو او داسی نورو تدریسی موادو څخـــه استفاده کیږی .

٦ــ په زده کړه کی باید د زده کوونکو سویه ته پا ملر نه وشي. هغه لکچر چی‌د زده کوونکو له سویی‌سره عیار نشوی نه وی زده کړه یی مشکله ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ژبې ښوونې نصاب

څرنګه چې علوم او فنون ورځ په ورځ انکشاف کوي او د نړۍ په حالاتو کې کال په کال بدلون راځي نو ښايي چې پر تعليمي نصاب هر وخت نوې کتنه وشي. البته په ځينو پوهنو کې چې پر احصا ئيوي او سياسي تحولاتو باندې بحث کيږي واقعيتونه ډېر ژر بدليږي. د مثال په ډول، په دې وروستيو کلونو کې په افريقا کې يو زيات شمير هيوادونه خپلواک شوي دي، په ځينو نورو کې سياسي رژيمونو تغيير کړی دی همدا رنګه د نړۍ نفوس، توليدات د توليد وسيلې، سياسي وضع او داسې نور تقريباً په هر کال يا دوو کلونو کې توپير پيدا کوي نو له همدې امله د سياسي او اقتصادي جغرافيې کتابونه بايد ژر ژر نوي شي. د دې په خلاف، د لرغوني تاريخ د پاره د دې ضرورت نشته چې هر کال دې درسي کتابونه له سره وليکل شي. البته د دې خبرې معنا دا نه چې ګويا د لرغوني تاريخ په باب معلومات انکشاف نه کوي. په کيميا، فزيک، طب، تکنالوجي او د طبيعي علومو په نورو څانګو کې هم هر وخت انکشافات مينځ ته راځي او د پوهنو ساحه پراخيږي. له دې کبله تعليمي نصاب او پروګرامونه هميشه نوې کتنه غواړي.

ليکن يو زيات شمير هيوادونه د دې توان نه لري چې تعليمي پروګرامونه له علمي انکشافاتو سره عيار کړي. د دې نيمګړتيا د مخنيوي يوه غوره لاره دا ده چې ښوونکي او کتابخانې په مهمو اختصاصي مجلو کې چې نړيوال شهرت لري ګډون وکړي او خپل معلومات زده کوونکو ته ور انتقال کړي.

د ژبې د متونو په باره کې بايد ووايو چې ژبنۍ هنرونه د ځينو نورو پوهنو په تناسب زيات تحول نه کوي يوازې د ميتودونو لوجۍ په برخه کې د زيات پرمختګ امکانات شته. په دې اساس پر درسي کتابونو باندې نوې کتنه زياتره د ميتودولوجۍ او کله کله د سياسي بدلونونو له امله مينځ ته راځي. يو زيات شمير عوامل د ژبې ښوونې پر ميتود باندې اغيزه کوي، مثلاً بنايي د عنعنوي ګرامر ځای نوي ګرامر ونيسي، يا دا چې د تدريس نوې ماشينونه او ژبني لابراتوارونه د ښوونې د اسانتيا د پاره اختراع

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي ، یاداچي دزده کړي په اروا پوهنه کې ځیني نوې نظریې ومنل
شي .

په تعلیمي نصاب کې معمولا دا لاندې درې‌اصله په نظر کې نیول
کیږي.

۱ـ دټولني اقتصادي ، سیاسي،ټولنیزې او فرهنګي اړتیاوې .
۲ـ دزده کوونکي علمي ، ذهني‌بدني ، اخلاقي، او ایستیتکي اړتیا
وې .
۳ـ دهرې پوهنې میتود ولوژیکي‌غوښتني.

لومړی اصل د دولت له سیاسي‌او اقتصادي تګلارې سره اړه پیدا
کوي اوتر‌پلان لاندې راځي :

په مترقي ټولنو کې چې د پلا نګذارې سیستم معمول دی : تعلیمي
نصاب په ټاکلو ساحو کې دیرسو نل روزنه په‌نظر کې نیسي اود ټو-
لني اړتیاو ته ځواب ور کوي.

په دوهم اصل کې دفرددشخصیت‌هر اړ خیز تکامل په‌نظر کې نیول
کیږي . ځیني بورژوا ایډیالوجیستان‌پرو پاګند کوي چې ګویا په مترقي
ټولنو کې (چې دناپا ټکولي لاره یې‌غوره کړې ده )دفرد اړتیاو ته‌پا -
ملرنه نه‌کیږي او یوازې دټولني اړتیاو ته اهمیت ور کول کیږي . دا
خبره په‌باوره شکل طرح شوې ده‌اوزیات بحث غواړي خو دلته باید دو-
مره ووېل شي په مترقي ټولنو کې‌دفردي ګټو او ټولنیزو ګټو تر مینځ
تضاد نشته . د دې ټولني شعار دا دی : «یو دټولو دپاره اوټول‌ذیوه
دپاره .)) یعني هر ځوک چې کـار‌کوي ګټه یې ټولو ته رسیږي اوټول
چې کار کوي ګټه یې هر یوه تـه‌رسیږي.

دریم اصل دې واقعیت ته اشاره‌کوي چې هره پوهنه د ښیونـې اوږ
ښوونې دپاره ځانته ځلا میتودولوژي لري . دکتاب په لیکلو کې باید
دهرې پوهنې دځیرنې له اړونـدو‌اصولو سره سم درسي متون تیاز او
برابر شي .دکتاب له لیکلو نه‌مخکې‌باید هغه واقعیتو نه ، ارزښتو نه ،
مفکوري ، علمي مفهومو نه اوجهاً نبیني چې زده کوو نکو ته‌وربښوول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږی تثبیت شی او له هغی ورو ستنه داسی موضو عگانی وټاکل‌شی چی د پوړتنیو هدفونو له سرتــــه‌رسو لو سره مرسته کوی .

د درسی کتاب په‌لیکنه کی ترکوم‌ځایه چی ممکنه وی باید محلی‌اړ ــ تیاوی په‌نظر کی وساتلی شی . په‌کومو هیوادو نو کی چی د پوهنی متمرکز سیستم منل شوی وی بایدزیار وایستل شی‌چی دهرځای‌اوسیمی اړتیاوی په درسی کتاب‌کی منعکسی‌شی . کله چی نوی درسی کتــــاب لیکل کیږی باید یو ځلی پخوانـــی‌کتابونه هم په انتقادی نظر وکتل شی . هغه موضو عگانی چی تعلیمی‌ارزښت لری او دنوی پرو گرا م له هدفونو سره سمون لری باید پـــه‌نویو کتابونو کی هم راشی .

**د ژبنیو مهار تونو دنصاب پـه‌باره کی ځینی یادو نی :**

دژبی د فنونو په نصاب کی مونږدا لاندی پوښتنی تر ځیړنی لاند ی نیسو :

۱ــ آیا د لومړ نیو ښوو نځیو دژب ښوونی دتعلیمی نصاب مقصــد یوازی باسواده کول دی ، کــــه دراتلونکو سویو دپاره چمتو کول او یادواړه ؟ هغه پوهان چی د لومړنیوښوو نځیو نصاب جوړ وی باید دغه پوښتنه له ځان سره حل کړی چی‌دلومړ نیو ښوو نځیو د ژب ښوونی پرو گرام یوازی دنوعیت په لحاظ‌دمنځنیو ښوو نځیو له پرو گرام‌سره توپیر لری که ددرجی او سویی لـــه‌مخی ؟

۲ــ دژبی په‌نصاب کی بایدهری‌ژبی ځانګړ تیاوی او جوړ ښت په نظر کی ونیول شی .

تر کومی اندازی چی امکان ولری‌د ژب ښوونی نصاب دی دهری‌ژبی خصو صیاتو او ادبی‌غنی‌اوذخیری ته‌پاملرنه وکړی او له پاسیف‌تقلید څخه دی ډډه وشی . د دی مطلـــب‌دتوضیح دپاره به دوو ټکوته‌اشاره کفایت وکړی : په‌لومړی مثال کی‌به‌د پښتو او انګریزی ژبو ځانګړ ــ تیاوی وګورو . په‌انګریزی کــــی‌بیلګه یی (نمونه یی ) جملی یوټا ــ کلی ګرامری نظم‌لری اوکه دغه نظم‌نه ځوك تیری وکړی نو هغه غلطی ګڼله کیږی . په‌پښتو کی زیاتـــه‌آزادی لیدله کیږی خو بیاهم نظـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

یومخی له‌نظره نه‌لوېږي .دمثال په توگه ،د پښتو په لاندی جلمه‌کـــی مونږ کولی شود کلمو موقعیت تـــه‌تغییرورکړ و بی له دی چی په‌معنا کی‌یی کوم څرگند توپیر ولیدل‌شی:

۱ـ مادرته نه وو ویلی چی زه داکار نشم کولی ؟

۲ـ مادرته ویلی نه‌وو چی زه داکار نشم کولی ؟

۳ـ مانه وو درته ویلی چی‌زه داکار نشم کولی ؟

٤ـ مانه وو ویلی در ته چی زه‌داکار نشم کولی ؟

٥ـ ماویلی نه وو در ته چی زه‌داکار نشم کولی ؟

٦ـ ما در ته ویلی نه وو چی داکار زه نشم کولی ؟

۷ـ ماویلی درته نه وو چی زه‌داکار نه شم کولی ؟

۸ـ ما درته ویلی نه‌وو چی زه داکار کولی نشم ؟

په انگریزی ژبه کی مونږ له څینوموار‌دو پرته د کلمو نظم ته تغییرنه شوور کولی . په‌پښتو کی داسی مثالونه ډیر پیدا کیږي چی کلمی په آزادانه توگه‌خپل موقعیت بدلو لی‌شی .

یوبل مثال :

۱ـ که بیا می هلته ولیدی ...

۲ـکه هلته می بیا ولیدی ...

۳ـ هلته که می بیاولیدی ...

٤ـ که می هلته بیاولیدی ....

٥ـ بیامی که هلته ولیدی ...

٦ـ که می بیا هلته ولیدی ...

۷ـ بیا می هلته که ولیدی ...

۸ـ هلته می که بیاولیدی ...

۹ـ هلته می بیا که ولیدی ...

۱۰ـ بیا که هلته می ولیدی ...

دپور تنیو جملو دویلو په وخت‌کی باید خڅ (فشار) ته پاملر نـــه وشی .دمثال په ډول ، په دی فقره‌کی: «که‌بیا می هلته ولیدی » خـــڅ پر (بیا) باندی راځی او که په(هلته) باندی خڅ راشی (شرط) تغییرکوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ښانته پیله (جزا) غواړي.دپور تنی فقری لسم شکل دادی :( بیاکه هلته می ولیدی ...) خو پهدی ورو ستنی جمله (بیا) معترضه بڼه پیدا کوی او دانګریزی by the wayپه معنا راځی . په دی صورت کی د جملی تنقیط باید داسی وی: (( بیاکه هلته می ولیدی ...))

دپښتو ژبی یوه بله مهمهښانګړ تیا داده چی ددری ژبی په خلاف د دغی ژبی مشکلات زیاتره افقی دی نهعمودی .په بله ژبه ، څوک چی د پښتو محاوروی ژبه زده کړی پـــهلیکنی ژبه کی له ستونزو سره ډیر زیات نه مخامخ کیږی . په دری کیلیکنی ژبه ډیری درجی لری . ځینی کتابونه ، په تیره کلا سیک آثاریډیر مشکل دی چی یوازی دتخصص خاوندان په پوهیږی او عام خلـــکمفهوم نشی ځنی اخیستلی . پـــه پښتو کی د دغسی آثارو شمیـــرمحدود دی .

۳ـ دلومړی ټولګی په لوست کیباید داسی لغتو نه استعمال شیچی شپږ کلن او اووه کلن ماشو مانپری وپوهیږی . داکار باید د هیواد به هر ګوټ کی دپراخی سروی پهتوګهوشی او ترممکنی اندازی دیزیاز ـ وایستل شی چی په دی توګـــه دکوچنیانو معیاری ژبه لاس تهراشی پهدی برخه کی بنایی چی دادبیاتواو بشری علومو د پوهنځی د ژبی له اطلس څخه هم استفادهوشی .

٤ـ دعلمی تجربی په اساسبایدداخبره اثبات ته ورسیږی چی دتو ـ ریو د پیژندلو طریقه بنه نتیجهور کوی او که د هغی پر ځای فونیمیک سیستم غوره دی .په دی وروستنیسیستم کی زده کوو نکو ته دتوریو (حروفو) دنوم پر ځای دتوریـــــوآوازونه ور بنوول کیږی . په دی کی شك نشته چی په اروپایی ژبوکی دغه وروستی میتود معمول دی خو پهپښتو او دری کی چی تور یسره ګډیږی او داروپایی ژبو پهشان بیل بیل نه لیکل کیږی باید پهپتوسترګو دغه میتود تطبیق نشی.بلکی دتجربوی میتود په واسطه دا دواړهمیتودونه واز مویل شی.

٥ـ یوه بل تکی ته تر اوسههیڅپام نه دی شوی او هغه دا چی کهپه لومړی سر کی ماشومانو تهلوستپه جلا جلا تورو (حروفو) ولیکل شی او په وروستیو سویو کی سرهګډ شی نتیجه بهیی څنګه وی ؟ په دی برخه کی یوه علمی تجربـــــهضروری بریښی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦ــ دلومړ نیو ښوو نځیو او سنی کتابونه په چاپی تورو خپاره شوی دی اود نستعلیق په ځای لەنسخ ځخه کار اخیستل شوی دی . په دی باره کی هم غور په کارد ی‌چی د لومړیو ټولگیو د لوست کتاــ بونه دی په‌نستعلیق یا نسخ ولیکل‌شی .ځینی کسان دیوه خاص لیك دود پلویان دی او هغه داسی دی‌چی‌نسخ او نستعلیق دواړه یی سره ترکیب کړی دی .

٧ــ دلوست په اوسنیو کتابــوکی د کلمو ترمینځ فاصله نشته. په اروپایی ژبو کی بی‌له فاصلی لوست‌ناممکن غوندی ښکاری . په پښتــو کی باید د علمی تجربی په اساس داسی څیړنه وشی چی آیا زده ــ کوونکی فاصله لرونکی متن ښه لو ستلی شی او که بی فاصلی .

(پای)

**یادونه :**

په دی لیکنه کی د مأخذو نــو نومونه په متداول او متعارف‌سیستم سره نەدی ښوول شوی ځکه چی‌درسالی اصلی مقصد په هیواد کی د ژبنیو پرابلمو نو تشخیصس او لەهغو سره آشنایی ده . سره له دی په دی اثر کی له یو څو مأخذونــو ځخه زیاته استفاده شوی ده چی په لاندی توگه یی معرفی کوم :


1. Ernts R. Hilgard, Gordon H. Bower. Theories of Learning, third edition. New York. ACC, 1966

2. Nina Talyzina, The Psychology of Learning, Progress Publishers, Moscow, 1981.

3. M. Rosenthal and P. Yudin, A Dictionary of philosophy, Progress Publisher, Moscow. 1967.

4. Harold W. Bernard, Psychology of Learning and Teaching, Mc Grow-Hill Book Company, 1965

٥ــ نرمان ل . مان ، اصول‌روا‌ن شناسی ، ترجمه و اقتباس دکترــ محمود ساعتچی ، جلد دوم، چــاپ‌دوم ، چاپخانه سپهر ، تهـــران ، ٢٥٣٥ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| سریزه | ۱ |
| لومړی برخه ــ ژبه | ۵ |
| دژبې ماهیت | ۲۰ |
| ژبه د ژبپو هانو په‌نظر کی | ۲۳ |
| ژبښوونه او ژبپوهنه | ۲٤ |
| دوهمه برخه : د زده کـــــړی اروا پوهنه | ۲۷ |
| دزده کړی نظریی | ۳٤ |
| دتارن ډایك دزده کړی نظریه | ٤۰ |
| دپاولوف دزده کړی نظریه | ٤۵ |
| دگیشتالت اروا پوهنه | ۵۰ |
| دزده کړی ځینی عمو مــــــی پرنسیپونه | ۵۸ |
| دریمه برخه : ژبښوونه | ٦٦ |
| ماشومان اوژبه | ٦۸ |
| ژبنی مهار تونه | ۷۰ |
| زمون په تولنه کی د ژبښوونــی‌پس منظر | ۷۸ |
| د ژبښوونې ځوانې او اوسنـــی‌میتودونه | ۸٦ |
| د ژبنیو مهار تونو نصاب په‌باره‌کی ځینی یادونی | ۹٤ |


یادونه : د ۳٤ مخ دعنوان له‌پاسه «دوهمه برخه » زیاته ده حذف دی



Rashad

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولتی مطبعه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**